

Ketabton.com

# په لاس کي ملغلره

## سیداحمد سعادت

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

**دکتاب پیژندنه**

---

**دکتاب نوم:** په لاس کي ملغلره

**لیکوال:** سیدمحمد سعادت (سیداحمد سعادت)

**کال:** ۱۴۰۳ ل

**وتساف:** ۰۷۰۳۷۷۳۵۷۴۶

**بریښنالیک:** sayedahmadsadaat46@gamil.com

**دلیکوال شماره:** ۰۷۰۰۴۳۵۷۰۵

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

**ډالۍ**

**هغه چاته چې د مطالعې سره شوق لري**

ketabton.com - The Digital Library

## مننليک

**په لومړی قدم کې د الله ج شکر دي چي ماته يې د علم دغه ستر نعمت په خپله اندازه را بخښلي دي.**

**په دوهم قدم کې زما د والدينو او مشر ورور (هستي محمد) څخه زياته مننه چي هر وخت يې زه حمايت کړی يم تشويق کړئ يې يم او هيڅکله يې زه ماتي ته نه يم پرايښي.**

**په دريم قدم کې د (شيراحمد بارک ) څخه نړۍ مننه چي ددي کتاب د چاپولو لپاره يې خپل وس ونه سپموی**

ketabton.com - The Digital Library

# فهرست


سریزه ........ 8
د قرآنکریم او د احادیثو د ژباړې برخه........ 9
(قران او ژوند)........ 14
دلمانځه برخه ........ 20
د محمد ﷺ او د هغه د څلورو یارانو د لنډې پیژندلو برخه ........ 26
د نبي کریم ﷺ غوره ویناوې ........ 27
د څلورو یارانو (راشده خلفاؤ) په زړه پورې معلومات ........ 28
د خلفائی راشیدینو وېناوې........ 29
دساینس برخه........ 30
ساینس او دین ........ 33
د اروا پوهنې برخه ........ 39
د ویناوو او مشورو برخه ........ 48
د خپل نفس سره دمحاسبې سوالونه؟........ 48
د طبیعت درې قوانین ترخه دي مگر ریښتیا دي ........ 53
که دي د واده لپاره مرکه استول ........ 55
لس نړیوال متلونه ........ 56
د تاریخ برخه او کیسو برخه ........ 58
د ژباړې برخه ........ 73
بګۍ والا او سردار محمد داود خان ........ 73
پښتانه څوک دي........ 86
پــیــریــان څــه ډول مــخــلــوقــات دي؟ ........ 90
د لنډو کیسو برخه ........ 91
د حضرت مهدي مور ........ 97
هغه لیک چې سخت یې وژړولم ........ 109
ماخذونه ........ 114

ketabton.com - The Digital Library

## سریزه

**د اسلام مبارک دین الله ج د نزدیکت سیده مستقیمه لاره ده.**
**ددي مبارک دین په لارښوونو عمل کول زموږ لپاره په دنیا او اخرت کي سعادت را په برخه کوي.**
**ددغه دین په عملي کولو سره موږ په دنیا کي سوکاله او ارامه ژوند درلودلای سو او په آخرت کي جنت په گټلای سو.**
**ددي کتاب دلیکلو اصلي مقصد دادي چي سنگه کولای سو پدي عصري زمانه کي د نړۍ سره اشنا سو او سنگه کولای سو چي د الله ج دین ته ژمن پاته سو او عمل په وکړو او د نړۍ سره د لیک او لوست په واسطه سره اوږه پر اوږه روان اوسو ، اوبل د ځوانانو شوق د مطالعې سره پیداکول دي .**
**پدي کتاب کي هڅه سویده جالیب او هر اړخیز معلومات راټول سویدي ، ترڅو تاسو د خپل ذوق مطابق مطالعه وکړئ ، لیکوال هڅه کړیده چي راټول سوي معلومات ستاسو سره شریک کړئ او تاسو په خپل ژوند کي استفاده ځیني وکړئ .**

**په درنښت**

**سیداحمد سعادت**

ketabton.com - The Digital Library

## د قرآنکريم او د احاديثو د ژباړي برخه

**سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوْقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ (بخاری و مسلم )**

**مسلمان لره نالائقه وينا لويه گناه او په ناحقه وژل د کفر سره برابر دي.**

**...**

**اِنَّ اللَّهّ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوْقَ الْاُمَّهَاتِ**

**په تحقيق سره الله ﷻ پرتاسو حرام کړی دی د مور او پلار عاق کيدل ازارول**

**...**

**اِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفٰحِشَةُ فِى الَّذِينَ ءَامَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِى الدُّنْيَا وَالآخرة**

**(سُورَةُ النُّور : 19)**

**ژباړه: يقينًا څوک چې په مؤمنانو کې د فحاشۍ او بربنډۍ خپرول غواړي، نو د هغوی لپاره په دُنيا او اخرت کې سخت دردناک عذاب دي**

**...**

**اَلّٰهُمَّ اِنَّکَ عَفُوٌّ تُحِبُ الْعَفْوَ فَاعَفْوُ عَنَّا**

**ژباړه: الهي ته عفوه(بخښنه)کوونکی يې،بخښل دې خوښېږي،ماته بخښنه وکړه**

**(الترمذي۳۸۵۰)**

**...**

**اِنَّ اللهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْــنَ**

**يقيناً الله ﷻ توبه کوونکی خوښوی**

**إِنَّ اَللّٰه عَلَيِّمٌ بِذَاتِ اَلْصُدُورِ**

**الله ج د زړه په رازونو هم پوهېږي.**

**(المائېده:۷)**

**...**

**قبلېدونکي دُعاء**

**اِنّ اَسْرَعَ الدُّعَاءِ اِجَابَةً دَعْوَةُ غَائِبٍ لِغَائِبٍ**

**په تحقيق سره ترټولو چټکه قبلېدونکې دعاء، دعا دغائب دا دغائب لپاره ده.**

**(راوه الترمذي)**

ketabton.com - The Digital Library

...

**رَبِ إنيِّ ظَلَمْتُ نَفْسيْ فَاغْفِرْليْ**
**اي پروردگاره:ما په خپل ځان ظلم وکړی،نو ماته بخښنه وکړې.**
...

**﴿وَالَّـذِيـنَ جـاهَـدوا فـيـنـا لَـنَـهـدِيَـنَّـهُـم سُـبُـلَـنـا وَإِنَّ الـلَّـهَ لَـمَـعَ الـمُـحـسِـنـيـنَ﴾**
**ژباړه: او هغه څوک چې زموږ په لار کې هڅه وکړي، نو موږ به هغوی ته خپلې لارې وښيو، او بېشکه الله له نېکی کوونکو سره دی.**
**(سورة العنکبوت، ایت ٦٩)**
...

**د خفگان او پریشانی په وخت کي دعاء**

**أنس رضي الله عنه وبلي : چي کله به د يو کار په وجه رسول الله ﷺ پريشانه او خفه سو نو داسي دعاء به يې ويل: «يَا حَيُّ يا قَيُّومُ برَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ**
**(صحيح الترمذي رقمـ۳۵۲۴)**
...

**رسول اللّٰه ﷺ فرمايلي دي:**
**په خپلو کې تحفه ورکوئ،ځکه د تحفې اخيستل او ورکول، کينه لېرې کوي.**
**مشكوة المصابيح: ٢٦١**

**ابو مسعود انصاري رضی الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:**
**د يو سړي لمونځ تر هغه پورې نه قبليږي، تر څو چې هغه په رکوع او سجده کې خپله ملا سيده نه کړي**
...

**له انس "رَضِيَ اللهُ عَنْهُ" څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يا الله، ببله د آخرت د (تل پاتی ژوند) څخه بل رينښتنی او خوږ ژوند نسته**
...

**عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيِّ ﷺ قالَ: ((اللَّهُمَّ لاَ عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةِ)). 'مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ'**

ketabton.com - The Digital Library

**...**

**د مکې له امیر حارث بن حاطب څخه روایت دی، وایي: موږ ته رسول الله ﷺ وصیت کړی چې د میاشتې پر لیدلو اختر وکړو، که مو ونه لیدله او یو عادل شاهد شاهدي ورکړه نو د هغه پر شاهدی اختر کوو.**
**(سنن ابي داود: ۲۳۳۸)**

**رسول الله"ﷺ" فرمایلي:**
**د قرآن کریم تلاوت تر هغه کوئ تر څه وخته چې ستاسو زړه د قرآن کریم سره لګیږي، کله چې مو زړه وغوښتل نو تلاوت بس کړئ.**
**صحیح البخاري ۵۰۶۰**

**رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم فرمایلي:**

**"مِن أشدِّ أمَّتي لي حبّاً ، ناسٌ يَكونونَ بَعدي ، يودُّ أحدُهُم لَو رآني ، بأَهْلِهِ ومالِهِ":**

**له ما څخه وروسته به زما امت کې داسې کسان راسي چې له ما سره به داسي مینه کوي چې خپل اهل او مال به زما د یوې لحظې دیدار لپاره قربانوي.**
**صحیح مسلم (۲۸۳۲)**

**حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:**

**کوم څوک چې د روژې د میاشتې یوه روژه بېله عذره او ناروغۍ پرته وخوري په ټوله زمانه کې یې جبران نسي ادا کولای.**
**ترمذی، ابوداود، مشکوة شریف**
**...**

ketabton.com - The Digital Library

**مسئلة د مباشرت طریقه څنګه ده؟**

**جواب**

**تر جماع مخکې مېرمنې ته یوه کوچني تحفه ورکړه بیا نو د جماع څخه ډېر خوند اخیستلئ سې د پردې اهتمام هم وکړه ډېر ښه دي ځکه د انسان سره درحمت حفاظت ملائکي وي چې انسان ټول لڅ سي هغه ملائکي بیا ځیني لیري سي شیطان ورته راسي او ادب احترام هم سره کمېږي البته دا فرض ندي بلکې ښه او مناسب کار دي تر جماع مخکي د لسانې(ژبه) زبېښل او د ثدینو(سینه) لمس کول زیات مهم دي او کله چې ته فارغ سې نو مه ولاړېږه تر هغو چې د ملګري کار مو نه یې سوئ ځکه دا جماع مو سره ګډه ده یواځې ستا حق نه دي که ژر ځېنې ولاړسوې بیا د مېرمنې نفرت درڅخه کیږي ټول عمر به مو سره جنګ وي او دا د مېرمنې حق دي او په داسي وخت کي جماع ډېر وخت اخلي چې نس مو خالي یعني خوراک مو هضم سوي وي او ځپه چپائی وي**

**حدیث شریف کي راځي نبي کریم ﷺ وایی تر جماع مخکې دا دعا وایاستې**

**بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَارَزَقْتَنَا**

**ژباړه**

**شروع کوم په نامه د الله یا الله ما له شیطان څخه وساتې او ماته چې دي کوم شئ په رزق راکړي دي هغه هم له شیطان څخه وساتې،**

**خپلو مېرمنو ته دا دعا لازماً ور زده کړئ!**

**حدیث شریف کي راځي، کوم څوک چې ښله دعا جماع کوي شیطان راځې ده دې انسان پر آله خپله آله پېچي بیا شیطان هم جماع ورسره کوي چې کله یې اولاد پیداسي هغه ډېر ناصالح وي نو دعا لازماً زده کړي ترڅو اولاد مو صالح سي او ستاسو له شیطان څخه په امان سي. والله اعلیٰ واعلم**

**توصیه علماء چې دامسئلې لیکلې نه شرمېدل او موږ چې یې نقل کوو بیا شرمیږو !**

**...**

**مسئله : ایا بې له شرعی عذره مېرمن خپل خاوند له کوروالي څخه منع کولائ سي؟**

**جواب:د خاوند جسماني ضرورت او خواهش ور پوره کول پر مېرمنې لازم دي دا نسي کولای چې خاوند له ځان څخه منع کړي حدیث کي راځې کڅه هم دا مېرمن پر تناره وي ډوډي پخوي دا به لازماً ورځي د خاوند خواهش به ورپوره کوي که نه ورغله دالله تعالیٰ لعنت وربانديږ کیږي ډېره سخته ګناه ده داسي به نکوي!**

**البته مېرمن د حیض نفاس او د نورې ناروغي په وخت کي خاوند له ځان حخه منع کولئ سي شرعاً عرفاً او اخلاقاً**

ketabton.com - The Digital Library

**نوټ:**

**که مېرمن کمزورې وه ده هرې ورځې د کوروالي طاقت يې نه درلودی بيا دي خاوند بله نکاح وکړي!**

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ ، فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا ، لَعَنَتْهَا الْمَلائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ" (رواه البخاري ،بدء الخلق،٢٩٩٨).**

**وعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :"إِذَا بَاتَتْ الْمَرْأَةُ مُهَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تَرْجِعَ. (رواه البخاري، النكاح ، ٤٧٩٥).**

**وعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا مِنْ رَجُلٍ يَدْعُو امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهَا فَتَأْبَى عَلَيْهِ إِلا كَانَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ سَاخِطًا عَلَيْهَا حَتَّى يَرْضَى عَنْهَا. رواه مسلم. (النكاح (١٧٣٦).**
**وعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا الرَّجُلُ دَعَا زَوْجَتَهُ لِحَاجَتِهِ فَلْتَأْتِهِ وَإِنْ كَانَتْ عَلَى التَّنُّورِ. رواه الترمذي". ( الرضاع(١٠٨٠) .**

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ ، فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا ، لَعَنَتْهَا الْمَلائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ". رواه البخاري (بدء الخلق(٢٩٩٨) .**

**وعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :"إِذَا بَاتَتْ الْمَرْأَةُ مُهَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا لَعَنَتْهَا الْمَلَائِكَةُ حَتَّى تَرْجِعَ. رواه البخاري.(النكاح(٤٧٩٥).**

**وعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا مِنْ رَجُلٍ يَدْعُو امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهَا فَتَأْبَى عَلَيْهِ إِلا كَانَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ سَاخِطًا عَلَيْهَا حَتَّى يَرْضَى عَنْهَا. رواه مسلم. (النكاح(١٧٣٦).**

**وعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا الرَّجُلُ دَعَا زَوْجَتَهُ لِحَاجَتِهِ فَلْتَأْتِهِ وَإِنْ كَانَتْ عَلَى التَّنُّورِ. رواه الترمذي". ( الرضاع( ١٠٨٠).**

**...**

**مسئلة : د خاوند او مېرمنې ترمينځ کوم کارونه حرام دي کوم حلال؟**

**جواب يې:**

ketabton.com - The Digital Library

**درې کارونه د خاوند او مېرمنې تر مينځ حرام دي**

**١ : اتيان في الدبر ٢:  اتيان في المحيض ٣:  اتيان في النفاس**

**اتيان في الدبر/ راتګ د شا له خواه حرام دي**

**الله تعالىٰ وايې/ فأتوا حرثكم. راتګ وکړئ خپل کښت ته!**

**د شا طرف کښت نه دي نو حرام سو**

**او رسول ﷺ وايې/ ملعون من اتىٰ امرأته في دبرها.**

**لعنت دي په هغه کس چې راتګ کوي خپلې مېرمنې ته دشا له طرف ښخه ډېره بده ګناه ده**

**اتيان في المحيض/دحيض په وخت کي جماع کول حرام دي**

**الله تعالىٰ وايې/ هو اذًى فاعتزلوا النساء في المحيض.**

**جلاء سئ د خپلو مېرمنو ښخه د حيض په وخت کي نو حرام سو**

**اتيان في النفاس/ راتګ د نفاس په وخت کي حرام دي**

**فتاوٰى هندية جــ١ صــ٣٨ ٣٩ / ومنها حرمة الجماع.**

**همداسي د ځلوېښتې په وخت کي جماع حرامه ده**

**الله تعالىٰ وايې/ هن لباس لكم وانتم لباس لهن.**

**مېرمنې ستاسو پردې دي او تاسو د دوي پرده ياست!**

**نور ټول کارونه جواز لري او ستاسو په هر کار کي کومک کولای سي**

**نوټ  مېرمن ستاسی حجامت در کولئ سي که يې خوښه وه!**

**...**

## (قران او ژوند)

**( الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي)**

**١: ادخلوا في السلم كافة**

**مکمل په اسلام کې داخل سه!**

ketabton.com - The Digital Library

**۲: ولا تعتدو**
**ظلم او زیاتی مکوه!**

**۳: ولا تعثو في الأرض مفسدين**
**په مځکه کې فساد کونکي مه گرځئ!**

**۴: ولا تلبسو الحق بالباطل**
**حق او باطل مه سره گډه وئ!**

**۵: ولا تقف ما ليس لك به علم**
**بې له علمه خبري مکوه!**

**٦: ولا تمش في الأرض مرحا**
**په مځکه کې په تکبر سره تگ مه کوئ !**

**۷: ولا تصعر خدك للناس**
**خلکو ته تندی مه تریو کوه!**

**۸: واخفض جناحك للمؤمنين**
**مؤمنانو سره نرمي کوه!**

**۹: واغضض من صوتك**
**خپل اواز همیش کښته ساته!**

**۱۰: وأقصد في مسيك**
**په مزل (تگ) کولو کی میانه روي کوه!**

**۱۱: وأعرض عن الجاهلين**
**د جاهلانو خلکو څخه مخ اړوه!**

ketabton.com - The Digital Library

**۱۲: خذ العفو وأمر بالمعروف**

**بخښنه کوه، امر په نیکۍ کوه!**

**۱۳: إدفع بالتي هي أحسن**

**دفاع په ښایسته طریقي سره کوه!**

**۱۴: أدعو إلى سبيل ربك بالحكمة**

**دین ته خلک په حکمت سره را بوله!**

**۱۵: لا تبطلو صدقاتكم بالمن والأذى**

**صدقه په ضرر او زیاتوب سره مه بربادوه!**

**۱٦: ولا تأكلو أموالكم بينكم بالباطل**

**پردی مال د هغه د اجازې بغیرمه خوره!**

**۱۷: ولا تنابزو بالالقاب**

**خلګ په غلطو نومانو مه بولئ!**

**۱۸: لا يسخر قوم من قوم**

**په قوم پسي مسخرې مکوئ!**

**۱۹: ولا يغتب بعضكم بعضا**

**ځیني وه ځینو ته د نورو غیبت مکوئ!**

**۲۰: ولا تجسسو**

**د مؤمنانو جاسوسي شیطانت مکوئ!**

**۲۱: اجتنبو كثير من الظن**

**د ډېرو ګمانونو څخه ځان وساتئ!**

ketabton.com - The Digital Library

**۲۲: إعدلو**

**په هر څه کې انصاف څخه کار اخلئ!**

**۲۳: و إذا حييتم بتحية فحيو بأحسن**

**د سلام جواب په ښایسته طریقې سره ور کوه!**

**۲۴: وبالوالدين إحسانا**

**د مور پلار سره نیکي ښیګڼه کوه!**

**۲۵: وذي القربي واليتامی**

**د خپلوان او یتیمانو سره ښیګڼه کوه!**

**۲۶: وأطعمو البائس الفقير**

**غریب او مسکین ته خوراک ورکړه!**

**۲۷: ولا تتبدلو الخبيث بالطيب**

**پاک د مردار سره مه ګډه کوئ!**

**۲۸: وآتو اليتامی أموالهم**

**یتیم ته خپل مال ورکړئ مه یی ځیني  خورئ!**

**۲۹: أنفقو مما رزقنكم**

**صدقې او  خیراتونه ورکړئ!**

**۳۰: وقولو قولا سديدا**

**سیده وینا کوئ!**

**۳۱: وقولوا للناس حسنا**

**خلکو ته ښایسته خبري کوئ!**

ketabton.com - The Digital Library

**۳۲: وتعاونو على البر والتقوى**

**د نورو سره د تقوا او نیکۍ په کار کې مرسته کوئ**

**۳۳: ولا تعاونو على الإثم والعدوان**

**د نورو سره د گناه ظلم په کارونو کې مرسته مکوئ**

**۳۴: واحفظو أیمانکم**

**د بې ځایه  قسمونو څخه ځان وساتئ!**

**۳۵: وأوفو بعهد الله اذا عاهدتم**

**د الله تعالى سره چې مو وعده کړیده هغه پوره کړئ!**

**وأوفو الکیل اذا کلتم**

**پیمانه (تلل) سمه کوئ په وخت د پیمانه (تللو) کی!**

**۳۷: وزنو بالقسطاس المستقیم**

**په روغه او برابره تله (ترازو) تلل کوه!**

**۴۸: کونو مع الصادقین**

**د رښتیا ویونکو ملگرتیا کوه!**

**۳۹: أوفو بالعقود**

**په وعدو وفا (پوره کول) وکړئ !**

**...**

**د اذان په وخت کې خبرې مه کوي**

**ابن جریج رحمه الله تعالی وایي**

**صحابه کرام به د اذان په وخت کې داسې چپ ناست وه لکه د قران کریم تلاوت ته به چې ناست وي  یوازې هماغه**

ketabton.com - The Digital Library

**کلمات به یې ویل کم چي به چې مؤذن ویل**

**(فتح الباري:( ۹۲/۲)**

**...**

**سیرت له پاڼو**

**جابر بن سمره رضی الله عنه فرمایي**
**د رسول الله ﷺ خولې مبارکې له ټولو عطرونه زیاتې خوشبو داره وې جابر رضی الله عنه فرمایي زه ماشوم وم، رسول الله ﷺ مې مخ ته لاس راوړي ،د شفقت لاس یې پر راکش کړي ، ومې لیدل چې مبارک لاسونه یې یخ او داسې خوشبوداره وه تا به ویل همدا وس یې د عطار له خلتې څخه را ایستلي دي.**
**انس رضی الله عنه فرمایي : خولې یې لکه ملغلرې داسې وې .**
**ام سلیم رضی الله عنها فرمایي: د رسول الله ﷺ د مطهر بدن بوي یا خولې له غوره عطرو څخه هم غوره وې .**
**جابر رضی الله عنه فرمایي: رسول الله ﷺ به چې په کومه لاره ولاړي ، که بل څوک هم پر هغه لاره ولاړي ، نو د رسول الله ﷺ د مبارک بوي څخه به په دې پوهیدي چې رسول الله ﷺ پر همدې لاره تللی یعنې دده له خوشبویۍ څخه به پدې پوهیدي چې هغه مبارک پردې لاره تللی دي ، دده خوشبویي او یا دده د خولو خوشبویي به د دوي د لارې رهنما وه .**

**الرحیق المختوم**
**...**

**ولې د لمانځه په هر رکعت کې دوه سجدې تر سره کیږي ؟**

**ایا کله مو دغه پوښتنه په ذهن کې در گرځیدلې ده ؟**
**چې ولې په هر یو رکعت کې دوي سجدې کوو ؟**

**ایا پدې کې څه حکمت شتون لري ؟**
**دا پوښتنه له علي بن ابی طالب (رضي الله تعالی عنه) څخه یوچا وکړه ، چې ولې په هر رکعت کې دوي سجدې کوو؟**

ketabton.com - The Digital Library

**او په خاوره کې کوم صفت او ځانګړنه ده ؟؟**
**د علي کرم الله وجهه ځواب نوموړي تن ته پدې ایات سره وو:**

**﴿مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَمِنهَا نُخرِجُكُمْ تَارَةً أُخرَى﴾**

**لومړی سجده تر سره کول او بیا سر راپورته کولو مانا دا ده چې (مِنُهَا خَلَقْنَاكُمْ) یعنې له دې خاورې څخه مو پیدا کړي یاست( ټول بدن مو د خاورې څخه پیدا سوی دی) او کله چې دوهمه سجده تر سره سي مانا یې دا ده چې(وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ )تاسې به خامخا مړه کیږئ او دې خاورو ته به ورځې نو په یاد لرئ چې (وَمِنهَا نُخرِجُكُمْ تَارَةً أُخرَى ) او په دوهم ځل به بیا د دې خاورو څخه راپورته کیږئ او دالله تعالی حساب ته به ورځئ .**

**(په هر رکعت کې د دوه سجدو تر سره کولو معنیٰ دا ده چې مونږ او تاسې ته په هر رکعت کې ژوند او مرګ په یاد وي)**

**د الله تعالی پر دین (اسلام) د مشرف کېدو نعمت باندې شکر او الحمد لله ویل پکار دي چې مونږ او تاسې ته یې د سجدې کولو توفیق راکړی، تر څو مو تل پاتی بریا چې د اخرت بریا ده په برخه سي.**
**...**

**څومره هیبت ناکه ورځ به وي چې ږغ وسي**
**(وَ قِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ مَسْئُولونَ)**
**دوی ودروئ له دوی څخه د اعمالو پوښتنه کیږي**

## دلمانځه برخه

**دلمانځ فرضونه او واجبات ٌ سنتونه ....(زده کړه یې فرض ده)**

**وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلاَةِ وَاصْطَبِرِ عَلَيْها!**

**ګرانومسلمانانو! لمونځ چي داسلام اوکفر سرحد دي یو هم عبادت دي هغه وخت به صحي لمونځ وي چي لمونځ ګزار دلمانځه په احکامو لکه فرائض ،واجبات ،سنت ،مکروهات او دلمانځه په ماتونکو پوه سي**

ketabton.com - The Digital Library

**دسجده سهوي دوجوب صورتونه وپيژني دلمانځه د صحت او خرابي درک کړی.**

**نوپه همدي خاطر دلمانځه داحکامو زده کړه په نر اوښځه فرض ده اويادساتل يې ضروري دي.**

**دلمانځ فرضونه:**

**دلمانځه 14 فرضونه دي چي 8 دلمانځه څخه دباندی او شپږ په لمانځه کښې د ننه دي کم چي دلمانځه څخه دباندي دي هغه ته دلمانځه شرطونه وايي اوکم چي په لمانځه کې دننه دي هغه ته دلمانځه ارکان وايي.**

**لومړی دلمانځه شرطونه : پدې شرطونو کې که يو هم پاتي سي لمونځ نه صحي کيږي.**

**۱:په پاکو اوبو سره اودس تازه کول دی.**

**۲:دبدن پاکوالی : يعنی دلمونځ کونکي بدن به دحقيقي او حکمي ناپاکی څخه پاک وي که اودس نلري اودس به کوي او که غسل نلری غسل به کوي.**

**۳:دجامو پاکوالی : کالي به پاکې وي که نجاست غليظه يا خفيفه وي هغه به پريمنځي.**

**۴:دلمانځه دځای پاکوالی: که فرش ،مسله او يا مځکه وي هغه به پاک وي.**

**۵:ستر عورت : بدن به په جامو پټ وي دنر لپاره کم تر کمه دزنگون څخه تر نامه پورې او دښځی ټول بدن بغير لاسونو ،مخ او پښو څخه نور ټول بدن عورت دی چي کالي به نازک نه وي چي دبدن کم ځای ورڅخه ښکاره نسي دگاج پوړني سره لمونځ نه کيږی ځکه دهغه څخه وريښتان ښکاريږي.**

**که دنر دپښو بجلکي پټي وي لمونځ يې مکروه دی اوکه دښځی بجلکي ښکاره سې لمونځ يی مکروه دی.**

**٦:مخامخ قبلی ته دريدل:**

ketabton.com - The Digital Library

**۷:دلمانځه نیت کول : نیت خو هغه دزړه اراده ده خوپه ژبه ویل مهم دی.**
**۸: دلمانځه د وختو پیژندل**

**دلمانځه ارکان : د لمانځه ارکان شپږ دي.**

**۱:تکبیر تحریمه یعنی دنیت تړلو په وخت کښې الله اکبر.**

**۲:قیام یعنی د سبحانک اللهم الحمدالله او سورّة ویلو لپاره په ولاړی دریدل.**

**۳:قرآئت یعنی د الحمدلله اوآمین څخه ورسته یو سورت یا کم تر کمه دری آیته ویل.**

**۴:رکوع**

**۵: سجده**

**٦: په آخره ناسته کې دونده وخت کې چي تشهد ویلای سي کښیناستیل.**

**که له شرطونو اوارکانو یو هم قصداً یا په هیره سره پاتې سي لمونځ نه صحی کیږي.**

**دلمانځه واجیبات:**

**۱:دسورة فاتحی یعنی الحمدلله ویل.**

**۲:دفرضو په اولو دوو رکعتو کې او د وترو ،سنتو او نفلو په ټولو رکعتونو کې ترفاتحی ورسته یو سورة یا دری ایتونه ویل واجب دي.**

**۳:سورة فاتحه دبل سورة څخه مخکې ویل واجب دي.**

**۴:ټول ارکان پرلپسی واجب دي یعنی که دیوه رکن څخه وروسته د دوهم رکن په اداکولو کښی په بی فکری یا هیری سره دونده وخت تیرسي څومره وخت چي درکوع یا سجدی په کولو کښی تیریږی نو سجده سهوه لازمیږي د دُعا وغیره په ویلو کې که څه ذیات وخت تیر سی سجده سهوه نه لازمیږي.**

ketabton.com - The Digital Library

**او همدارنگه په قیام ،قرأت ،رکوع اوسجده کې ترتیب ساتل واجب دی که درکوع څخه مخکی سجده وکړی او دسجدی څخه مخکی قعده وسی نوسجده سهوه لازمیږي.**

**۵:په سجده او رکوع کی دونده ځنډ تیرول په څومره وخت کی چي سړی سبحان ربی العظیم اوسبحان ربی الاعلی ووایي کم خلک چی ډیر ژر ژر رکوع اوسجده کوي دهغوی لمونځ نه صحیح کیږی.**

**٦:قومه کول یعنی درکوع څخه وروسته په ښه شان دریدل ،پدی کی هم ډیر خلک په پوره توگه نه دریږي په تیزی سره سجدی ته ځی ،داسی کول هم لمونځ فاسیدوی.**

**۷:جلسه کول یعنی د دوو سجدو په مابینځ کی په ښه شان کښیناستل چي د بدن ټول اندامونه کرار سي او دپوره ناستی گمان پری وسي ،ځني کسان دچرگ په شان منبوکه وهي چي لمونځ یی نه صحي کیږی ځکه جلسه واجبه ده دواجبو په قصدي ترک سره لمونځ فاسدیږي.**

**۸: لومړی قعده.**

**۹:په دواړو رکعتونو کی تشهده ویل.**

**۱۰:تعدیل ارکان یعنی ټول ارکان په کراره تسلی او آرامی سره ادا کول لکه قومه ،جلسه ،رکوع اوسجده په آرامی سره کول یا کومی دوعاگانی چي په لمانځه کی ویل کیږی په آرامی سره ویل په تلوار کولو سره ډیر څه پاتی سی چي په هغه سره لمونځ فاسیدیږي.**

**۱۱:په کومو کې چي کرار کرار قرآن ویل کیږی لکه ماسپښین او مازدیگر په هغه کی کرار کرار ویل او کومو کی چي په زوره زوره قرآن ویل کیږی لکه سهار ،ماښام او ماسختن هغه کی په زوره قرآن ویل واجب دي.**

**۱۲:دالسلام علیکم په ویلو سره لمونځ ختمول.**

**۱۳:د وترو په دریم رکعت کی الله اکبر او دوعا قنوت ویل واجب دي.**

**۱۴:داخترونو په لمانځونو کی شپږ تکبیرونه ذیات ویل واجب دي .**

ketabton.com - The Digital Library

**دلمانځه سنتونه:**

**۱:دتکبیر تحریمه لپاره لاسونه پورته کول.**

**۲:دلاسونو پورته کولو په وخت کی گوتی خلاصول او قبلی ته مخامخ کول.**

**۳:دامام لپاره دهر رکن اداکولو په وخت کې تکبیر ویل.**

**۴:په اول رکعت کې ثنا سبحانک اللهم ویل.**

**۵:لومړي رکعت کښی تعوذ یعنی اغوذ بالله ویل.**

**٦:دهر رکعت په شروع کی بسم الله ویل.**

**۷:دسورة فاتحه څخه ورسته آمین ویل.**

**۸: نارینه راسته لاس پر چپه لاس ایښول تر نامه لاندی ،او ښځي پرسینه باندی ایښول.**

**۹:رکوع ته دتلو په وخت کې الله اکبر ویل.**

**۱۰:د رکوع په حالت کې سر دشا سره برابر ول اوپه دواړو لاسونو سره د دواړو زنگنونو نیول.**

**۱۱:په رکوع کی دری واري سبحان ربي الغظیم ویل.**

**۱۲ :قومه یعنی درکوع څخه پورته کیدو په وخت کی دامام دپاره سمع لمن حمده او دمقتدی لپاره ربنا لک الحمد دیوازی کس لپاره د دواړو ویل.**

**۱۳:سجدی ته دتلو په وخت کې اوبیا سجدی څخه دپورته کیدو په وخت کې الله اکبر ویل.**

ketabton.com - The Digital Library

**۱۴:سجدی ته دتلو په وخت کی لومړی دواړه ګونډې بیا دواړه لاسونه او بیا تندی پر مځکه ایښول.**

**۱۵:په دواړو سجدو کی دری واره سبحان ربي الاعلی ویل.**

**۱٦:دسجدی په وخت کی دلاسونو دواړه ورغوي دپزی څنګو ته ایښول ورنونه دنس څخه جلا اود څمکې څخه لیری ساتل او څنګلی له ورنو څخه لیری ساتل اوهمدارنګه دواړي پښې ولاړي ساتل او دښځو لپاره ورنونه د نس سره پیوسته کول اوپښی پر مځکه باندی غوړیدلی ساتل.**

**۱۷:په جلسه او قعده کی د نارینه راسته پښه درول او چپه پښه غوړول او پر هغې کښیناستل او ښځه دواړی پښی راسته طرف ته ایستل اوپر هغو کښیناستیل.**

**۱۸:په تشهد کی د اشهدان لااله الا الله ویلو دشهادت ګوته پورته کول.**

**۱۹:په قعده اخیره کې دتشهد څخه ورسته درود شریف ویل.**

**۲۰:د درود څخه وروسته دُعا ویل الهم ربنا.**

**۲۱:لومړی راسته طرف او بیا چپه طرف ته سلام ګرځول.**

**...**

ketabton.com - The Digital Library

## د محمد ﷺ او د هغه د څلورو يارانو د لنډې پېژندلو برخه

- نوم: حضرت محمد ﷺ
- د پلار نوم: عبدالله
- د نيکه نوم: عبدالمغوښتنه
- د کورنۍ نوم: هاشمي
- د مور نوم: آمنه بنت وهب
- د رضاعی مور نوم: حليمه سعديه
- د لومړۍ ميرمني نوم: خديجة الکبرای رض
- د لومړۍ ميرمني د پلار نوم: خويلد
- د قوم نوم: قريش
- د زېږيدني ځای: مکه مکرمه
- د هيواد نوم: سعودي عربستان
- نژاد: عرب
- تر بعثت مخکي لقب: رښتيا ويونکی او امين
- د الهي وحيو د راکښته کيدو ځای: غار حرا
- د حرا د غار موقيعت: د مکي شمال غرب خواته
- دنده: پيغمبري
- دين: اسلام
- د دندي موده: ۲۳ کاله
- رنګ: ګلګون او ځلانده
- د وريښتانو رنګ: تور
- قد: منځنۍ لوړ ته مايل
- پزه: جګه قلمي
- د ميرمنو نومونه يې: خديجه ، عايشه ، حفصه ، سوده ، زينب ، ام السلمه ، جويريه ، صفيه ، ميمونه (رض)
- زامن: عبدالله ، قاسم ، ابراهيم (په کوچنيوالې وفات)
- لوڼي: زينب ، رقيه ، ام کلثوم ، فاطمه رض
- د اوسيدو ځای: مکه مکرمه د بني هاشمو ځای ، تر هجرت وروسته مدينه منوره
- تحصيلات: د پيغمبری تر درجې د الله ج ترنظر لاندي د جبرايل ع په واسطه ورسول سوه

ketabton.com - The Digital Library

◄د پلار مړینه: د مور په نس کښي د دوو میاشتو وو
◄د مور مړینه: په ٦ کلنۍ کښي
◄د نیکه مړینه: په ٨ کلنۍ کښي
◄اصلي روزونکی: دده اکا ابو طالب
◄د واده پر مهال عمر: ۲۵ کلن او خدیجي رض عمر ۴۰ کلنه
◄د نبوت پر مهال عمر: ۴۰ کلن
◄د مدیني څخه مکي ته د هجرت پر مهال نیټه :٦١١میلادي ، چي د هجري قمري د اول کال سره برابره ده
◄لومړنی سفر: د خپل اکا سره د شام د بصري ښار ته په ۱۲ کلنۍ کښي وو
◄د بعثت وروسته لقب: خاتم الانبیاء والمرسلین ، ابو القاسم
◄ټول عمر یې: 63 کاله
◄د مړیني نیټه: د 11 هجري قمري کال د ربیع الاول پر ۱۲ د دوشنبي په ورځ
◄قبر مبارک یې: د مدیني منوري ښار د ام المومنین رضي الله عنها حجره.

...

## د نبي کریم ﷺ غوره ویناوې

● اخلاق دې ښه کړه، چې ایمان دې کامل سي.
● خلکو ته ګټه رسوه، چې په خلکو کې غوره سې.
● قناعت کوه، غني به سې.
● په الله پاک توکل کوه، په خلکو کې به تر ټولو پیاوړی یې.
● له حرام رزق څخه ځان ساته، دعا به دې قبوله سي.
● په اودس اوسه، روزي به د باران په څیر درباندې اوري.
● استغفار تل وایه، ګناه به دې کمه وي.
● قیام اللیل (تهجد) مه پرېږده، مخ به دې نوراني وي.

...

ketabton.com - The Digital Library

## د څلورو یارانو (راشده خلفاؤ) په زړه پورې معلومات

**رسول الله ﷺ ته په نسب کې تر ټولو نږدې علي بن ابي طالب و، بیا عثمان، بیا ابو بکر او بیا عمر و، رضي الله تعالی عنهم**

**ابوبکر:**

**له رنګه سپین او ژړوالي ته مایل و، مخ یې ډنګر و، سترګې یې ژورې وې، تندی یې راوتلی و، بدن کې یې غوښه کمه وه، پر باړخوګانو یې وریښتان لږ وه، څهره به یې غمجنه ښکاریدله.**

**عمر:**

**له رنګه سپین او ښایسته و او په قد جګ و، دونده لوړ قد یې و چې له لیرې به داسې ښکاریدی لکه پرآس چې سپور وی! پر بدن یې وریښتان زیات وه، پر تندي یې وریښتان نه وه ، ږیره یې ګڼه وه، په چپه لاس یې لیکل کول او په دواړو لاسونو یې یو ډول کار کوی! اوږده بریتونه یې وه، چې غصه به سو بریتونه به یې پیچل.**

**عثمان:**

**له رنګه غنمرنګه او ښایسته و، اوږده او راکږه پزه یې وه! له قده درمیانه و، ګڼه ږیره یې وه او نرم، پوست انسان و.**

**علي :**

**توري ښایسته سترګې یې وې، پر سر یې وریښتان نه درلودل، مګر د شا د خوا یې پر سر یوڅه وریښتان وه، قوي مړوندونه او لاسونه یې وه! کم غوندې غنمرنګه و، پلنه ږیره یې درلودله او له قده ټیټوال ته نږدې و.**

**د خلافــــت وختونه یې**

**عثمان تر ټولو زیات وخت خلافــــت کړی و او ابو بکر لږ، عثمان (۱۲ کاله) بیا عمر (۱۰ کاله) بیا علي (۵ کاله) بیا أبو بکر (۳ کاله) چې دا ټوله موده ۳۰ کلونه کېږي! لکه په حدیث کې یې په همداسې دقیقه توګه یادونه سوې**

ketabton.com - The Digital Library

**ده! رسول الله ﷺ فرمايي: زما امت کې به خلافـــــت دېرش کاله يي. (الخلافة في أمتي ثلاثين سنة). او دا حديث له (دلائل النبوة) څخه شمېرل کېږي.**

**د لومړيو دريو خليفه ګانو رضي الله عنهم زمانه کې مدينه منوره پلازمينه وه ، د علي رضي الله عنه زمانه کې پلازمينه د عراق کوفې ښار ته انتقال سوه.**

**د عثما رضي الله عنه انا "البيضاء" نوميده چې د رسول الله ﷺ د پلار غبرګولې خور وه!**

**د ابو بکر مور (ام الخير سلمى) نوميدله ، د عمر مور (حنتمة) نوميدله ، د عثمان مور (أروى بنت کريز) نوميدله او د علي مور (فاطمة بنت أسد) نوميدله.**

**رسول الله ﷺ په ٦٣ کلنۍ کې وفات سوی**
**ابو بکر په ٦٣ کلنۍ کې وفات سوی**
**عمر په ٦٣ کلنۍ کې وفات سوی**
**علي په ٦٣ کلنۍ کې وفات سوی**
**عثمان په ٨٢ کلنۍ کې وفات سوی**

**دا معلومات د امام ابن عبدالبر رحمه الله له کتاب (الاستيعاب في معرفة الأصحاب)**

## د خلفائی راشيدينو ويناوي

**يو څو په زړه پورې ويناوې**

**١: ابوبکر صديق (رض) وايي:**
**د هغه شخص سره ملګرتيا وکړه چې نيکي وکړي او هېره يې کړي.**

**٢: عمر الفاروق (رض) وايي:**
**مرګ په ياد ولره، خو د مرګ هيله مه کوه.**

ketabton.com - The Digital Library

**۳: عثمان (رض) وایي:**

**د آخرت اول منزل قبر دی، که چېرې هلته کامیابه سوې؛ نو نورې مرحلې درته آسانه کیږي.**

**۴: علي (رض) وایي:**

**تل رښتیا وایه تر څو د قسم اخستلو اړتیا پیدا نسي.**

**...**

## دساینس برخه

**په مریخ کې اوبه نه پیدا کیږي ځکه چې د مریخ د فضا فشار او تودوخه د اوبو د مایع حالت لپاره مناسب نه دي د مریخ فضا ډېره وچې ده او د دې سیارې سطحه د اوبو په منجمد حالت یخ یا بخار کې شتون لري خو مایع اوبه نه لري.**

**...**

**د حضرت ابراهیم علیه السلام د "حقیقت پیداکولو" کیسه د قرآن د نګاه څخه**

**حضرت ابراهیم علیه السلام د اسلامي تاریخ له ستر ستورپوهانو څخه ګڼل کېږي، چې د حقیقت په موندلو کې یې د حق نښې په خپلو عقلي او علمي دلایلو سره ولټولې. هغه د خپل قوم له باطل عقایدو څخه د وتلو هڅه وکړه او د حق پیداکولو په سفر کې یې پرلپسې مشاهدې وکړې. قرآن کریم د هغه دغه هڅې په تفصیل سره بیان کړي دي.**

## د ابراهیم علیه السلام د حقیقت پیدا کولو د سفر مرحلې

**د حضرت ابراهیم علیه السلام د تحقیق او مشاهده کولو دا سفر په سورة الانعام (۷۹-۷۵ ) آیاتونه کې په ښکاره توګه بیان سوی دی. دا آیاتونه د هغه عقلي او روحاني سفر یوه څرګنده انځورګري کوي.**

**۱ .د کائناتو مشاهده او د باطل د رد هڅه**

ketabton.com - The Digital Library

**الله تعالی فرمايي:**

**"وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلۡمُوقِنِينَ"**

**(سالأنعام:۷۵)**

**ژباړه: او داسې مو ابراهيم ته د آسمانونو او ځمکې سلطنت ورښکاره کړل، ترڅو هغه په باور کوونکو کې سي.**

**دلته الله تعالی څرګندوي چې ابراهيم عليه السلام ته د کائناتو د مخلوقاتو نښې او عظمتونه ښکاره سول، ترڅو هغه په حقيقت يقين وکړي او د حق د پيدا کولو لپاره عقلي دليلونه پيداکړي .**

**۲ .د سيارو مشاهده او د عقايدو رد**

**حضرت ابراهيم عليه السلام د خپل قوم د باطل عقايدو ردولو لپاره د شپې  او ورځې په جريان کې د اسمان د اجرامو مشاهده وکړه. هغه د دې اجرامو موقتي حالتونه وڅارل، ترڅو ثابته کړي چې دا د الله تعالی مخلوقات دي او د خدای مقام نه سي نيولی.**

**لومړی: ستوری**

**الله تعالی فرمايي:**

**"فَلَمَّا جَنَّ عَلَيۡهِ ٱلَّيۡلُ رَءَا كَوۡكَبٗاۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلۡأٓفِلِينَ"**

**(الأنعام: ۷۶)**

**ژباړه: کله چې شپه پر راغله ، نو يو ستوری يې وليدی او ويې ويل: "دا زما رب دی." خو کله چې ستوری ورک سو، ويې ويل: "زه هغه څه نه خوسوم چې ورک سي".**

**دويم: سپوږمۍ**

**"فَلَمَّا رَءَا ٱلۡقَمَرَ بَازِغٗا قَالَ هَٰذَا رَبِّيۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمۡ يَهۡدِنِي رَبِّي لَأَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلضَّآلِّينَ"**

**(الأنعام: ۷۷)**

**ژباړه: بيا يې سپوږمۍ وليده چې رامعلومه سوه، نو ويې ويل: "دا زما رب دی." خو کله چې هغه هم ورکه سوه، ويې ويل: "که زما رب ما ته لار ونه ښيي، زه به له ګمراهانو څخه سم".**

ketabton.com - The Digital Library

**درېیم: لمر**

**"فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَـٰذَا رَبِّى هَـٰذَآ أَكْبَرُ ۖ فَلَمَّآ أَفَلَتْ قَالَ يَـٰقَوْمِ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ"**
**(الأنعام: ۷۸)**
**ژباړه: کله چې یې لمر راختلی ولیدي، نو ویې ویل: "دا زما رب دی، دا تر ټولو لوی دی." خو کله چې هغه هم ورک سو، ویې ویل: "ای زما قومه! زه د هغه څه سره چې تاسو یې شریک کوئ، بې زاره یم".**

**۳ .د حقیقت منل او توحید ته رسېدل**

**په پای کې ابراهیم علیه السلام د خپل تحلیل نتیجه داسې اعلان کړه:**
**"إِنِّى وَجَّهْتُ وَجْهِىَ لِلَّذِى فَطَرَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ"**
**(الأنعام: ۷۹)**
**ژباړه: "زه د هغه چا طرف ته مخ اړوم چې آسمانونه او مځکه یې پیدا کړي دي، په اخلاص سره. او زه له مشرکانو څخه نه یم".**

**د سیارو او د کائناتو مخلوقاتو مشاهده**

**حضرت ابراهیم علیه السلام د ستورو، سپوږمۍ او لمر مشاهده وکړه چې د هغه وخت له بشري وسایلو پرته یې د الله تعالی د قدرت د نښو په توګه وپېژندل. دا څرګندوي چې الله تعالی هغه ته ځانګړې پوهه ورکړې وه چې د کائناتو نښې ښېله کمې وسیلې ووینې.**

**پایله**

**د حضرت ابراهیم علیه السلام د حقیقت پیداکولو سفر موږ ته لاندې درسونه راکوي:**

**۱: د کائناتو مشاهده د الله تعالی د عظمت او توحید په درک کې مرسته کوي.**

**۲: عقلي او علمي څېړنه د ایمان د قوي کېدو سبب ګرځي.**

**۳: یوازې هغه ذات چې د زوال او نابودۍ څخه خوندي دی، د عبادت وړ دی.**

ketabton.com - The Digital Library

**۴: د الله تعالی پر وړاندې اخلاص او د مشرکانو د عقایدو رد د ایمان نښه ده.**

**د قرآني نګاه سره سم، ابراهیم علیه السلام نه یوازې یو ستر پېغمبر، بلکې د کائناتو د نظام د مطالعې یو بې مثاله ستورپوه هم وو.**

**...**

## ساینس او دین

**ساینس او دین د اوس وخت یوه ډېره پیچلي او اوږده موضوع ده او حتی د جنجالونو ډکه ده. زموږ زیاتره سیکولر ملګري خو یا ددې تاریخ څخه بیخې ناخبره دي او یا د موضوع اړوند ډېر مات او کوږ بحث کوي. ددوی د موضوع اوله نقطه داده چې عیسویت ځکه ماته ومنل چې د ساینس سره اوږه پر اوږه نه ولاړې. خو دا خبره بیخې بې بنیاده ده، ځکه عیسویت د خپل د تاریخ د لومړی څخه د فلسفې، منطق او د وخت د ساینس سره اوږه پر اوږه ولاړې، حتی تر دې چې دوی د نیکولا کوفرنیک د چلنجو او سوالو جوابونه نه فقط د انجیل څخه ورکړه، بلکې د خپل وخت ټینګ مشاهداتي او ریاضیکی لارو چارو څخه استفاده وکړه او د نیکولا کوفرنیک د سوالو جوابونه یې ورکړه. عیسویت خپل د ځان د عقلي او منطقي دین د ثابت کولو لپاره د افلاطون د فلسفې څخه ګټه واخیستل، دوی بطلموس ریاضیکی شواهد د مځکې د سکون لپاره وکارول... او حتی دوی د ګالیلیو سره هم تر ډېره حده ساینسي ولاړل او دوی وایې چې کله زموږ مشرانو ته غلط خطابونه شروع کړه نو موږ دې وسوځې. ځکه دوی وایې چې ګالیلیو د لمر د مرکزیت تیوري په کال ۱۶۱۶ کې وړاندې کړه او دته سزا په کال ۱۶۲۴ کې ورکول سول او ځینې تاریخونه بیا دا پېښه داسې وړاندې: چې کلیسا و ګالیلیو ته وویل چې ته خپل نظریات فقط تر مفروضاتو قایم کولای سئ لکه د کوفرنیک نظریات چې فقط تر مفروضاتو پورې وه، یعنې Hypothesis پورې یې درلودلای سئ خو د ساینس حقیقت Scientific truth یې نسي بللې. تاریخ دواړه ډوله بیانونه خپل په غېږ کې ساتلي دي او دواړې ډلې خپل د بیان لپاره کافي شواهد لري. خو اصلي خبره داده چې کلیسا د ساینس سره اوږه پر اوږه تللې وه او ډېر وخت یې حتی د انجیل تعلیماتو ته تغیرات ورکول او تاریخ د دا ډول پېښو څخه ډک دي چې عیسویانو خپل دین ته تغیر ورکړې وې. که موږ دې موضوع ته اصلي نوم ورکړو نو دا جنګ د انجیل او ساینس تر منځ نه بلکې د پخواني ساینس او نوی ساینس ترمنځ وو. دوی د خپل حق لپاره د افلاطون او نورو یوناني فلسفیانو نظریات راټول کړه خو دا چې ساینس یو بدلیدونکي علم دی نو دا موضوعات یې هم بدل کړه نو عیسویت پدې دی ځای کې نور تر سوال لاندې راغلی. په علمي نړۍ کې یوه خبره ده هغه دا چې د یوې نظریې د قوی کیدو ثبوتونه باید د هغه نظریې ددنه څخه راسئ نه ددباندې څخه! اوس که دوی انجیل خپل حالت باندې پرېښي وای نو فکر**

ketabton.com - The Digital Library

نه کوم چي دا ډول تاريخي حالت دي د دوی پر وړاندې راغلی وای. ښاغلی سفر الحوالي په خپل کتاب د الکسس کاريل دا خبره نقلوي: که عيسی عليه السلام په اوس وخت کي يوي کليسا ته ولاړ سي نو حيران به سي ځکه دوی به هغه شيان کوی چي ده نه وه ورښولی او که محمد رسول الله مسجد ته ولاړ سی نو هغه به هيڅ حيرانه نسي ځکه ټول به هغه تعليمات ويني چي ده ورته ښولی وه. اوس وخت کي مسلمانان هم همداسي کوي، دوی د قرآن د هر څه يعنې د حقانيت دلايل د ساينس څخه اخلي، خو دوی دی باندې نه پوهيږی که ساينس خپله تيوري بدله کړه نو آيا قرآن هم بايد بدل سی؟ العياذ بالله. مسلمانانو ته پکار ده چي د قرآن د حقانيت دلايل په قرآني نړۍ ليد کي چي څرنګه قرآن، سنت، اجماع، قياس او يا نورو لارو چي دين کي يو موضوع کي ورباندې خبرې کيږي استعمال کړئ.

...

ترموډيناميک (حرارت فزيک)

دا د اوسني فزيک يوه ډيره پرمختللې او جالبه څانګه ده چي استعمال يې د اټوم څخه نيولې تر کائناته او ساختمانو پوري دې. ترموډيناميک فزيک کي دا څيړل کيږي چي تودوخه څرنګه او کوم تاثيرات پر اټوم اچوي. چي عموماً د ۵ قوانين لري او ډير اساسي دې د فزيک او خاصتاً د کوانټم فزيک لپاره. د کوانټم فزيک په کتابونو ليکل سوي چي که څوک په ترموډيناميک باندې سم نه پوهيږي هغه ته کوانټم فزيک زيات مغلق او پيچلي وي. ددې تاثيرات نه يوازی په لوړ او کوچنی مقياس کي وي بلکې زموږ په روزمره ژوند کي اود اوسيدو په تعميراتو کي يې هم زيات استعمال دی. چي په واسطه يې پوهيږو چي د خوب خونه بايد څونه حرارت ولري؟ برنډه، اشپزخانه... څومره تودوخه ولري. د انجنيري څانګه کي دوه سمستره ورته ويل کيږي خو د بدبختي ځای دادې چي فعلاً په شخصي ځايو کي استعمال نه لري او دولتي ودانيو کي د ګوتو په شمار باندې څو دانو کي کار سوي دی. يوه ورځ مې يوټيوب کي د ترموډيناميک اړوند ليکچر اوريد، وروسته مې د يو ملګری انجنير څخه پوښتنه وکړه چي انجنير صاحب ددې استعمال څومره ګټه ده او ولې يې نه استعمالوو؟ ويل چي د ګټې اړوند به يې يو مثال درکړم: وای ۲۰۱۴ کي هلمند کي يو مکتب جوړيدي نو انجنير يې زه وم، دا مکتب ولسوالۍ کي وو او هغه ولسوالۍ ډيره ګرمه وه ځکه د سرطان مياشت وه او ګرمۍ درجه ۴۳ ته لوړه وه. وای دلته د پوليسو پوسته هم نيږدې وه او د امريکايانو ځای هم؛ په دې درجه حرارت کي پوليس په خپلو پوستو کي د ګرمۍ څخه جوشيدل او امريکايانو چي د ترموډيناميک فزيک په رڼا کي يې خپل کانټينران جوړ کړي وه، هغوی په کانټينرانو کي ساده کولر ته هم د سړی يخ کيدي، نور نو خپله فکر وکړه.

...

د مځکې کروی شکل

ketabton.com - The Digital Library

په تیرو وختونو کې، خلکو باور درلودي چې مځکه هوار ده.
په پیړیو پیړیو ،خلک بیریدل چې که دوي په اوږده سفرولاړ سي، نو دوی به د مځکي د يوي څنډې څخه ولويږي .
سر فرانسیس ډریک لومړی کس و چې په ۱۵۹۷ کې يې د ځمکې کره ثابته کړه وروسته ترهغه چې شاوخوا يې سفر وکړي.

اوس د قرآن دغه آيت ته پام وکړئ، چې د ورځې او شپې د تغير سره تړاو لري.

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّـهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى وَأَنَّ اللَّـهَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ﴾ (لقمان:۲۹ )

ايا تا نه دي ليدلي چې الله شپه په ورځ او ورځ په شپه بدلوي او لمر او سپوږمۍ يې مسخره کړي دي
(او د انسان د ګټو پر لار کې يې روان کړي دي)؟ او هر يو به تر يوې ټاکلې اندازې پورې حرکت کوي
(او دا نظام به د نړۍ په پای کې پای ته ورسيږي) او خدای په هغه څه سره خبر دی چې تاسو يې کوئ".

دلته د مداخلې معنی دا ده چې شپه کرار کرار په ورځ بدليږي او برعکس. دا پديده يوازې هغه وخت واقع کيدای سي چې مځکه کره وي، که چيرې مځکه هواره وي، د شپې څخه ورځې ته او د ورځې څخه شپې ته بدلون ناڅاپه پيښيږي.

لاندې آيت د ځمکې کروي شکل ته هم اشاره کوي:

﴿خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۖ يُكَوِّرُ اللَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى اللَّيْلِ ۖ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى ۗ أَلَا هُوَ الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ﴾ (الزمر: ۵)

"خدای اسمانونه او مځکه په حقه سره پيدا کړي دي .
شپه په ورځ او ورځ په شپه بدلوي او لمر او سپوږمۍ يې، د خپل امر تابع کړي دي،او د بندګانو د ګټو لپاره يې ګرځوي.
د دوی هر يو به د يوه ټاکلې وخت لپاره په حرکت کې وي چې خدای پوهيږي،خدای غالب او بخښونکی دی ،او هغه څه کوي چې وغواړي او چاته چې وغواړي ببښنه کوي.

ketabton.com - The Digital Library

**دلته د عربي کلمه «يَقَوّر» د تکبير له کلمې څخه اخيستل سوې ده چې معنی يې د پګړۍ ده او پګړۍ د سر شاوخوا پېتول دي او دا دواړۍ معناوې يوازې هغه وخت سمې دي چې مځکه کره وي .**

**مځکه د ګين په ډول کره نه ده، بلکې بيضوي ده، يعنې په دوو قطبونو کې سره را ټوليږي.**

**په لاندې آيت کې د ځمکې د شکل توضيح ده:**

**﴿وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا﴾ (النازعات: ۳۰)**

**"او تر هغه وروسته يې مځکه غوړولي وګرځوله او بيضه يې جوړه کړه.**

**او د Dahiyeh کلمه د شترمرغ د هګۍ معنی لري ، د شترمرغ هګۍ شکل د ځمکې کروي شکل ته ورته ده .**
**له همدې امله قرآن کريم د ځمکې شکل په دقيق ډول بيان کړی دی .**

**...**

**په جنوبي امريکا کې د کيپ هورن په سيمه کې يوه**
**حيرانوونکې پېښه ليدل کيږي چيري چې د ارام سمندر او اتلانتيک سمندر اوبه نه سره ګډيږي د دې ځای تازه اوبه چې د انټارکتيک د يخيانو د ويلې کېدو څخه سرچينه اخلي د دواړو سمندرونو ترمنځ يو جلا ديوال جوړوي دا تازه اوبه د مالګې لږوالي او د کثافت فرق د امله د ارام او اتلانتيک سمندرونو اوبه جلا ساتي چې د سمندرونو اوبه په يوه برخه کې شنې او په بله کې آسماني ښکاري دا طبيعي پېښه د نړۍ د حيرانوونکو منظرو د ډلې څخه ده.**

**همدا موضوع په قران کې داسي راغلي ده**
**وَهُوَ ٱلَّذِى مَرَجَ ٱلبَحرَينِ هَـٰذَا عَذبٌ فُرَاتٌ وَهَـٰذَا مِلحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَى نَهُمَا بَرزَخًا وَحِجرًا مَّحجُورًا**
**(سورت الفرقان، آيت۵۳)**
**دا آيت د سمندرونو جلاوالي ته اشاره کوي**

**...**

**د کائناتو په لامحدود پراخوالي کي چي کله انسان خپل کوچنی وجود درک کړي، د يوې ژورې غميزې احساس ورته کېږي. د ميلياردونو کلونو په مټ جوړ سوی دا نظام، چی د يوې بې‌پايه تشې په منځ کې څراغونه ځليږي، د انسان د ژوند د لنډون سره يو ژور تضاد لري. ستوري چې موږ ته د يوه اميد په شان ځليږي، په حقيقت کې د**

ketabton.com - The Digital Library

زرګونو کلونو مخکې مړه سوي وي، او د هغوی رڼا زموږ تر سترګو ته یوازې اوس را رسېدلې ده.

دا یوه غمجنه یادونه ده چې هر څه چې موږ وینو، هغه یوازې تېره سوې خاطره ده. د انسان وجود یوازې یوه نازکه کرښه ده د وخت په دې بې رحمه سمندر کې، چې څپې یې هر څه مړه کوي. کائنات دومره بې‌احساسه ښکاري چې د انسان دردونه، هیلې او ارمانونه ورته هېڅ ارزښت نه لري.

په دې لویه بې‌پایانه شپه کې، چې هېڅوک زموږ چیغې نه اوري، د ژوند کولو معنی یوازې زموږ خپله مبارزه ده. انسان د یوې بې پایانه خولې په شان دي چې د خپل وجود معنی پیداکوي، خو جوابونه یې د یوه خاموش کائنات په زړه کې ورک دي.

ایا دا غمیزه نه ده چې موږ دلته د څو شېبو لپاره یو، په داسې حال کې چې ستوري د میلیاردونو کلونو لپاره ځلیږي؟ او ایا دا درد ناک نه دي چې موږ پوهېږو، زموږ مړینه به نه یوازې زموږ لپاره، بلکې د کائناتو لپاره هم هېڅ اهمیت ونه لري؟

د دې کائناتو تر ټولو غمجنه برخه دا ده چی موږ په کښې یوازې یو، او یوازې به د دې نړۍ ولاړ سو، پرته له دې چې زموږ وجود د دې لوی کائنات لپاره کومه معنا ولري.

...

که چیری سپوږمۍ نه وای ,ړیر ممکه د وضعي او انتقالي حرکتونو اختلاف راځي

د لمر پرو اندې د ځمکې جاذبه کمېږي،بادونه او طوفانو سمندرونه به بی کنټروله سی،دسمندرونو اوبه به ټوله نړۍ ډوبه کړي،د ځمکې توازن او دوران به ورسره شاید خراب سي،او بل د شپې به توره تیاره سي،بل د سپوږمۍ له رویه تاریخ به هم مشکل سي

...

کائینات

د بې پایه کائناتو یوه تیاره فضا کې، چیرته چې ستوري لکه د زړونو ټکانونه ځلوي، انسان د خپل کوچني وجود سره د ژور فکر په سمندر کې ډوب دی. کائنات، چې د ازل په کندوالو کې غلی روان دي، د بې پایه رمزونو یوه ننداره ده.

په دې پراخه خالي میدان کې، هر ستوری د یو نامعلوم داستان یوه کلمه ده، هره کهکشان د بې مثاله ژوند یوه فلسفه. د زمان او مکان د نازک تارونو په دې بې رحمه جال کې، انسان د خپلې پوهې د محدودیتونو تر شا یو ناچیزه وجود ښکاري. خو بیا هم، د همدې کوچني وجود په زړه کې د پوښتنو یوه دروازه خلاصه سوې، یوه دروازه چې د خدای د عظمت د درک پر لور ځي.

دا د کائناتو حیرانونکې ښکلا ده چې د انسان روح د هغې غېږې ته کش کوي، چیرې چې د تیارو منځ کې رڼا

ketabton.com - The Digital Library

پیدا کېږي، او د پوښتنو له مینځ څخه جوابونه. کائنات، چې بې پایله سفر کوي، موږ ته د تدبر او تفکر لپاره یو کتاب وړاندې کوي، یو داسې کتاب چې هره پاڼه یې د عظمت یوه ننداره ده او هره جمله یې د حکمت یو راز.
انسان، که څه هم محدود دی، خو د هغه نظر بې حده دی، د هغه سوچ بې کناره دی. او په دې ژورو سوچونو کې، د وجود سوالونه پیدا کېږي: "موږ څوک یو؟ موږ له کومه راغلي یو؟ او د دې بې پایه سفر پای به څشي وي؟"
کائنات، د یوې فلسفي ارامۍ سره، یوازې یوه اشاره ورکوي: "پلټنه وکړئ، فکر وکړئ، او خپل حدود مات کړئ، ځکه چې حقیقت هغه چا ته ښکاري چې د هغه په لټه کې وي".

...

## د افغانستان د سپوږمۍ ډبرې څه سولې ؟

کله چې نیل ارمسټرانګ د سپوږمۍ له سفر څخه ځمکې ته بیرته راغلی  د سپوږمۍ ځینې ډبرې او خاوره یې له ځانه سره راوړې د دې قیمتې ډبرې یوه کوچنۍ ټوټه په ۱۳۴۸ کال کې د امریکا  د هغه وخت د ولسمشر ریچارډ نیکسون له خوا د افغانستان پاچا ته ډالۍ سوه هغه وخت ظاهر شاه دغه قیمتې ډبره ملي موزیم ته وسپارله د ملي موزیم دا قیمتې ډبره تر ډېرو کلونو پورې په خوندي ډول ساتل کېده خو د ۱۳۷۰ کلونو د کورنیو جګړو پر مهال د کابل موزیم د جګړې له امله د راکټونو او بریدونو ښکار سو په دې وخت کې موزیم ته ډېر زیان ورسیدې او ګڼ شمېر قیمتې اثار یا غلا سول او یا هم له منځه ولاړل د دغو له منځه تللو اثارو په منځ کې د سپوږمۍ دغه ډبره هم ورکه سوه.

...

### نیوزیلنډ

هر کال ۶۰۰ د غاښو ډاکټران په ځنګلونو کې د هغه موږکانو پسې ګرځي چې غاښونه یې غټ سوي او خوراک نسي کولای دغه موږکان د غاښو د درملنې ورسته بیرته طبیعت ته ایله کوي.
موږکان، میږیان او چنجې دا د ځنګلونو طبیبان بلل کیږي.
موږ بیا څه چم په کوو؟

...

ketabton.com - The Digital Library

## د اروا پوهنې برخه

**کله چې تاسې په يو داسې شخص بدل سئ چې نور د چا سره بحث نه کوئ، له اختلافاتو ځان ساتئ، تر خبرو چوپتيا ته ترجېح ورکوئ، خپل درد له چا سره نه شريکوئ او چې څوک مو يوازې پرېږدي؛ گيله نه کوئ، دا هغه حالت دی، چې تاسې د پوخوالي لوړترين پړاو ته رسېدلي ياست.**

**...**

**۱: که جگړه دې ونه گټله، دا هم بسنه کوي چې دښمن دې وپېژندی.**
**۲: هېڅکله چا ته ټيټ/سپک نظر مه کوئ، ځکه د ميليونونو پيسو چېک د لسو افغانيو په قلم امضاء کيږي**
**۳: په ياد ولرئ؛ هغه خلک چې د وتلو په وخت کې دروازه ډېره په ارامه بندوي چې څوک يې ږغ، وانه وري هغه بيا نه راگرځي**
**۳: کله چې د عمر له پنځويشو کالو واوښتې، د ساعت عيارولو ته هېڅ اړتيا نسته، ستونزې/مسؤليتونه دې پخپله راوېښوي**

**...**

**آرواپوهنه وايي**
**نجونې په اساسي ډول د نارينه وو له شخصيت او د خبرو د ښکلا ســـــره مينه لري**
**نجونې د هلکانو له خندا،ټوکو او د هغوي له منطقي/ هوښيارو خبرو څخه ډېرې زر متاثره کېږي**

**...**

**تاسو ته يوه سپارښتنه**

**که څوک په يو مجلس کې هر وخت د خپل ځان صفتونه کوي او په هر ځاي کې خپل فضيلتونه تکراروي، خپله ډېرې خبرې کوي؛ بل چاته د خبرو کولو چانس نه ورکوي، نو داسې خلک لاشعور ځان کم گڼي او د کمترۍ احساس لري**
**او د دې نيمگړتيا د ليرې کولو لپاره په تکراري ډول خپل صفتونه، خوبيانې او نېکي بيانوي.**

ketabton.com - The Digital Library

په شعوري توګه هغه پوهيږي چې د خلکو په ذهن کې د هغه انځور ښه ندی، نو د همدې کبله هغه په هر ځای کې کوښښ کوي، تر څو خلکو ته خپل مثبت شيان وښايي او غواړي چې د خلکو په ذهن کې خپل انځور ښه او بهتر کړي .
کچيرې داسې شخص ته هم پيژنې نو مهرباني وکړه پسخند او خندا مه پر مکوه، بلکې ددې شخص سره مرسته وکړه، او په ستاينه کې يې شريک سه تر څو د هغه دا ستونزه حل سي!
...

## پوهيږې ځواکمن خلک څوک دي؟

١: خپل کارونه په بل چا نه ترسره کوي.
٢: وخت نه لري، چې په نورو پسې خبرې وکړي.
٣: ماته منوونکي نه وي او خپل کارونه په نيمايي کې نه پريږدي.
۴: ښه کارونه ستايي، د بدو لپاره نصيحت کوي.
۵: ځاني نظم او نظافت ته زيات پام کوي.
٦: په پالتو آوازو او غيبت ته غوږ نه نيسي.
٨: خپلې غلطۍ ژر مني او د بيا تکرار مخه يې نيسي.
٨: دي ته لېوالتيا لري چې نوی شی زده کړي.
٩: په خبرو کې جدي وي، خو په زړه کې پاک وي.
١٠: پر خپل قول کلک ولاړ وي او وخت نه ضائع کوي.
١١: د خپلو کاري وسائلو څخه سمه ګټه اخلي او ښه ساتنه يې کوي.
١٢: د هوښيارو خلکو سره راشه_ درشه لري.
١٣: د چا څخه بې ځايه پور نه اخلي او زيات مصارف هم نه کوي.
١۴: د يوازې پاتې کېدو توان لري، خو له بيکاره خلکو سره نه کښيني.
١۵: هر ډول مسلې نورو ورځو ته نه پرېږدي، سم دلاسه يې حل کوي.
١٦: د چاسره چې نوی ملګری سي ورته وايي«کم کم کتابونه دې مطالعه کړي.
١٧: ددوي سوالونه د جوابونو څخه قوي وي.
...

مشوره له بايلونکی واخله/تجربه له ګټونکی او دماغ دی خپله استعمال کړه

ketabton.com - The Digital Library

**که یو چا مو مور یا پلار ته سپکاوی کاوه داسی یی ووهی چي ډاکټران ووایی/درملنه یی نشو کولی**
**که اړتیا وه دمه وکړه/خو تسلیمیږه مه**
**څوک چي مینه نه درسره لری که عسل هم سی مه یی خوره/او هغه سوک چي مینه درسره لری که زهر هم وی تیر یی کړه**
**دځینو غلطیانو دوباره تکرار د انسان وجدان زر واري وژنی**
**دګوتي اثرموپریږدی بیالا□شی**
**...**

**پلار او مور ته خاص پیغام**

**ډیره توجو وکی، د روان او روحیاتو له مخی د کوچنیانو مطالعه**
**۱ :په کم کوچنی چی په کور کی پسخند وهل کیږی، هغه بیرندوکی او بیغیرته لویژی**
**۲ :په کم کوچنی چی اعتبار نه کیږی، هغه چم او فریب زده کوی**
**۳ :په کم کوچنی چی تنقید ډیر کیږی، هغه بیا همت او کوښښ نه کوی**
**۴ :د کم کوچنی چی تعریف نه کیږی، هغه بیا ښه شیان نه خوښوی**
**۵ :کم کوچنی چی د ډیرو وهلو سره مخ وی، بیا د هغه صلاحیتونه متاثیره کیژی یعنی ځان ورته بی اهمیته معلومیژی**
**٦ :او کم مور او پلار چی د خپلو کوچنیانو په مخ کی جنګونه کوی، نو کوچنیان هم په روانی مشکل اخته او هم بی ادبه لویژی.**
**...**

**ارواپوهنه**
**انسان چې کله د یو چا سره ډیر وخت پاتې سي، نو د دواړو دماغي اړیکه دومره قوي سي چې اکثراً په یوه وخت کې دوی دواړه یوه خبره کوي .**
**...**

**د حسد کوونکي انسان د پیژندنې ځینې مشهورې نښې!**

**لومړی دا چې ستا د ورې او لویې لاسته راوړنې مبارکې نه درکوي که څه هم تاته به ډیره ارزښتمنه لاسته راوړنه وي .**

ketabton.com - The Digital Library

دوهم دا چې ستا په اړه د بل چا د خولې ستاینه اوریدل نه خوښوي ، که بل څوک ستا ستاینه کوي دی خسته او زړه تنگی کیږي .

دریم دا چې کله یو څوک پر تا مسخره وکړي دی به تر ضرورت زیاته خاندي کوي او خپل اواز به لوړوي *.
څلورم دا چې په عامه ځایونو لکه تجمع یا ټولنیزې رسنیو کې به د خلکو مخکې درته نصیحت کوي تر څو تا جاهل او ځان تر تا لوړ او هوښیار ښکاره کړي *.

تر ټولو مهم دا چې ته هر نوی شی تجربه کوې که هغه کم نوی ځای لیدل وي او یا د کم ښه کتاب مطالعه وي ، تا ته دا احساس درکوي چې دا یوه عادي خبره ده یعنې ستا د زړه خوشحالونکي شیانو ته هیڅ ارزښت نه ورکوي.
څومره چې انسان د حاسدینو د حسد څخه لیرې وی هغومره به هغه د راحت خاوند وی .

ومن شر حاسد اذا حسد
...

ارواپوهنه وایــــــې

۱ : د ځان سره د هینداري مخ ته خبرې مو اعتماد پر نفس ځواکمن کوي او د بیري هورمونونه وژني !.

۲ : کم پلار چې د خپل زوی سره ډېر په غوسه خبرې کوي د دې تر شا ډېره قوي مینه هم پرته وي چی پلار غواړي زوی یې یو بریالی شخص اووسي !.

۳ : کمه انجلۍ چې د ټولو خپلوانو څخه زړه تور وي پوه سه چی ټولو ډېره ناهیلې کړې او څوک نسي پیداکولای چی درک یی کړي !.

۴ : کم اشخاص چې پوره خوب کوي هغوی د نورو په پرتله ډېر ځیرک وي
...

څو مهمې سپارښتنې !.

ketabton.com - The Digital Library

**۱: که چیرې یو چا ډیر کوچنی کار هم در وکړي، *مننه ترې وکړئ.**

**۲: کله چې د مقابل جانب خبرې خلاصې سوې، ته دې خپله خبره ورته شروع کړه !.**

**۳: که موټر چلوونکی یې، تر څو چي چا درته د موسیقئ چلانولو نه وي ویلي، پر خپل سر یې مه چلانوه !.**

**۴: داسې عطر/اسپري مه استعمالوه چې نور خلک در سره په تکلیف سي !.**

**۵: چې چا غوښتي نه یې، په ډوډیو پسې کور په کور مه گرځه !.**

**٦: که چیرې خوابدي وې نو پرماشومانو باندې خپل زړه مه تشوه !.**

**۷: کله چې د چا سره سترې مه سي کوې،خپلې تورې عینکې مو د سترگو څخه لیرې کړئ !.**

**۸: هر وخت گیلي مه کوه !.**

**۹: یو ښه انسان د پلار او نیکه په غلطۍ مه نیسه !.**

**۱۰: چې په کم څه نه پوهېږې، نظر مه پر ورکوه !.**

**۱۱: یو مسلک ونیسه او په هغه کې پرمختگ وکړه !.**

**۱۲: هر وخت ځان خوابدي او دردمن مه ښکاره کوه !.**

**13*:له ژوند ځان مه سترې کوه *!.**

**۱۴: داسې فکر مه کوه چې ملگری دې په چم نه پوهیږي !.**

**...**

**اروا پوهنه**

ketabton.com - The Digital Library

**زياتره کسان داسي وي چي غواړي يوه خبره درته وکړي، خو کله چي خبره شروع کړي ذهن ته يی ورسي چی دا خبره بايد ورته ونه کړم او سمدستي چپ سي نو که تاسوغواړی چی دا خبره ځيني واورئ نو هغه وخت کي چي دی چپ سي تاسو يی سترګو ته وګورئ کله چي هغه ستاسو سترګو ته فقط وګوري نو بيرته خبره پيلوي او بشپړه خبره درته کوي.**

**...**

**رواني ټکي**

**۱: په کار ځای کې د ډرامو کتلو ډډه وکړئ: د خلکو شاته د هغوی ستاينهوکړئ.**

**۲: د "زه پوهيږم" پر ځای ووایاست* " تاسو ښه وایاست.**

**۳: د خاموشی ماتولو لپاره د مقابل لوري څخه وپوښتئ "تاسو کومې پوښتنې لرئ؟**

**۴: د خپلو ماشومانو سره مهمې خبرې په نرمي سره وکړئ.**

**۵: د خلکو څخه د شخصي پوښتنو په کولو سره خپل عزت مه کموئ.**

**٦: کله چي خلک خبرې کوي، د هغوی په خوله کي مه ور لويږه.**

**۷: د ټولو سره په درنښت چلند کوه.**

**...**

**آرواپوهنه**

**۱: کله چې والدين د خپلو ماشومانو څخه په زوره کم شی اخلي، نو ماشوم " زورور توب" يا جنګ زده کوي.**

**۲: کله چي والدين ماشومانو ته د هغوی د آرامتيا لپاره هغوی ته وعدې ورکوي او په هغو عمل نکوي، ماشوم " دروغ" زده کوي.**

**۳: کله چې والدين د ماشومانو د کرار يا آرامه کولو لپاره ديوال يا ناوکی وهي او ماشوم ته وايې چې مه ژاړه نو ماشوم " انتقام اخيستل" زده کوي.**

**۴: کله چې والدين پر ماشومانو د شيانو د خرابولو په وخت کې چيغې وهي، نو ماشومان يې هم چيغي وهل زده کوي .**

**...**

**اروا‌پوهنه**

ketabton.com - The Digital Library

**۱: غالباً د چا څهره چی ښکلی وی، رږغ یی بدرنگ وی**
**۲: ډیر خلک د خپل رږغ څخه کرکه لری چی بیرته یی اوری.**
**۳: د شا پر تخته خوب کول د عجبه او غریب خوبونو د لیدلو امکان ډیروی.**
**۴: هغه کسان چی د ځان سره خبری کوی لیونیان نه دی، بلکی د خپلی ځیرکتیا خوند اخلی.**
**حقمل صاحب**
**...**

**یوې علمي څیړنې ثابته کړې ده چې پرځان باور د پوستکي ظاهري ښه ښکلې کوي ځکه چې باور کول په مغز کې یو ډول کیمیاوي مواد خپروي چې د پوستکي روغتیا ته وده ورکوي.**
**...**
**ارواه پوهنه وایي**
**۱: کله چې یوه انجلۍ په مینه کې واقع سي نو هغه د ځان سره ډیره خاندي.**
**۲: انجلۍ دهلک په نسبت په مینه کې ډیر حسد کوي.**
**۳: انجلۍ دقوت ښکارندویي کوي خو لیکن دننه برعکس ده.**
**۴: کله چې ستاسو بدن بې دلیله ولړزیږي نو پوه سه چې هغه څوک چې تاسو ورسره مینه لری خوابدي دی**
**۵: کله چې تاسو بې دلیله پر ځان ویاړی نو پوه سه چې یو څوک ستاسو صفت کوي.**
**٦: کله چې څوک تاته دخلکو په مخکې سپکاوی کوي، نو ستا لپاره همدا بس ده چې هغه ته په درنه سترگه ووگورې باور وکه وکړه، هغه به وبیریږي.**
**۷: دجگړې دمخنیوي لپاره شاتگ وکړئ، خو کله چې جگړه شروع سي یو انچ هم مه شاته کیږئ.**
**...**

**روانشناسی**
**هغه درې عادتونه چې په راتلونکو پنځو کلونو کې به ستاسې ژوند په تمامه معنا بدل کړي:**
**۱: هره ورځ درې کیلومتره ځغله ، مهمه نه ده چې ورځ باراني ده یا لمرینه. پنځه کاله وروسته به متوجه سئ چې تر 90% ډیرې بریاوې مو د همدې عادت له امله دي.**
**۲: هره ورځ لږ تر لږه یو ساعت مطالعه وکړئ. دا پر هغو مطالبو سربېره چې په انټرنیټ کې یې وایاست، پنځه کاله وروسته به متوجه سئ چې د خپلو شاوخوا افرادو سره ډېر زیات فرق لرئ.**
**۳: هره ورځ پنځلس دقیقې میډیټیشن (مناجات، لمونځ، ذکر، دعاء او نور) وکړئ. پنځه کاله وروسته به متوجه سئ چې د تمرکز ځواک مو فوق العاده ښه سوی او دا په یاد ولرئ چې تمرکز په ژوند کې د بریالیتوب او سکون اصلي راز دی.**

ketabton.com - The Digital Library

...

**اروپاپوهان وايي**

**دوه ډوله خلک مو په اسانه سترگو ته نسي کتلاي ، يو هغه څوک چي درواغ درته وايي ،او بل هغه څوک چي مينه درسره لري**

...

**د لومړي ځل ملاقات لپاره څو توصيې**

**۱: د لومړی ليدنې لپاره تور کالي واغوندئ.**

**۲: د مخامخ کيدو په صورت کې روحاً وخاندئ او د خپلې خوشالئ د اظهارولو کوښښ وکړئ.**

**۳: د بوټونو په انتخابولو کې دقيق اوسئ، آرواپوهان وايې زيات خلک د مخامخ کېدو پر وخت اول ستاسو بوټونو ته گوري او ستاسې اول تاثير هم همدا دی. ،نو ښه بوټونه انتخاب او په پښو کړئ.**

**۴: ډېرې لوړې خبرې او يا هم د هغه تر سويې ډېرې ټيټې خبرې مکوئ.**

**۵: خبرې وکړئ، پوښتنې مکوئ.**

**٦: د هغه خبرو ته دقيقاً غوږ سئ/ د ډېرو خبرو جرات ورکړئ....**

...

**روانشناسی**

**هغه کسان چې ډېره جگه او اوږده پزه لري د ډېر متانت او شجاعت خاوندان وي. خو په کارونو کې ډېر دقت نه لري**

**هغه څوک چې جگه ميانه پزه لري؛ ځيرک، چالاک، مدبر، مفکر او په ډېرو شيانو پوه وي**

**څوک چې لنډه پزه لري. ډېر شوخ ټوکي په هر څه کار درلودونکي، او د هر چا سره د شناخت جوړولو استعداد لري**

**هغه څوک چې برداره پلنه پزه لري، په کارونو کې پوره او بشپړه دقت نه لري، د ښو خبرو او خوږ مجلس سره زياته مينه لري د هر چا پر غاړه ورسره ځي.**

...

**اروپوهنه**

ketabton.com - The Digital Library

**د دښمن په باب چپ اوسیږه خو که یی وخت راغلی د تندر په شان پر را نازل سه**
**په ژوند کې ستونزې د الجبر د درس په شکل دي، نو د حل لپاره يې فرمولونه زده کړه او داسې فرمول ورته انتخاب که چې حاصل یی صفر نه وی**
**مجبوره نه یې چې په هر بحث کې بریالي سئ له ناکامۍ مو هم درس واخلئ.**

**ملګری دی که هرڅومره درته نږدی هم وو باور مه پر کوه ځکه یویشتمه پیړی ده هرسه پکښی دبدلون په حال که دی.**

**دا چې نور ستا په اړه څه فکر کوي، دا مهمه نه ده، مهمه دا ده چې ته د خپل ځان په اړه څه فکر کوې.**

**مینه د هرې ستونزې او هرې ناروغۍ درمل ده کوښښ وکی چې له هم فکره شخص سره مینه وکړی.**

**. د دوستانو په لیست کې مو ماشومانو او لویانو ته هم ځای ورکړئ**

**هر ورځ نیم ساعت د خپل ځان سره یوازیتوب ته ورکړی.**

**هر ملګری ته د ورور لقب مه ورکوه.**

**. که دی ریښتینی مینی ته اراده نه وی نو هیڅکله هم د یوي انجلۍ په زړه کی د محبت اور مه بلوه**

**راز ویل دوست او دښمن نه غواړی؛نو په ویلو کی یی له احتیاطه کار واخله.**
**...**

**ارواپوهنې له مخې**

**څوک چې د چا سره مینه لري او ډېر زيات ورباندې ګران وي؛ نو پرته له دې چې تاسو مو ورته کومه ستونزه ووايئ، هغوی پوهېږي. ښه بېلګه يي مور ده، يوه مور د خپل زوی ټولې ستونزې او مشکلات پرته له ويلو درک کوي**

**(۳) نورې دري په زړه پورې خبرې**

ketabton.com - The Digital Library

**۱: ارواپوهان وايي، که يوه کس ته مو راز ووايه، نو ممکن له دوو حالتونو سره مخ سئ؛ يا به ښه ملګرى پيداکړي او يا به ښه درس**

**۲: ناکامان يا ماتې خوړونکي تر هغو کسانو غوره دي چې لا يې د کوم کار هڅه هم نه ده کړې. ځکه چې ناکامانو خو لږ تر لږه يو څه تجربه او زده کړل، هغه چې هېڅ نه کوي، ژوند يې هم هېڅ نه وي**

**۳: تاسو به له ډېرو کسانو اورېدلي وي چې زه يوازې يم، څوک نه لرم او داسې نور. ارواپوهان وايي چې په دې نړۍ کې هېڅوک يوازې نه دی، که يو انسان هر څومره يوازې هم سي، بيا هم لږ تر لږه يو څلور کسه يې تر څنګ ولاړ وي. کله چې يو څوک وايي چې زه يوازې يم، د دې مانا دا وي چې يانې دی چې څوک غواړي، هغه يې څنګ ته نه سته.**

**...**

**د بدن ژبه**

**۱:  د خبرو پر مهال د پزې مږل د انسان د وېرې، ګډوډۍ او درواغ ويلو ښکارندويي کوي.**

**۲:  د خبرو پر مهال د شونډو خوړل د يو شي  پټول او ځنډول دي.**

**۳:  د يوې پښه پر بله پښه اېښول پر نفس د ډېر باور ځرګندونه کوي.**

**۴:  د نوکانو خوړل هم د عقل د نشتوالي او حماقت دلالت کوي.**

**...**

## د ويناوو او مشورو برخه

## د خپل نفس سره دمحاسبې سوالونه؟

ketabton.com - The Digital Library

**(بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ )**
**آيا ټول لمونځونو مو په جماعت سره ادا کړی دي ؟**
**آيا د کتاب الله په قرائت کې مو فکر او تدبر کړی دئ ؟**
**آيا په وتر ، سنت او نفلي لمونځونو لکه : تهجد ، تحية المسجد ، صلاة الضحى ... مو اهتمام کړئ ؟**
**آيا په صدق او عاجزۍ مو دعا کړې ؟**
**آيا په لمانځه کې مو خسوع کړې او د سيطاني وسواسو دفع مو کړې او که نه ؟**
**آيا د سبا او بيګاه په اذکارو او مسنونه دعاګانو مو هميسوالی کړی دی ؟**
**آيا د قبرونو زيارت مو د پند او عبرت د پاره کړی ؟**
**آيا کله مو جـــهـــاد کړئ ، يا مو د کوم مجـــاهـــد يا د هغه د کور تجهيز کړئ ؟ او يا مو د جـهـاد په اړه فکر کړی دی ؟**
**آيا د انتقام په وخت کې مو د قهر او غصي دفع کړې ده ؟ او د بل چا د خطاء پر وړاندې مو زغم کړی دی ؟**
**آيا د بل چا د عيب پټولو پر ځای مو کله هم د خپل ځان د عيبونو په اصلاح کې فکر کړی دی ؟**
**آيا د خپل نفس سره مو مجاهده کړې تر څو ته له متقيانو څخه وې ؟**
**آيا کله مو د الله تعالی له وېرې ژړلې دي داسې چې له خلکو لرې وې ؟**
**آيا په دعوت الی الله کې مو د خپل توان موافق برخه اخيستې ؟**
**...**

**هغه چي خبري يي نه درواغ دي او نه ريشتيا ،فيلسوف دی.**

**هغه چي ريشتيا او درواغ ورته يو شان دي ،چاپلوس دی(غوړمال)**

**هغه چي د درواغو ويلو دپاره پيسې اخلي ،دلال دی.**

**هغه چي د پيسو اخيستلو دپاره درواغ وايي ، سوالکر دی.**

**هغه چي د درواغو او ريشتيا تر منځ د تشخيص دپاره پيسې اخلي ،قاضي دی.**

**هغه چي ددې دپاره پيسې اخلي چي درواغو ته د ريشتيا او ريشتياوو ته د درواغو رنګ ور کړي ،وکيل دی.**

ketabton.com - The Digital Library

**هغه چي د ريشتيا پرته بل څه نه وايي ،ماشوم دی.**

**هغه چي خپل ځان ته درواغ وايي ،متکبر دی.**

**هغه چي په خپلو درواغو باور کوي ، احمق او ټمبل دی.**

**هغه چي د درواغو خبري يي خوږې دي ، شاعر دی.**

**هغه چي اصلا درواغ نه وايي ،مړی دی.**

**هغه چي د درواغو سره قسم اخلي ،دبازار تجار او دکاندار دی.**

**هغه چي درواغ وايي او خپله هم نه په پوهيږي ،دډېري خبري کوونکی دی.**

**هغه چي خلگ يي پر درواغو د ريشتيا گمان کوي ،سياست مدار دی.**

**هغه چي خلگ يي ريشتيا خبري درواغ گڼي او ورباندي خاندي ،ليونی دی.**

**...**

**جاهل په اتو خويونو پېژندل کېږي**

**بعضي حاکمانو ويلي : جاهل / ناپوه په اتو (۸) خويونو باندي پېژندل کېږي:**

**۱ .بې ځايه غصه کېدل.**

**۲ .غير حقدارو ته مال ورکول.**

**۳ .بې گټي او بې ضرورته خبري کول.**

**۴ .په هر چا باور کول.**

**۵ .د رازونو افشا کول.**

**٦ .د دوستانو او دښمنانو تر منځ توپير نه کول.**

ketabton.com - The Digital Library

۷ .هر څه چي په زړه ورسي بې فکره ويل.
۸ .او ځان تر نورو هوښيار ګڼل.
(أخبار الحمقٰى والمغفلين صـ۳۷)
...
دعلماء ويناوي

زه هغه نه يم چې ته فکر کوې

زه هغه هم نه يم چې زه فکر کوم
زه هغه يم چې فکر کوم ته فکر کوې چې زه يم
چارلز هورتن کولي

ايا ستا په ياد دي چې ته څوک وې، مخکې له دې چې نړۍ درته ووايي چې ته به څوک سې؟
چارلز بوکوسکي

په دې نړۍ کې هيڅوک بې کاره نه دی، چې د بل چا بوج سپک کړي.
چارلز ډيکنز

سترګې پټې کړه او وګوره !
جيمز جويس

دلته هيڅ ناممکن شی د هغه چا لپاره نسته، څوک چې کوښښ کوي .
سکندر کبير

که تاسې له شروع مخکې د پوره کېدو په هيله ياست، ممکن هيڅکله يې پيل نه کړئ .
...

ketabton.com - The Digital Library

**که د کوم چا کره « میلمه» کیږی، نو دا لاندې کارونه مکوه**

**۱: کوچنی اولاد له ځان سره مه بیایه**

**۲ : کوربه ته لارښونې مکوه ، که دي کوټې ته سپین رنګ ورکړی وای ، سور ، شین او ... نو دا ورسره ښه ښکارېده.**

**3: چې دا کلکین دې له کونږي لرګي ، یا پي وي سي څخه جوړ کړی وای خوند به یې کړی نو خوند به کړي وای .**

**4: دروازې ته مخامخ مه کښینه.**

**5: که یې په خوړو کې غوښه راوویسته ، او یا یې بل څه درته راوویسته ، د قیمت پوښتنه یې مکوه چې دا د څه سي غوښه ده ، ډېره خوږه ده ، یا دا و هغه ، فقط خوره یې.**

**6: لاسونه خپله ومېنځه ، بل چاته مه په انتظار کېږه.**

**7: کله چې درته چا د لاسو پریمنځلو اوبه اچولې ، دې وخت کې چاته مه مخاطب کېږه ، او بې ځایه کیسې مهمه کوه. چې دوشیٔ و ګډوه په لاس کي ، هلک دې یو ساعت مخ ته وولاړی وي او ته د بل چا سره مصروف یې.**

**8: کله چې دې لاسونه پریمنځل ، د لاسونو وچولو لپاره ، له جېب نه ، هغه خېرن دستمال مه را باسه ، په کوم چې ته خپله پزه پاکوې.**

**9: دسترخوان ځانته خپله هوار کړه ، هر څه په خوله کې مه غواړه.**

**10: که دې شپه ور سره کوله ، د کوربه څخه پوښتنه وُکړه چې سهار پر څو بجې کار ته ځې ، اجازه ورکړه چې وولاړی سي ، که ممکنه وه ، ته د سهار د چایو مخکې وولاړی سه.**

**11: که دې شپه ورسره کوله ، د خوب ځای ځانته په خپله هوار کړه ، همدارنګه سهار خپل ځای په خپله ټول کړه .**

ketabton.com - The Digital Library

**12: بالښت په غېږ کې مه نیسه.**

**13: چارجر مه غواړه ، او وایفای ، یا هم هاسپاټ مه غواړه.**

**14: د مرچک ، مالړې او مسالې امرونه ډېر مکوه ، آرام خپله ډوډۍ وخوره.**

**15: همدارنګه د کوربه د اولادو څخه د ښوونځي د درسونو په اړه پوښتنې مکوه چې له ځانه دې مفتیش جوړ کړی وی.**

**...**

## د طبیعت درې قوانین ترخه دي مګر ریښتیا دي

**د طبیعت لومړی قانون:**

**که تخم په مځکه کې وا نه چول سي، نو طبیعت یې د وښو ډکوي.**
**په همدې ډول، که ذهن د ښه فکرونو ډک نه وي، نو ښه فکرونه خپل ځای بدو فکرونو ته فریږدی یعني دا د شیطان کور ګرځي نو مثبت فکر وکړئ، ښه فکر وکړئ**

**د طبیعت دوهم قانون:**

**هغه څوک چې هر څه لري هر څه شریکوي. . .**
**یو خوشحاله سړی خوښی‌شریکوي.**
**یو غمجن سړی غم شریکوي.**
**عالم علم شریکوي.**
**یو مذهبي سړی دین شریکوي.**
**یو بیري دونکي سړی بیره شریکوي.**
**نو په ځان کې مثبت احساس پیدا کړئ. ښه شیان زده کړئ. اخته اوسئ. خوشحال اوسئ.**

ketabton.com - The Digital Library

**د طبیعت دریم قانون :**

**د هغه څه لپاره چې په ژوند کې سستاسو لاره راځي  هضم کول زده کړئ. . .**
**ناروغی هغه وخت رامینځته کیږي کله چې خواړه هضم نسي.**
**که مال او دولت هضم نه سي نو  نفاق زیاتیږي.**
**کله چې خبرې هضم نه سي، نو  چغلې او  توهین زیاتیږي.**
**فخر هغه وخت زیاتیږي چې تعریف هضم نه سي.**
**که غم هضم نه سي  مایوسی زیاتیږي.**
**نو هضم کول زده کړئ.**

**خپل ژوند ساده کړئ او مقصد او  اخلاقي ژوند وکړئ، د خلکو لپاره شیان اسانه کړئ**

**خوشحاله اوسئ.**
**...**

**کوچنی لیکنه خو یو کتاب خبرې**

**ارسطو وروسته له بلها اوږد عمر څخه کرارسته چې لسګونه فلسفي کتابونه یې وویل او ولیکل، په پای کې یې خلکو ته دا سپارښتنې وکړې:**

**۱: د خپلو دوستانو سره په سیاسي مسایلو بحث مه کوئ؛ سیاست دوستي خرابوي، سیاستوال به سره جوړ سي، خو ستاسو به خپل دوستان له لاسه ورکړئ.**

**۲: په ځلوېښت کلنی کې، د زده کړو د کچې له پلوه خلک سره ورته کیږي؛ حتی داسې کسان به وي چې لږې زده کړې لري، خو ډېرې پیسې به ګټي.**

**۳: په پنځوس کلنی کې، ښکلی  او بدرنګ سره ورته کیږي؛ مهمه نه ده چې ستاسو څومره ښکلي یاست، په دې عمر کې به سستاسو په مخ ګونجې او تور داغونه ښکاره سي.**

ketabton.com - The Digital Library

**٤: په شپېته کلنۍ کې، لوړ او ټيټ مقام سره يو شان کيږي؛ د تقاعد کرارسته، يو عادي شخص هم خپل رئيس ته د قدر په سترګه نه ګوري.**

**٥: په اويا کلنۍ کې، لوی او کوچنی کور يو ډول اهميت لري؛ د هډوکو او د بدن درد او د حرکت ستونزې، تاسې ګرځېدو ته نه پرېږدي، يوازې يو کوچني ځای ته اړتيا لرئ چې پکې کښېنئ.**

**٦: په اتيا کلنۍ کې، شتمني او بې وزلي سره يو شان وي؛ حتی که ډېرې پيسې ولرئ، نه پوهېږئ چې چيرته يې مصرف کړئ.**

**٧: په نَوي کلنۍ کې، که ژوندي پاتې سو، خوب او ويښوالی سره يو شان کيږي؛ د بيدارېدو کرارسته به نه پوهېږئ چې څه وکړئ.**

**نو !...**
**ژوند آسانه ونيسئ؛هيڅ داسې معما نسته چې حل ونه لري.**
**په اوږده موده کې، موږ ټول سره ورته يو؛ نو تر څو مو وس رسېږي، يو بل ته مينه ورکړئ، او مينه ووېشئ.**
**د ژوند ټول فشارونه هېر کړئ، او په زغم سره د ژوند له هرې سېبې خوند واخلئ.**

**...**

## که دي د واده لپاره مرکه استول

**که مو د واده لپاره يو ځای مرکه استول نو هېڅکله خپله ورېندار مه استوئ، ځکه هغه نه غواړي چې کور ته مو تر دې ښايسته ښځه راسي**

**د واده په اړه نړيوال متلونه**

**واده د عشق کور دی**

**(روسي متل)**

ketabton.com - The Digital Library

**لویه غلطي په واده کې تلوارکول دي**
**(فرانسوی متل)**

**واده بادام چې دي خوړلی نه وي نه پوهیږې چې واده خوږ دی که تریخ**
**دویمه ښځه کول یعنې تجربه پر تجربه غلط کار دی**
**(انګریزي متل)**

**د ټوکر د اخیستو په وخت کې یې څوکه وګوره، د کوژدې د مخه د ښځې مور په اړه معلومات پوره تر لاسه کړه**
**(ترکي متل)**

**د بل ځا په خوښه واده کول د ځان لپاره د دوزخ دروازې خلاصول دي**
**(شکسپیر)**

**واده څخه د مخه دې خپلې سترګې ښه خلاصي او تر واده وروسته یې نیمکښې رغړه وه**
**...**

## لس نړیوال متلونه

**1: آیرش متل**
**په څاه کې شی مه تویوئ، ممکن یوه ورځ ترې وڅښئ.**

**2: فرانسوي متل**
**خپله مینه خپلې میرمنې ته او خپل راز خپلې مور ته ورکړئ.**

**3: ایټالوی متل**

ketabton.com - The Digital Library

**مینه او بوی نسي پټولی.**

**4: سویس متل**

**کله چې یو سړی ډک وي، هغه د ډوډۍ خوند نه احساسوي.**

**5: سکاټلینډی متل**

**که ستاسو نه پوهیږئ چې څنګه موسکا وکړئ، دوکان مه خلاصوئ.**

**6: هسپانوي متل**

**مینه چې په ډالیو وده کوي تل وږی وي.**

**7: جاپاني متل**

**خدای مرغانو ته خپل خواړه ورکوي، مګر دوی باید الوتنه وکړي ترڅو ترلاسه یې کړي.**

**8: هالنډي متل**

**مینه تر هغه وخته دوام کوي چې پیسې وي.**

**9: اندونیزیایی متل**

**څوک چې خپل ملګري ته پور ورکوي دواړه له لاسه ورکوي.**

**10: د بلجیم متل**

**هغه سړی چې له یوې ښکلې ښځې سره واده کوي تر دوو سترګو زیات اړتیا لري.**

**...**

**په 4 کلنۍ کې به ما ویل: زما پلار غوره دی..**

**په 6 کلنۍ کی به می ویل: "زما پلار هرڅوک پیژنی...**

**په 10 کلنۍ‌به ما ویل: زما پلار لوی دی مګر هغه لږ بد دی.**

**په ۱۲ کلنۍ کې، ما به ویل: کله چې زه ماشوم وم، پلار مهربانه و..**

ketabton.com - The Digital Library

**په 14 کلنۍ کې به ما ویل: "پلار زما په اړه غلطی کوي...**
**په ١٦ کلنۍ کې به مې ویل: زما پلار زموږ د عمر او دورې نه دی..**
**په ١٨ کلنۍ کې به مې ویل: د وخت په تیریدو سره مې د پلار اخلاق خرابیږي..**
**په 20 کلنۍ کې به مې ویل: د پلار بخښل سخت دي، حیران یم چې مور یې څنګه زغمي!**
**په ٢٥ کلنۍ کې به مې ویل: پلار زما له ټولو کارونو سره مخالف دی..**
**په 30 کلنۍ کې به ما ویل: دا د پلار سره منل خورا ستونزمن دي، زه نه پوهیږم چې نیکه په ځوانۍ کې څه تیرول..**
**په ۴۰ کلنی کی به می ویل: پلار می موږ په ډیرو اصولو او قوانینو سره روزلی یو، نو زه یې هم باید وکړم...**
**په 45 کلنۍ کې به ما ویل: زه حیران یم چې پلار څنګه موږ را لوی کړو!**

**په ۵۰ کلنی کی به می ویل: د اولاد کنټرول ډیر ګران کار دی، پلار زموږ د تعلیم لپاره څومره سختی وزغملي**
**په 55 کلنی کی ، زه به ووایم: زما پلار ډیر لیری فکر ، او زموږ د راتلونکی لپاره پلان درلود، یو بی مثاله او مهربانه پلار...**
**مګر اوس په 60 کلنۍ کې، زه وایم: زما پلار تر ټولو غوره دی..**
**زما د ژوند په دې ٥٦ کلن سفر کې، زه په څلور کلن عمر کې د پیل ټکي ته ستون سوم**

**...**

## د تاریخ برخه او کیسو برخه

**چل / چیل زیني!(Chilzina)**

**چل زیني ( څلوېښت زیني ) د زاړه کندهار سمال ته د غره په لمن کي یو دالان دئ چي د غره له بیخه زینې ورختلي دي.**
**دا دالان او زینې دواړه د غره په ډېره کي د اوسپني په قلم کیندل سوي دي.**
**پخوا د دالان دواړو خواووته د ډبري دوه زمریان هم پراته وه چي اوس نسته.**

ketabton.com - The Digital Library

**چل زينې د بابر باچا زوی عسکري ميرزا له خوا جوړي سوي دي، د ودانۍ کار يي په ۹۳۰ ق کي شروع او په ۹۵۳ ق پای ته رسيدلي دي.**
**او دا له خورا تاريخي او لرغونو ځايونو څخه يو دی چي د ۴۹۱ کاله يي د جوړيدو کيږي، چي زيات سميره سيلانيان ورته راځي.**

**...**

**ملکه ممتاز محل!**
**ارجمند بانو بيگم ، چې په ممتاز محل سره يې شهرت درلود ، د مغلو په دربار کې د درباري فارسي ژبي ابولحسن اصف تابان لور او د جهانگير د مېرمنې ملکې نور جهان ورېره وه.**
**په ۱۶۰۶از کال د څوارلس کالو په عمر د مغلو شهزاده خرم سلطان مشهور په شاه جهان ته کوزده او په ۱۶۱۲ ز کال يې واده وکړ.**
**شاه جهان په هند کې د مغلو د امپراطورۍ پنځم امپراطور وو.**
**روايت دی چې شاه جان په ملکې ممتاز محل دونده مين وو چې د هغې په مينه کې د لېونتوب تر حده رسېدلی وو ، ملکه ممتاز محل دونده ښکلې وه چې په هغه وخت کې يې د ښکلا اوازې تر لويدځ او ختيځ رسېدلې وې.**
**ملکه ممتاز محل په 1631ز کال د ماشوم د زېږون پر مهال وفات سوه ، هماغه وو چې شاه جهان پسې د لېونتوب تر حده ورسېدی او د دې لپاره چې د خپلې مينې غم يې جبران کړی وي نو د ملکې ممتاز محل په ياد کې يې د هند په اګره کې د ( تاج محل ) په نوم يوه لويه ودانۍ جوړه کړه چې دغه ودانۍ په يو ځغوليي سبک په څو کلونو کې د لسګونه زرو کاريګرانو او د مشهکرار انجينرانو لخوا جوړه سوه.**
**تاج محل د نړۍ له اوه عجايبو څخه بلل کيږي.**
**او همدارنګه د تاج محل مانۍ په نړۍ کې د ( مينې سمبول ) په نو هم پېژندل کيږي.**
**که فکر وکړو ژوند تيريږي او داسې خوږې خاطرې يې پاتې کيږي.**

**....**

**پړمخې چې پروت وی "پاپ" وی. پاپ پدې شکل د مسيح لهٔ مجسمې څخه بخښنه غواړي. د دهٔ شاته د سور رنګ لباس والا "قسيسين" وي. دوي بيا د پاپ څخه بخښنه غواړي د دوي تر شا سپين لباس والا "سماسيون" وي. دوي بيا د قسيسينو څخه بحښنه غواړي د دوي تر شا بيا د تور رنګ لباس والا "راهبان" وي چې د سماسيون څخه بخښنه غواړي کله چې عام نصرانيان راځي، هغوي بيا د دې راهبانو څخه د بخښنې غوښتنې کوي، او پهٔ همدې ترتيب نصراني د راهب، راهب د سماسيونو، سماسيون د قسيسين، قسيسين بيا د پاپ څخه او پاپ بيا د يسوع د**

ketabton.com - The Digital Library

**مجسمې څخه د ګناهونو د بخښنې غوښتنه کوي .**
**لهٔ بله پلوه اسلام د بخښنې لپاره دونده تکلیفونه ندي ایښي . فقط پهٔ خولهٔ ووایه: أستغفرالله وأتوب الیه ، نېت دې صفا کړه ، حاجت نسته چې د بخښنې لپاره پیر،اغاصاحب،قبر، ملا ، مولوي ، سیخ الحدیث ، سیخ القرآن یا کوم سیخ الاسلام ته ورسې ، بخښونکی ذات دې ، پرته لهٔ واسطې بخښي. د هغهٔ د بخښنې دروازه هر وخت ، د هر باچا ، حاکم ، ملک ، فقیر ، ګدا پر وړاندې خلاصه ده. د غرونو پهٔ اندازه ګناهونه دې ، د خولې پهٔ یو څو الفاظو او اخلاص بخښي .**
**د اسلام پر دین دې زموږ زر ځله "الحمد لله" وي.**
**شامحمد شرف صاحب.**
**...**

**د جنوبي افریقا د پوهنتون یو پروفیسر د پوهنتون پر دروازه ولیکل**

**اړتیا نسته چې د یو ملت د له منځه وړلو لپاره اټوم بم (د لرې واټن ویشتونکي توغندي) وکارول سي ، بلکې د تعلیم د کیفیت ټیټوالی او زده کوونکو ته په ازموینه کې د نقل اجازه ورکول په اسانۍ ملتونه له منځه وړي**

**۱ : انجینر چې له ازموینې څخه په چم او فریب وتلی وي ، په لاس یې ودانۍ او جوړسوي سړکونه او پلان....نړیږي**

**۲ : هغه ډاکټران چې په ازموینه کې په نقل بریالي سوي وي ، په لاس یې ناروغان مري**

**۳ : هغه اقتصاد پوهان او د مالي چارو ماهرین چې په درواغو سند تر لاسه کړي ، اقتصاد مو نړوي او د خپلو شتمنیو او زیرمو مو بې برخې کوي**

**۴ : هغه قاضیان چې په نقل بریالي سوي ، د قضایي او عدلي سیستم بیخ باسي**

**۵ : د هغه کوچنیانو په ذهن کې ناپوهي د تل لپاره پاتې کیږي ، څوک چې په ازموینه کې په چل او درواغو بریالی سویو ښوونکو تر روزنې لاندې دي**

ketabton.com - The Digital Library

**٦ : مذهبي مخکښان چې په ورته لارو یې ځان فارغ کړی او حقیقت ته یې ځان نه وي رسولی، انسانیت او انساني ارزښتونو ته د پای ټکی ږدي**

**٧: د سیاسي ډګر لوبغاړي که په ورته شکل له پوهنتونه راووځي، وطن موخرځوي .**

**٨: د تعلیم د معیار ټیټوالی، د ځمکې له ګړې څخه د یو ملت د پناه کولو په مانا دی**

**...**

**د بهلول پهٔ هکله به مو دا حکایت نهٔ وی لوستئ؟**

**بهلول د یو مېلمه کوربه و، ماښام مهال مېلمه سره پهٔ خبرو اخته و چې د قاضي قاصد راغلی.**

**قاصد وویل: ښاغلی بهلول! قاضي صاحب غواړي چې تهٔ نن شپه زموږ مېلمه سې!**

**بهلول وویل: زما لهٔ طرفه قاضي صاحب څخه بخښنه وغواړه او ورته ووایه چې بهلول نن شپه خپل مېلمه لري او سستاسو مېلمستیا ته نهٔ سي درتلائ.**

**قاصد ولاړی او یو څو شېبې کرارسته بېرته راغلی، ویې ویل: ښاغلی بهلول! قاضي صاحب وایي چې د بهلول مېلمه ته هم سترګې پهٔ لار یو!**

**بهلول لهٔ خپل مېلمه سره یو ځای د قاضي مېلمستیا ته روان سو. بهلول پر لار مېلمه ته وویل: پام کوه، چېری چې زهٔ کښېنم تهٔ هم هلته کښېنه، څهٔ چې زهٔ خورم تهٔ یې هم خوره، تر څو چې پوښتنه در څخه ونهٔ سي، خبرې مه کوه او که د کوم کار غوښتنه در څخه ونهٔ سي، پهٔ خپل سر یې مه کوه!**

**مېلمه پهٔ زړهٔ کې خندل او ځان سره یې ویل: دېته ګوره، یو لېونی راته نصیحت کوي!**

**کله چې د قاضي مېلمستیا ته ورسېدل، خونه کې رنګارنګ مېلمانهٔ ناست وه، بهلول د دروازې څنګ ته کښېناست خو مېلمه ولاړی او د مجلس پهٔ هغه بل سر کې یې پښې وغځولې.**

**مېلمانهٔ کرار کرار زیاتېدل، هر نوی راتلونکی مېلمه د دروازې او بهلول منځ کې کښېناستهٔ او پدې ترتیب بهلول هم د مجلس بل سر ته ورسېدی!**

**څو شېبې کرارسته خواړهٔ راوړل سول او بیا پسې مېوه راورسېده. لهٔ مېوې سره چاقوګان نهٔ وه او ټول منتظر وو چې چاقوګان راورسېږي، چې تر څو دوی مېوې سپینې او پرې کړي.**

**د بهلول مېلمه ناڅاپه جېب ته لاس چخ کړ، طلایي لاستی والا چاقو یې راوکاږی او ویې ویل:**

ketabton.com - The Digital Library

**راځئ چي پۀ همدې چاقو مېوه پرې کړو او ويې خکرار!**

**ناست مېلمانۀ چاقو ته گوته پۀ غاښ سول ځکه چې چاقو ډېر ښکلی و او لاستی يې طلايي و.**

**مېلمانۀ حيران وه چې د بهلول مېلمه چې لۀ ډولې يو غريب او فقير انسان ښکارېدی ځنگه طلايي چاقو په جېب کې گرځوي!**

**پدې مېلمستيا کې شپږ کرارنه هم ناست وه ، د چاقو لۀ ليدو کرارسته يې يو بل ته اشاره وکړه او د بهلول مېلمه ته يې پلان جوړ کړ.**

**مشر کرارر قاضي ته مخ کړ او ويې ويل:**

**قاضي صاحب ، دا چاقو زما د پلار و ، ډېر کلونه کېږي چې ورک سوی ، دا دی اوس مو د دغه سړي په جېب کې پيداکړی . غواړو چې چاقو موږ ته بېرته راکړل سي او ياد کس ته خپله سزا ورکړل سي!**

**قاضي وويل: ايا د خپلې ادعا د ثبوت لپاره شاهد لرئ؟**

**تر ټولو مشر کرارر وويل: زۀ دلته پنځۀ کرارنه لرم ، ټول به زما خبره تائيد وي !**

**پنځو کرارنو يې خبره تائيد کړه!**

**کله چې قاضي د پنځو کرارنو شهادت وليد ، يقيني سو چې چاقو واقعا د دوی مال دی او د بهلول مېلمه ياد چاقو غلا کړی ، نو يې امر وکړ: دا سړی زندان ته واچوئ!**

**بهلول چې تر اوسه چپ و ، وويل: قاضي صاحب ، دا سړی نن شپه زما مېلمه و او ما دلته راوست ، اجازه راکړه چې نن شپه زما پۀ کور کې پاتې سي. سبا به يې زۀ درته وسپارم!**

**مشر کرارر وويل: قاضي صاحب ، دا هېڅکله مه ورسره منه چې بهلول دغه کس خپل کور ته بوځي ، ځکه چې بهلول به دغه کس ته داسې څۀ کرارښيي چې زما حق به لۀ منځه يوسي!**

**قاضي بهلول ته مخ کړ او ويې ويل: بهلوله! وعده راکوې چې دغه کس ته به څۀ نۀ ورښيې چې نن شپه يې درسره پرېږدم؟**

**بهلول وويل: قاضي صاحب ، زه ستاسو سره وعده کوم چې دغه سړي سره به يوه خبره هم نۀ کوم!**

**قاضي وويل: دا چې دا سړی نن شپه د بهلول مېلمه دی نو نن شپه دې بهلول سره پاتې سي او سبا به يې بهلول لۀ قول سره سم بېرته موږ ته سپاري!**

**شپږو کرارنو د ناچارۍ ومنله ، بهلول مېلمه کور ته بوتلی ، پر لاره يې يوه خبره هم ورسره ونۀ کړه او چې کور ته ورسېدل ، بهلول ځان سره پۀ لوړ ږغ وويل: ښۀ به دا وي چې د مېلمه خرۀ ته يو ځل سر ورښکاره کړم ، حتما به وږی او تږی وي!**

**مېلمه بهلول ته وويل: تۀ ورځه ارام وکړه ، خرۀ ته زۀ خپله ورځم.**

**بهلول بيله څۀ ويلو طبيلې ته ولاړی ، خرۀ پۀ اخور کي سر ټيټ کړی و او واښۀ يې خوړل.**

**بهلول دروند لرگی راواخېست ، خر يې پر دا شا وواهۀ ، خرۀ د درده پورته پورته غورځېدي!**

**بهلول خرۀ ته پۀ خطاب کې وويل :**

ketabton.com - The Digital Library

**ای خره! تاته مې ونۀ ویل چې کله مجلس ته داخل سوې خبرې مه کوه، هر ځای چې زۀ کېښناستم تۀ هم کښېنه، که چا در څخه څۀ ونۀ غوښتل، تۀ جېب ته لاس مه کوارږه ؟ ولې دې پردې خبرو ځان کوڼ واچوه ، هم خپله ښکېل سوې او هم زما د سر درد سوې! سبا به زندان ته ولاړی سې او ټول به وایي چې بهلول خپل مېلمه هم ونۀ ساتی!**

**بهلول خرۀ ته بل لرگی گش گړی او ورته ویې ویل: ای خره! که سبا قاضي درنه وپوښتل چې ایا چاقو ستا دی؟ نو ورته ووایه چې یا، زما نۀ دی بلکې ما پیدا کړیدي او زیات وخت یې کېږي چې خاوند پسې یې گرځم خو متاسفانه تر اوسه مې نۀ پیداکړي ، دا دی اوس مې پیدا کړي. که دا چاقو رښتیا هم د دغه شپږو کوارنېو وي، ورکوم یې.**

**که قاضي درڅخه وپوښتل چې چاقو دې چېرته پیداکړي؟ ورته ووایه چې پلار مې کلونه مخکې د یوې تجارتي قافلې مشري کوله، زیات مالونه به یې وړل راوړل او تجارت یې کاوۀ.**

**یوه شپه خبر راغلي چې پلار مې د لارو غلو قتل کړی او مالونه یې غلا کړي دي. کله چې د خپل بېچاره پلار و جسد ته ودرېدم، دغه چاقو مې د پلار پۀ زړۀ کې ښخ و. چاقو مې د پلار لۀ زړۀ راویست او پلار مې ښخ کړی. د هغه ورځې راهیسې د پلار پۀ قاتلانو پسې گرځم، پۀ هره مېلمستیا کې دغه چاقو په قصده سره ښکاره کوم او انتظار کوم چې د چاقو خاوند او زما د پلار قاتل پیدا سي. قاضي صاحب، اوس مې د پلار قاتل پیدا سو، همدغه شپږو کرارنېو زما پلار قتل کړی او زما د پلار مالونه یې غلا کړي. قاضي صاحب، امر وکړه چې زما د پلار مالونه بېرته راکړي او د پلار د وینې قصاص هم راکړي!**

**بهلول دا خبرې ظاهرا خرۀ ته کولې خو اصلي یې غوښتل چې د خرۀ خاوند یې هم زده کړي. خرۀ ته یې بل لرگی کش کي او ویې ویل: ای خره! پوه سوې که سهار ته دې بیا پۀ په لرگیانو پوه کړم؟**

**د خرۀ خاوند وویل: گرانه بهلوله! یواځې خر نه بلکې زۀ هم پو سوم او وعده کوم چې پۀ هېڅ مجلس کې به لۀ خپل شان لوړځای کې نۀ کښېنم، که راڅخه ونۀ پوښتل سي خبرې به نۀ کوم او که راڅخه ونۀ غوښتل سي، جېب ته به لاس ور نه وړم.**

**بهلول چې باوري سو سړی پوه سوی، ولاړی او بېغمه وبیدۀ سو. سهار یې سړی لۀ خوبه را کښینوي ، قاضي ته یې کرارستي او خپله بېرته کور ته راغلی!**

**قاضي د بهلول مېلمه ته مخ کړي او ورته ویې ویل: ایا دا چاقو ستا دی!**

**سړي وویل: یا، دا چاقو زما نۀ دی. زیات وخت یې خاوند پسې گرځم خو پیدا کولی مې نۀ سوای تر څو دغه چاقو بېرته ورکړم. دا چې دغه چاقو د دغه شپږو کرارنېو دی، زۀ یې پۀ لېوالتیا سره بېرته ورکوم!**

**قاضي یادو شپږو کرارنېو ته مخ کړ او ویې ویل: ستاسو چاقو وگورئ، که ستاسو وي نو وایېځلئ!**

**مشر کرارر چاقو واخېست او پۀ موسکا یې وویل: قاضي صاحب، زۀ باوري یم چې دا چاقو زما د پلار ورک سوی چاقو دی!**

**نکرار پنځو کرارنېو هم د مشر کرارر خبره تکرار کړه.**

**قاضي د بهلول لۀ مېلمه وپوښتل: تا دا چاقو چېرته پیدا کړی و؟**

ketabton.com - The Digital Library

سړي وويل: قاضي صاحب ، دا چاقو تر شا يوه خورا مفصله کيسه لري! پلار مې کلونه مخکې د يو لوی کاروان مشري کوله. د ښارونو تر منځ يې مالونه وړل او راوړل او تجارت يې کاوۀ. يوه شپه خبر راغلی چې پلار مې د لارې غلو قتل کړی او ټول مالونه يې غلا کړي دي!

کله چې زۀ د پېښې ځای ته ورغلم، ومې ليدل چې د پلار پۀ زړۀ کې مې دغه چاقو بند و، چاقو مې راويست، پلار مې دفن کړ او د هغه وخته د چاقو خاوند پسې گرځېدم ځکه چې د چاقو خاوند زما د پلار قاتل دی! لۀ همدې امله مې هر مجلس کې دا چاقو ښکاره کاوۀ تر څو خاوند يې پيدا سي!

قاضي صاحب، دا دی بالاخره زما د پلار قاتلين پيدا سول، امر وکړه چې زما د پلار مالونه بېرته راکړي او هم زما د پلار د وينې قصاص را کړي!

شپږو کرارښو يو بل ته وکتل، پۀ يو لوی مشکل او ناورين کې گير وه ، ځکه د خپلې درواغجنې ادعا لۀ امله د غلو او قاتلانو تر نامه لاندې کلونه کلونه زندان تېرولو ته اړ وو نو تر ټولو مشر کرارر وويل: قاضي صاحب، زۀ ډېر باوري نۀ يم چې دا چاقو به زما د پلار مال وي، دا چې زيات کلونه تېر سوي نو فکر کوم اشتباه مې کړې ده!

نکرار پنځو کرارښو هم لۀ ناچارۍ د مشر کرارر خبرې تائيد کړې او ويې ويل: دا چاقو فقط زموږ د پلار چاقو ته ورته دی خو هغه نۀ دی!

قاضي ډېر وخندل او د بهلول مېلمه ته يې وويل: چاقو دې واخله او بهلول ته ورسه. زۀ باوري يم چې دا خبرې بهلول درښودلې دي او تۀ هېڅکله نۀ توانېدې چې داسې خبرې وکړې!

سړي د شکر سجده وکړه، چاقو يې واخېست او ولاړی!

...

يو عرب دوه ښځې درلودې، يوه له رنگه توره او بله سپينه وه، ده غوښتل چې يوې ښځې ته طلاق ورکړي، خو دا ورته سخته وه چې کومه يوه بايد طلاقه کړي.

ددې کار لپاره يې د دواړو تر منځ د ښه شعر مسابقه دايره کړه، ويې ويل هر چا چې ښه شعر وويلې او بريالۍ سوه، هغه به پاتې کيږي او ناکامې ته به طلاق ورکوم.

تور رنگې ښځې وويل:

"ألم تری المسك لا شئ مثله

وأن بياض الملح بيع بدرهم

وأن سواد العين لا شك نورها

ketabton.com - The Digital Library

**وأن بياض العين لا شئ فاعلم"**

**ژباړه:**

**آيا ته نه ګورې چې مشک تور دي، خو بيا هم بې مثاله دي، او سپينه مالګه په يوه درهم ده.**
**او په دې هم پوه سه چې د سترګو سپين هيڅ ګټه نه لري، بېشکه چې د سترګو تکرارالى نور لري، په همدې هر څه وينو/ديدکوو.**

**سپينې ښځې وويل:**

**"ألم ترى أن البدر لا شئ مثله**
**و أن سواد الفحم بيع بدرهم**

**وأن رجال الله بيض وجوههم**
**ولا شك أن السواد أهل جهنم"**

**ژباړه:**

**آيا ته نه وينې چې د څوارلسمې سپوږمۍ څومره ښکلې ده، ددې په ډول سپين هيڅ څه نسته او يقيناً چې تور سکاره په يوه درهم دي.**
**يقينا د خداى د بندګانو/مومنانو مخونه به سپين وي او د دوزخيانو رنګونه به تور وي.**

**سړي چې د دواړو ښځو شعرونه واورېدل، متاثره يې کړي، ډېر خوند يې ورکړ ياو درېيم واده يې له يوې غنمرنګې ښځې سره وکړي**

**...**

**کتاب "البخلاء" چاچي د مشهکرار بخيلانو کيسې يې راخستي دي.**

**يو وخت د يو بخيل کره يو مېلمه ورغلي. پلار خپل زوى ته وويل: دا مېلمه پرما د زړه ګران دى .**
**بازار ته ولاړ سه او د بازار تر ټولو ښه غوښه راوړه. (مېلمه د دوى خبرې اوري) زوى يې بازار ته ولاړى او بېرته راغلى بې له دې چې څه واخلي.**

ketabton.com - The Digital Library

**پلار: غوښه چیري ده؟**
**زوی: زه د غوښو قصابۍ ته ورغلم او ورته مې وویل: تر ټولو ښه غوښه راکړه. هغه وویل: زه به داسې غوښه درکړم لکه خواږه کوچي.**
**نو ما د ځان سره وویل، که خبره داسې ده، نو کوچي به رانیسم. د کوچیو دوکان ته ولاړم او ورته مې وویل: تر ټولو ښه کوچي راکړه.**
**هغه وویل: زه به درته داسې کوچي درکړم لکه خواږه شات نو ما د ځان سره وویل، کشکي شاترانیسم.**
**د شاتو دوکان ته ولاړم او ورته مې وویل: تر ټولو ښه شات راکړه. هغه وویل: زه به داسې شات درکړم لکه صفا اوبه.**
**نو ما وویل صفا اوبه خو زموږ په کور کې سته، نو بېرته راغلم پرته له دې چې څه واخلم.**

**پلار په خندا ورته وویل: ماشاءالله! ته هم زما په ډول سخي یې.**

**پلار کرار زوی ته په غوږ کې وویل چې مېلمه یې وانه وري: خو یو کار دي غلط کړی دی په ډېرو ګرځېدلو دې جمپلان سولولي دي.**
**زوی ورته وویل: پلار جانه، غم مه کوه، ما د مېلمه چمپلان په پښو کړې وه**

**...**

**د عبرت څخه ډکه کیسه!**

**یوه چرسي یو نفر ته وویل چې د چرسو لپاره یو څه پیسې راکړه ، هغه نفر ورته وویل چې راسه خوراک درکوم خو د چرسو لپاره پیسې نه درکوم ، چرسي راته وویل چې رزق ورکوونکی بل څوک دی که د چرسو لپاره پیسژ راکوې را یې که کنې ولاړم در څخه .**
**نفر وایې ما یو څه پیسې ورکړې او په چرسي پسي سوم ، زه هـم پسې روان سـوم . یو ځای کې واده و او یو سړي غټ پتنوس کې وریجې راخېستې وې ، هغه پتنوس ځیني شوه سو او وریجې چپه سوې . دا چرسي ورته کښېنستی چې خوراک یې شروع کړی ، زه یې ولیـدم ماته یې یوه جمله وویله چې هغه جمله به زما ټول عمر په یاد وي...**
**راته یې وویل چې دا وخت مې لږ تعلق ورسره خراب دی کنې په لوښې کې به یې رزق راکوی ،**
**خو 《کریم رب》 دونده مهربانه دی چې د چا څخه خوابدي هـم وي بیا یې هـم وږی نسي لیـدلای ، او رزق ورکوي . بېشکه چې الله بهترین رزق ورکونکی دی.**

**...**

ketabton.com - The Digital Library

**وايي د يو عالم د کور دروازه و ټکېده، چې دباندي ور ووتي گوري ملگری يې دی.**
**پوښتنه يې وکړه خيريت دی**
**ويل يې خيرت دی صرف ۴۰۰ درهم مې پکار دي**
**عالم عاجل کور ته ننوتي او ۴۰۰ درهم يې ورته راوړل**
**چې عالم بيرته کور ته ننوتي نو ډير يې وژړل، ښځې يې ورته وويل چې ۴۰۰ درهم دي نه زړه کيدله خو نه به دې ورکولای.**
**عالم ورته وويل د درهمو په ورکړه نه يم خوابدي ، بلکې خوابدي په دې يم چې زه يې څونده بې پروا ملگری يم، ما يې تر اوسه د حال پوښتنه نه وه کړې او هغه دونده سخت مجبوره سو چې ماته يې لاس ونيوي.**
**...**
**يوه دپند او خوند کيسه ولولي**
**يوه ورځ عبدالله بن عمر رضی الله عنه پر لار روان وو چې گوري يو غلام ناست دی ! او غلام ته نږدې يو سپی هم پروت دی . غلام د خورما گوله خولې ته کړه ، بيرته يې راوويستله او سپي ته يې کرارغورځوله . عمر رضی الله عنه ورته وويل : دا سپی ستا دی ، حبسي جواب ورکړ چې يازما نه دی.**

**ده ورته وويل : نو بيا دې ولې له خپلي خولې څخه گوله راوويستله او سپي ته دې ورکړه ؟**
**حبسي غلام جواب ورکړی چې د سپي د دواړو سترگو څخه حيا راته دريږي چې زه يې خورم او سپی راته گوري .**
**عمر رض ... ورته وويل چې ته آزاد يې او که غلام ؟**

**حبسي ورته وويل چې زه د بني غاضرة غلام يم . عمر رض ... هغوي ته ورغلئ او پوښتنه يې وکړه چې دا غلام د چا دی ؟ د غلام مالک ورته وويل چې دا زما دی . عمر رض ... ورته وويل چې دا پر ما خرڅ کړه ! هغه ورته وويل چې بس ستا سو . عمر رض ... جواب ورکړي چې يا په خدای مې دې قسم وي چې يا به يې پيسې اخلې او يا به غلام بيرته ستا کيږي . بيا يې غلام په پيسوځي‌ني رانيوی.**
**او ويې ويل چې تاسې شاهدان گرځوم چې دی د الله ﷻ د رضا لپاره آزادوم.**

**حضرت عمر رض ... غلام ته ورغلئ او زيری يې پر وکړي چې مبارک دي سه الله ﷻ آزادي درپه تصيب کړه او يوه باغچي يې ورته وښووله چې دا باغچي هم ستا په ملکيت سوه ! حبسي غلام ډير خوشحاله سو او ويې ويل چې بس نو ددې باغچې ټوله ميوه د مدينې دفقيرانو لپاره خيرات گرځووم . عمر رض ... ډير حيران سو او غلام ته يې وويل چې درته حيران يم ټول دې خيرات کړه ، سره له دې چې ته پخپله هم فقير او ورته محتاج يې.**
**غلام په ډير قوي ايمان سره جواب ورکړي چې له الله ﷻ څخه شرميږم چې هغه پر ما سخا کوي او زه بيا په هغه**

ketabton.com - The Digital Library

**کې بخل وکړم.**

**حبیب الله**

**...**

**لنډه کیسه او عبرت**

**د موسې علیه السلام په وخت کې یوه ښځه کونډه سوه چې یو کوچنې زوې یې درلودې ښځې بل خاوند ونه کې**
**خپل ماشوم زوې سره یې ژوند کاوه کلونه کرارسته زوې یې ځوان سو**
**زوې یې چې کله ځوان سو هره ورځ به د شپې کور ته ناوخته راتلې**
**هره ورځ به یې ورته مور نصیحت کاوه خو پر زوې یې هیڅ تاسیر نه کاوه**
**د څو ورځو نصیحت کرارسته بیا زوې یې ناوخته کور ته راغلې**
**مور یې ورته بیا نصیحت وکړي زوې یې خپله مور ډیره کلکه کلکه ووهله او په یوه پارسل کې یې واچوله یولیږې**
**ځنګل ته یې یوړه هلته یې وغورځوله**
**الله جل جلاله موسې علیه السلام ته د جبراییل په واسطه وحې وکړې چې ولاړ سه هغه ځنګل ته هلته زما یوه بنده**
**ده د هغې حال وګوره**
**کله چې موسې علیه السلام ځنګل ته ولاړی پارسل یې ولیدهې پارسل ته یې غوږ ونیوی چې د د پارسل څخه**
**داسې اواز راځې**
**یا الله جل جلاله ته زما پر سر زما د زوې حخه مه خفه کیږه هغه ته مه په قهر کیږه همداسې زارې یې الله جل**
**جلاله ته کولې**
**موسې علیه السلام له کیسې څخه خبر سو الله جل جلاله موسې علیه السلام ته وویل وګوره چې دا مور پر خپل**
**زوې څومره مهربانه ده**
**او بیا یې ورته وویل چې زه د دغې مور څخه اویا واري ډېر مهربانه یم**
**حبیبی عمرزی.**

**...**

**په بغداد کې یو وخت د باچا له دربار‌ه سره زر ورک سول ، اوازه خپره سوه ، باچا خبرداری ورکړ ، باید غل پیدا سي.**
**یوه تجار ولیدل چې یو کس د ګوتو پر سرو روان دی، پوښتنه یې وکړه دا څوک دی، وې ویل دا ولي د زمانې**
**دی، ولې داسې مزل کوي، وې ویل دا ځکه چې یو شی یې تر پښو لاندې نه سي، وې ویل همدا غل دی، تاجر**

ketabton.com - The Digital Library

ولاړې او باچا ته وويل چې پلانی سيخ ستاسې غل دی.
باچا په غوصه سو، وې ويل، د خدای ظالمه هغه د الله ج ولي دئ باچا حکم وکړی چې سړی بندي کړئ!
سړي عرض وکړ صاحبه يو وار يې کور تالاسي کړئ، که غلا ده نه وه کړې بيا مو زه هره سزا منم.
باچا عسکر د بزرگ کور ته ور واستول .د باچا ساتونکو سره زر د بزرگ په کور کي پيدا کړل او بزرگ يې راوستي.
باچا له تجار څخه پوښتنه وکړه، ته څنگه پوه سوې چې دا غل دی.
سړي وويل، يوه ورځ مې ښځې راته وويل چې د کور ونه آره کړم، ما پوښتنه وکړه ولې؟
ويل يې زه چې سر ږمنځ کومه نو مرغه زما وريښتانو ته گوري.
سړي شکر وکښي ،چې يوه حياناکه مېرمن ور په نصيب سوې ده، زړه يې ډاډه سو او ونه يې و ريبل، سړی د بغداد څخه بهر د تجارت لپاره ولاړی، څو هفتې بعد چې کور ته راغلی نو د مېرمني سره يې بل څوک پروت دي ، تجار باچا ته وويل، څوک چې ترحد زيات دينداري ښکاره کوي، په حقيقت کې هغسې نه وي، نو دا غل هم ځان ولي يعنې ديندراه ښوي.
ژباړن شمس الرحمن شمس
...

يوه مور ده په دنيا کې چې زړگی پرې راټوليږي.

د مور جالبه کيسه!!

يوه مور د خپل ناروغه زوی د کټ خواته ناسته وه او ژړل يې .
ملايکه راکښته سوه, مور ته يې وويل:
اې مورې ! زه د الله ﷻ له خوا راغلې يم، ووايه چسي غواړې؟
مور ملايکې ته وويل:
له الله ﷻ څخه غواړم, چی زما زوی ته شيفا ورکړي. ملايکې وويل: پښيمانه کيږې خو به نه؟
مور جواب ورکي
يا!
ملايکې وويل:
اوس دې زوی روغ سو، خو تا کولای سول, چې دخپلو ړندو سترگو غوښتنه دې کړې وای...
يوه ورځ زوی مورته وويل:

ketabton.com - The Digital Library

**مورې ! زما میرمن له تا سره یوځای ژوند نسي کولای، غواړم چي تاته یو جلا کور در پیداکړم, ترڅو ته هلته جلا ژوند وکړې...**
**مور له کور څخه بهر سوه, یواځې کښیناستله او په ژړا شروع سوه.**
**ملایکه بیا راکښته سوه مور ته یې وویل:**
**ودې لیدل چې ستا زوی ستاسره څه وکړل؟**
**اوس پښیمانه سوې؟**
**غواړې چې ورته ښېرا وکړې؟**
**مور وویل: یا پښیمانه نه یمه او نه هم ښېرا ورته کوم، ته څه پوهیږې؟**
**ملایکې وویل:**
**بیا هم دالله ﷻ رحمت پرتا سوی،له الله ﷻ څخه دخپلو سترګو دید غواړې؟**
**مور په ډاډ سره وویل،یا! ملایکې وویل, نو چسي غواړې؟**
**مور جواب ورکړ:**
**له الله ﷻ څخه غواړم چي مرور مې ښه او زړه سوانده ښځه وي او وکولای سي چی زما زوی بختور کړي, ځکه زه نوره هلته نه یمه چې له خپل زوی څخه څارنه وکړم.**
**دملایکې له سترګو څخه اوښکې روانې سوې او د اوښکو دوه ځاځکي دمور په سترګو کې ور توی سول او سترګو یې دید پیدا کړ.**
**کله چې مور دملایکې اوښکې ولیدلې, ورڅخه ویې پوښتل:**
**ملایکې هم ژړا کوي؟**
**ملایکې وویل: هو!**
**خو یواځې هغه وخت اوښکې تویوي او ژاړي چې کله الله ﷻ وژاړي.**
**مور پوښتنه وکړه:**
**الله ﷻ هم ژړا کوي؟**
**ملایکې جواب ورکړ:**
**الله ﷻ همدا شیبه په لیوالتیا دخپل خلقت, چې نوم یې مور ده ژاړي. یاني چې مور ژاړي; الله تعالی هم ژاړي ...**

**څنګه د ګناه څخه ځان بچ کړو؟**
**امام غزالي (رحمه الله) په خپل کتاب (احیاء العلوم) کې لیکلې دي:**
**سلیمان بن یسار (رحمه الله) ډېر پرهېزګار او د ښکلي صورت خاوند وو، یوه ورځ دی او یو بل ملږری د حج په سفر روان سول، کله چې د ابواء مقام ته ورسېدل، نو د خوراک سامان ورسره کم سو، سلیمان بن یسار (رحمه الله) په**

ketabton.com - The Digital Library

خېمه کې کښېناست او دا بل ملګری یې بازار ته ولاړی چې د خوراک یوڅه سامان د ځان سره راوړي.
په دې وخت کې یوه ډېره ښکلې ښځه خېمې ته راداخله سوه او سلیمان بن یسار (رحمه الله) ته یې اشاره وکړه، دهٔ دا ګمان وکړ چې کېدای سي دا ښځه ډوډۍ غواړي، نو یو څه ډوډۍ یې ورته راواخیسته. ښځې ورته وویل: زه ډوډۍ نه غواړم، بلکې هغه څه غواړم چې ښځه یې د سړي څخه غواړي.
کله چې سلیمان بن یسار (رحمه الله) دا خبره واورېده، نو په زړه کې یې دا خیال راغلی چې زه خو بیت الله ته د حج لپاره روان یم او شیطان ګوره چې دا ښځه یې خپله نمائنده جوړه کړه او زما د ایمان خرابولو لپاره یې ماته راولېږله، دلته هم د شیطان د جال څخه خلاص نه سوم، نو په ژړا سو او ډېر زیات یې وژړل.
کله چې ښځې د سلیمان بن یسار (رحمه الله) ژړا ولیده، نو ډېره شرمنده سوه او بیرته ولاړه.
سلیمان بن یسار (رحمه الله) چې کله حج ته ولاړی، طواف یې وکړي، بیا هلته یو ځای بیده سو، په خوب کې یې یو ډېر ښکلی کس ولیدي چې خوشبو ترې راتله، سلیمان بن یسار (رحمه الله) پوښتنه ځني وکړه: ته څوک یې؟!
هغه ورته وویل: زه یوسف (علیه السلام) یم.
سلیمان بن یسار (رحمه الله) ورته وویل: هغه پېغمبر یوسف یې؟!
هغه ورته وویل: هو! هغه پېغمبر یم.
سلیمان بن یسار (رحمه الله) ورته وویل: ستا او د زلیخا خو ډېره عجیبه واقعه تېره سوې ده، (چې تا د ګناه څخه ځان خلاص کړی وو).
یوسف (علیه السلام) ورته وویل: ستا او د ابواء په مقام کې د ښځې واقعه خو ډېره زیاته عجیبه ده، (ځکه ما چې د ګناه څخه ځان ساتلی وو، نو زه خو پېغمبر وم، زما سره د الله تعالی ډېر غټ کومک وو؛ او تا چې د ګناه څخه ځان بچ کړي دا ډېره جالبه ده، ځکه ته خو پېغمبر هم نه یې، بلکې د الله تعالی یو ولي یې او بیا دي هم ځان د ګناه څخه بچ کړي).
یادونه : کله چې د انسان په زړه کې د الله تعالی څخه بیره لري ، نو بیا داسې د ګناه څخه ځان بچ کوي، لکه څنګه چې سلیمان بن یسار (رحمه الله) ځان د ګناه څخه بچ کړ، نو پکار دا ده چې موږ او ستاسو همېشه د الله تعالی یاد په زړه کې ولرو، کنې نو بیا به مو خدای مکړه انجام ډېر بد وي....

## هغه اتل صحابي چې زمری یې وواژه!

هاسم بن عتبة بن ابی وقاص د خپل د خپل اکا (سعد بن ابی وقاص) سره په یوه غزوه کې ګډون درلودي، اکا یې د لښکر مخکښ امیر و. غزوه د فارسیانو په ځینو ښارونو کې پیل سوه ترڅو هلته د اسلام مبارک دین خپور سي او خلک د بنده له بندګۍ څخه تېر او دیوه متعال خدای (جل جلاله) بندګۍ ته ژمن و اوسي.
په دې غزواتو (غزاګانو) کې یاد هاسم (رضی الله عنه) د لمر په ډول وځلېدي. نوموړي هلته د صحابه و په زړونو

ketabton.com - The Digital Library

کې ځای پیداکړی ، کله چې د "نهر شیر" سیمه فتحه سوه او غازیانو د "مظلم ساباط" د نیولو له پاره تیاری نیوی ، دواړه اړخه خپلې لښکرې د جګړې له پاره اماده کوي؛ خو دا وار د جګړې مهارول مسلمانانو ته ستونزمن برېښېده؛ ځکه فارسیانو د ځان سره یو ځواکمن او په جنګي تکتیک پوه د کسرا "زمری" هم راویستی.

فارسیانو یاد زمری د مسلمانانو پر لښکر را ایله کړي، هغه د مسلمانانو پر لښکر په خلاصه خوله او د بیرونکي اواز په بدرګه ور وځغستل .

هاسم (رضی الله عنه) له لښکر څخه ور جلا سو، متې یې را ونغښتلې ، دیو غښتلي زمري په ډولیې د زمري پرخوا بېله کومې بیري ور روان سو !

دواړه طرفه د یاد اتل ننداره کوي؛ حیران دي! څنګه یو ځوان د مست زمري سره جنګ کوي.

د باد په ډول یې د زمري پنجو ته ځان ورساوه؛ د توري وارونه یې پر شروع کړل؛ تر لږ ځنډ کرارسته یې زمری قتل کړي.

کفري لښکرو چې یاد حالت ولېدي ؛ تنې یې ولړزېدې؛ نور یې د مقاومت توان له لاسه ورکړی؛ ځواکونه یې تېښتې ته نږدې دي، وایې: چې دا څنګه انسانان دي، چې د زمریو سره جنګیږي ؟!

خو لا یې مقاومت کاوه. اسلامي لښکر د "الله اکبر" په زمزمه حمله شروع کړل، یاد اتل د لښکر په مخ کې دی، نور لښکر تر شاه جګړه په شدت سره روانه کړیده . کفري لښکرې د "بوران" په نامه وي، هغوی به تل قسم اخستي ، چې دژوند تر کرارستی سلږی به نه تښتې.

یاد اتل دا ایت په لوړ اوازوویل:

ژباړه: آیا تاسو قسم نه اخستي چي د قیامت دمخه به تاسو د دنیا څخه نه ځې؟

الله پاک د کسرا لښکر د یاد اتل په لاس مات او د جهنم ژورې کندي ته ور ولېژلې.

د جنګ امیر سعد (رضی الله عنه) د خپل وراره (هاسم) پر سر مچ کړي دهغه د مېړانې او اتلولۍ له کبله، هغه د احترام په خاطر د خپل اکا پښې مچ کړې. په هغه ورځ د یاد اتل توري ته د "منن/متین" نوم ورکول سوی.

ولقب سیف هاسم من ذلك الیوم بـ" المنن."

یادونه: مورخینو د یاد اتل لقب "مقال/مرقال، قاتل الاسود" یاد کړی؛ ځکه هغه مبارک د کسرا زمری وواژه او یو قسم تګ به یې د جګړې پر مهال کاوه.

د کسرا د زمري نوم "مرقط" یاد سوی.یادې کفري لښکرې د "بوران" په نامه یادې سوې.

ketabton.com - The Digital Library

**المرجع: [التاريخ الاسلامي، سقوط المدائن ص ۲۰] و مثلها في [البداية والنهاية ج۷] مع تغير ما.**
**الله پاک دي موږ ته د صحابه و پر تګلاره ژوند را په برخه کړي امين! رضي الله عنهم اجمعين.**

## د ژباړې برخه

## بګۍ والا او سردار محمد داود خان

**یو وخت د کابل په ښار کي د خوراکي توکو، عراده جاتو او نکرار لپاره نرخونه وټاکل سوه .**
**یو وخت سردار محمد داود خان ته خبر و رسیدي چي په بازار کي خلک د حکومت وضعه سوی نرخونه نه مني! نو سردار محمد داود خان خپل کالي بدل کړل، زاړه کالي یې واغوستل او د ښار پر لور روان سو. په بازار کي د آس بګۍ ته ودریدي او ورته یي وویل چي تر کوټه سنګي پوري مي په څو بیایې د بګۍ خاوند ورته وویل چي د زه د دولت پر نرخ باندی کار نکوم**
**سردار داود خان وراه وویل چي ۲۰ افغانۍ چي درکم سنګه دي.**
**بګۍ والا یوه څه لانور ور لوړ سه**
**داود خان ۳۰ افغانۍ**
**بګۍ والا یوڅه لا نور ورپورته سه**
**داود خان ۴۰ افغانۍ**
**بګۍ والا ول یو څه لا نور ورپورته سه**
**داود خان ۵۰ افغانۍ**
**بګۍ والا ول چکچکي درځه دخیره**
**تر یو څه ځایه چي وولاړیل سره بګۍ والا مخ پر راواړوي چي عسکر یې**
**داود خان ویل یو څه نور لوړ سه**
**بګۍ ولا قومندان یې**
**داود خان یو څه لا نور لوړ سه**
**بګۍ والا جنرال یې**

ketabton.com - The Digital Library

**داود خان یو څه لا نور لوړ سه**
**بګی ولا ستر جنرال يې**
**داود خان یو څه لا نور لوړ سه**
**بګی ولا مارشال يې**
**داود خان یو څه لا نور لوړ سه**
**بګی والا لومړی وزیر سردار محمد داود خان يې**
**سردار محمد داود خان چکچکي**
**بګی والا بیا وویل چي اوس مي نو جرمانه کوي**
**داود خان یوڅه نور لوړ سه**
**بګی والا بندي کوي مي**
**داود خان یوڅه نور لوړ سه**
**بګی والا وهي مي**
**داود خان یوڅه نور لوړ سه**
**بګی والا راځړوي مي یعني مړکوي مي**
**داود خان چکچکي**
**که چیري په اوس وخت کي دغسي یو دوي دري چکچکي وسي خودبخوده به نرخونه کنټرول سي.**
**ژباړن: سیداحمد سعادت**
**وخت: ۱۳/٦/۱۴۰۳**
**...**

**ایا ستاسو پوهیږی؟**

**ژباړن: سیداحمد سعادت**

**چي په ۱۹۳۰ میلادي کال کي یو بس د هندوستانه څخه وه انګلینډ ته سفر کاوه، دا بس د هغه وخت تر ټولو دنویو بسو او سهولتونو څخه وو.**
**دا بس په ټوله کي( ۱٦۱۰۰) کیلوماکا فاصله وهل چي دا سفر تقریباً(۵۰) ورځي نیولي چي دا بس د هندوستان د مختلفو ښارو څخه شروع افغانستان ته بیا ایران ،ترکیه او بیا د اروپا هیوادو څخه تیریدي چي په آخره کي د دانګلستان لندن ښار ته ننوتي. دبس د شرکت مقصد یوازي دا نه وو چي خلک نوي تجربي ترلاسه کړی بلکي خلکو ته یي ور ښوله چي په نوي عصر کي تر لیرو لیرو ځایو پوری سفر کول ترڅومره حده امګان لري. پدي سفر کي مسافرو یوازي دانه چي د مختلفو هیوادو څخه یې لیدنه کول بلکي د مختلفو رواجو ، مختلفو ثقافتو لیدنه یي هم**

ketabton.com - The Digital Library

**له نژدې څخه کول.**

**دا بس یو یادوګاري د تجربو او خاطرو څخه ډک وو چې اوس هم خلک ورته په حیرانتیا کې پاتیږی**

**ژباړونکی: سیداحمد سعادت**

**...**

**په امریکا کې د ازادی مجسمه د زابیلا بوئیر ده**

**د هغې ژوند د یو شایسته ناول په رقم دی. هغه په فرانسه کې د یو افریقایي کښتیوان او د یوې انګریزی لور ده.**

**زابیلا یو شایسته اانجلۍ وه هغې په شل کلنۍ کې د یو دخیاطۍ د ماشین جوړونکی ائزک سنګر چې د ۵۰ کالو وو واده وکی.**

**ازابیلا د خاوند ترمرګ کرارسته د هیواد د شتمنو ښځو څخه یوه ښځه سوه.**

**دا د حیرانتیا خبره نده چې هغه د ازادی د مجسمې لپاره انتخاب سوه.  ځکه هغې د امریکا د آزادی لپاره خوبونه لیدل او مبارزه یې کوله**

**ازابیلا په دنیا کې ډیر سفرونه وکړل چې آخر یې د (ډوچ  وائلنسټ وکتېر روبیستیټ) سره دوهم واده وکی. چې پدې سره ازابیلا په اروپا او امریکا کې یوه کامیابه شخصیت سوه . ازابیلا د فرانسوي (فریډرک بارتهولډی) سره ولیدل . بارتهولډی د هغې د شایسته او د تاریخ څخه متاثره سو او دهغې څهره یې د آذادی د مجسمې لپاره انتخاب کړل.**

**کرارسته ازابیلا دریم واده هم وکی او تر هغه کرارسته په ۱۹۰۴ کې په پارس کې د ٦٢ کالو په عمر مړه سوه.**

**د هغې څهره اوس هم د نیویارک د مسهکرار او د ازادی د مجسمو څخه یوه مجسمه ده چې امریکا ډیر افتخار په کوي.**

**لیکوال:  طاهر راجپوت**

**ژباړونکی: سیداحمد سعادت**

**۸/۵/۱۴۰۳**

**...**

**د فرعون یوه جمله وه نفر تیتي ته**

**په تاریخ کې لومړنی په زړه پوري او مینه ناکه جمله د مصر په اهرامو کې دننه پر دیوال لیکل سویده**

**دا جمله فرعون د خپلې میرمنې (نفر تیتي) لپاره ویل او بیا به یې پر یوه ډبره لیکل**

ketabton.com - The Digital Library

جمله داسي وه( لمر يوازي ستا د ديدار کولو لپاره راخيژی(
تاريخ پوهان د اهرامو تر مطالعه کولو کرارسته وايي چي فرعون د ۵۴ نکرار ښځو سره واده کړی وو
ژباړونکی: سيداحمد سعادت
۸/۵/۱۴۰۳
...

تنهی
يوه ورځ يوه انگريز ملږری مي راته وويل چي سستاسو ښځي د خپلو خاوندانو سره ډيره مينه لري.
ما ورته وويل چي څه درته معلومه سوه
هغه وويل چي زه يوه ورځ په انگلينډ کي د يوه پښتون ملږری کورته ورغلم چي گورم ميرمن يي په قميص کي غوټه (تنهی) کښينوي چي تنهی يې کښينول هغه تنهی يي مچ کړل بيا يي دوهم تنهی پکښي کښينول او هغه يې هم مچ کړل نو زما قصد په وسو چي کشکي زموږ ميرمنو زموږ سره هم دونده مينه درلوداى.
ما ورته وويل چي هغه تنهی نه مچوي بلکي په غاښو د ستني تار پري کوي

ژباړونکی : سيداحمد سعادت
۸/۵/۱۴۰۳
....

ماهيان او لوحه
ژباړونکی: سيداحمد سعادت

يو ورځ يو نفر دماهيانو د دوکان د رايستلو اراده وکړه

نو يې د دوکان دپاره يوه شايسته لوحه جوړه کړه چي پر ليکلي وه ( دلته د خوړو اوبو تازه ماهيان خرڅيږی.(

لوحه جوړه سوه چي رايې وړل وس نو سړی خپل ملږرو ته ږغ کرارکي چي چي دا درنه لوحه د دوکان پر مخ ورسره را وځړوي

يوه ملږري چي يې لوحه وويل پوښتنه وکړه آياستا دماهيانو د کاروبار يوه بله ځانگه هم سته؟

ketabton.com - The Digital Library

سړی وویل یا

ملږري يې وويل چي د (دلته) لغات اضافه دی، نو لوحه یی داسی جوړه کړه (دخوړو ابو تازه ماهیان خرڅیږی.(

دوهم ملږری يې وويل چي دلته د خوړ اوبو دماهيانو څخه ماسیوا د تروو اوبو ماهیان هم خرڅیږی؟

سړی وویل یا

نو د خوړو اوبو لغات پکښي اضافه دي، نو لوحه يي داسي جوړه کړه(تازه ماهيان خرڅيږی.(

دريم ملږری يې وويل چي زاړه ماهيان هم خرڅيږی؟

سړی وویل یا

ده بيا وويل چي د تازه لغات اضافه دی، نو يې لوحه داسي جوړه کړه( ماهيان خرڅيږی.(

يو بل  ملږری يې وويل چي د ماهيانو علاوه بل شی هم خرڅيږی؟

سړی وویل یا

نو ده وويل چي د ماهيانو لغات يې اضافه دي نو لوحه داسي جوړه کړل( خرڅيږی.(

آخر يو نابغه ملږری يې وويل چي مفت يي هم ورکوی؟

سړی وویل یا

ده بيا وويل چي د خرڅيږی لغات اضافه دی نو هغه يي هم پاک کړی

ټولو ملږرو چي سپينه لوحه وليدل چي هيچی ندی پر ليکل سوی نو يې وويل دا پالتو لوحه نو سړی څه کوي نو

ketabton.com - The Digital Library

يې دباندې وغورځول.

نوټ: په افغانستان کې یو څوک واک ته د رسیدو دمخه خورا د وعدو شایسته لوحه ورڅخه وي کله چې ښاغلی واک ته ورسیدی نو هغه وعدې په مسکرار ، موسساتو ، مالیه ، اوسیاست پوری وتړل سی

آخر یوه ورځ خلک دډیرو پلمو څخه ستړی سي او لوحه د باندي وغورځوی

ژباړونکی: سیداحمد سعادت

۲۶/۴/۱۴۰۳

...

محمود غزنوي او یو سوالگر

دمحمود غزنوي په زمانه کي سړی ناروغه سو نو دا سړی وولاړیي یو طبیب یې پیداکړي او طبیب ته یې خپله ناروغی بیان کړل نو طبیب ورته وویل ستا د ناروغی لپاره چي کوم څه پکار دي هغه ټوله سته ماسیوا له عسلو څخه نو ته به داسي وکړی چي یوڅه عسل به پیدا کي.

سړي د طبیب څخه یو لوښی واخستی روان سو چي عسل پیداکړي سړی کور په کور گرځی دروازي ټکوي چي عسل پیدا کړي چي د هر کور دروازه وټکوي د هغې خوا بیرته ناهیلی راسي د ډیري ناهیلی څخه سړی مجبوره سو د محمود غزنوي دربار ته ورغلی کله چي یې د دربار دروازه ور وټکول نو ایاز دروازه ور خلاصه کړل (ایاز د محمود غزنوي یو مریی وو) سړي خپله ټوله کیسه وه ایاز ته وکړل او لوښی یې ورته ونوي چي چي پدي کي یو څه عسل راکړی ایاز لوښی څني واخستي او ورته یې وویل ته دلي ودریږه چي زه خپل بادار ته ووایم ایاز وولاړیی او محمود غزنوي ته یي وویل چي یو سوالګر راغلی دي پدي لوښی کي یو څه عسل غواړی محمود غزنوي لوښی څني واخستی او یو بغلته یې کښیښوی ایاز ته یې وویل چی هغه دری ډبې عسل واخله وریې کړه.

ایاز وویل باچا صاحب هغه لږڅه عسل غواړی او ته دری ډبې عسل ورکوي

محمود غزنوي ورته وویل ایازه هغه یو سوالګر دي د خپل حیثیت مطابق یې غوښتنه وکړه موږ باچاهان یو د خپل

ketabton.com - The Digital Library

**حیثیت مطابق یې ورکوو.**

**مولانا رومي صاحب وایې**

**د الله ج څخه د خپل حیثیت مطابق غوښتنه وکړی الله ج یې د خپل شان مطابق درکوي**

**په شرط ددي چي په صحیح ډول یې وغواړی**

**۲۵/۴/۱۴۰۳**

**ژباړونکی: سیداحمد سعادت**

**...**

**دیو نفر حسد د امام ابوحنیفه رح سره**

**دحضرت امام ابو حنیفه رح پلار مړ سو درې ورځي په دفن فاتحه او ختم کي تیري سوي کله چي امام ابو حنیفه درې ورځي کرارسته دباندي یو چوک ته را ووتي نو هلته یو نفر و چي د امام صاحب سره یی ډیره کینه او بغض درلودي نو کله چي امام صاحب راغلي نو پر چوک باندي دخلکو بیروبار وو هغه نفر هم راغلی تر سلام کرارسته یی وویل خبر سوي یم چي ستا پلار مړ سویدی**

**امام صاحب ورته وویل هو پلار مي وفات سو**

**هغه نفر ورته وویل نو د مور واده دي زما سره راوکړه**

**الله اکبر داسی سخته خبره بیخي زور غواړي**

**خبره که څه هم ترخه وه خو شرعی وه غیر شرعي نه وه**

**هلته د امام صاحب یو شاګرد هم وولاړی وو هغه دستي وویل چپ سه مورږ خو لا وارثه نه یو**

**امام صاحب ډیر همت سره راجمعه کړي سر یې راپورته کړي په سترګو کي یې اوښکي له ورایه معلومیدلي په ډیر همت او د زړه په درد سره یې ورته وویل**

**کرارره تاڅه وویل چي ستا د مور واده زما سره راوکه**

**ته خو یې فریږده چی عده تیره کړی کرارسته به زه ستا په اړه خبري ورسره وکړم که چیري د هغې خوښ وي او**

ketabton.com - The Digital Library

هغه راضي وه نو بیا زه خيځ مشکل نه لرم.
داخبره امام صاحب د ټولو خلکو په مخکي ورته وکړل
کله چي هغه نفر دا جواب واوریدي نو یو دم پرمځکه ولویدي او روح يې خپل رب ته وسپاري د خلکو غوغا سول څه په وسول څه په وسول خلکو ولیدل چی دهغه نفر کینې بغض حسد او د امام صاحب صبر هغه له دي دنیا څخه رخصت کړي
نو ملړرو هیڅکله یوچاته ترخه خبره مکوی دچاسره حسد بغض مکوي
ژباړونکي: سیداحمد سعادت
دارو کتاب ماخذ
"امام اعظم ابو حنیفہؒ کی سیرت و تاریخ" صفحہ نمبر ۱۲۵
۱۴۰۳/۴/۲۳
...

شپږ دانې د زرو هکۍ

یوه ورځ یوه هلک د خپل نیکه څخه پوښتنه وکړه! نیکه جانه ته ماته کم داسي څه را ښولای سي چی ماته ډیر ګټمن وي؟
نیکه يې ورته وویل: تاته یو سبق درښه یم، مګر اول داسی یو کار وکه چي د ټول توجو ځانته را واړوی
هلک وویل: چشی وکم؟
نیکه وویل: دباندی وولاړی سه او په زوره ناری کړه چي زما شترمرغ شپږ دانې د زرو هکۍ واچولې زه میلونر کیږم!
هلک دباندي ووتي مګر دمبارکی لپاره هیڅوک نه راغلی
نیکه يې بله ورځ ورته وویل: نن وولاړی سه او دباندی ناری که چي یو غل راغلی شترمرغ يې مړ کي او د سرو زرو هګۍ يې غلا کړلې
هلک هم هغسې وکړل یو ګړی کرارسته يې د کور ومخته زیات خلک راغلل
هلک وویل نیکه جانه پروند هیڅوک نه راغلل او نن دونده ډیر خلک راجمعه سول؟
نیکه يې په خندا سره وویل کله چي خلږ ښه خبر واوري نو چپ پاته کیږی! مګر کله چي بد خبر واوري نو سره راټولیږي، خلک ستا تر کامیابی ډیر غواړي ستا ناکامی ووینې
په یاد ولره چي د نکرار دخبرو پرواه مکوه خپل خوبونه پسې پسی سه او کامیابی لاسته راوړه

ketabton.com - The Digital Library

**ژباړونکی: سیداحمد سعادت ۱۴۰۳/۴/۲۱**

**...**

## د ښځې د لاس ښځه ډېول خوړل

**میرمنې د ټلیفون غوښتنه وکړه خاوند په ریږدیدلو لاسو ټلیفون ورکی ، میرمنې یې ټوله ټلیفون وکتی کله چې یې هیچی نه کړل پیدا نو د نمبرو ځای ته وولاړیه چې گوری هلته یو نوی نمبر دملا آختر په نامه ثبت سویدی**
**میرمنې یې په غوصه ناکه لهجه سره وپوښتل دا دچا نمبر دی**
**خاوند یې په ریږدیدلي اواز وویل دا زما د ماما آختر نمبر دي**
**میرمنې یې وویل چی مخکي خو دا نمبر نه وو**
**خاوندیې وویل هغه په دا اوس کي ټلیفون رانیولي دی نو ما یې هم نن نمبر ثبت کي.**
**د میرمنې یې یقین نه وسو هغه نمبر ته یې زنگ وهلي کله چې دهغه بلي خوا ښځه ټلیفون اوکی سو، دستي یې ږغ پر وکي بلي، نو چي گوري دهغي خوا ښځه هم د یوې اانجلۍ ږغ سو بلي**
**میرمنې یې دستي ټلیفون کاټ کي دستي یې خاوند خوارکی راټینگ کي چي هر شی په لاس ورتلي ورته کسوی یې که لوښې وه که هرشی وه پر خاوند یې وکتل، تر یوځه وخت کرارسته یې خاوند روغتون ته بوتلی هلته خبر سول چي ماما آختر یې هم روغتون ته راوړی دي. هلته یې د ماما ښځه پوښتنه وکړه چې په تا څه وسول ماما یې وویل چي ستا د نمبر ښځه زنگ راغلی چي زما میرمني اوکی کي یوې اانجلۍ ږغ پر وکي بلې نو ټلیفون کاټ سو بیا زما سره هم هغه چم وکي کم چم چي یې ستا سره وکی.**

**ژباړونکی: سیداحمد سعادت ۱۴۰۳/۴/۲۱**

**....**

**د بس چلونکی**

**یوه ښځه د سړک پر غاړه یو ناست سړي ته راځی او ورته وایې وبخښی زه یوه کوچنۍ پلټنه( ریسرچ) کوم آیا زه ستا څخه یو څو پوښتنې کولاي سم.**
**سړی: هو ولی نه**
**اول سوال ښځه: ته داسي فرض که چي ته په بس کي سپور(ناست) یې کرارسته یوه ښځه بس ته راخیژي او په بس**

ketabton.com - The Digital Library

**کي خالي سيټ نسته آيا ته به خپل سيټ هغه ښځي ته ورکړې؟**

**سړی: یا نې ورکوم**

**هغې ښځي په ورسره پوښتنپانه کي د (بي آدبه) خانه ډکه کړل**

**دوهم سوال: که چیري هغه ښځه چي بس ته راختلي ده حامله وه نو آيا ته به خپل سيټ ورکړي**

**سړی: یا نې ورکوم**

**ښځي دا واري د خودخوا خانه ډکه کړل**

**دريم سوال: که چیري هغه ښځه یوه سپین سري وه نو آیاته به خپل سيټ ورکړي**

**سړی: یا نی ورکوم**

**ښځي ته درد ورغلي او ورته یې وویل ته څه یو بي احساسه او ځان غوښتونکي سړی یې...**

**ښځه تر یو څو تیزو خبرو کرارسته وولاړیه**

**لږ لیري یو بل سړي د دوی دوو خبري اوریدلي راغلي او دسړي څخه یې پوښتنه وکړل چي هغې ښځي دونده ډيري خبري درته وکړي مگر تا هیڅ نه ورته وويل ولي؟**

**سړی: هغه ښځه د خپلي بي عقلي او نیمی معلوماتو د سروې (پلټنه)پر اساس د خلږو پر مسلږ قضاوت کوي، که چیري دي زما څخه د سيټ د نه فریښولو د علت پوښتنه کړي واي ما به هغې ته ویلې وای چی زه د بس ډریور(چلوونکي) یم.**

**زموږ د ټولني تر ټولو لوي مشکل دادی چي موږ بیله معلوماتو دخلږو دشخصیت قضاوت کوو.**

**ژباړونکي: سیداحمد سعادت ۱۴۰۳/۴/۲۱**

**...**

## یوه واده والا خواران

**ابن سینا: چاچي یواده کړیدي هغه په ځوانی کي زړیږي،هغه ته د پښتورگو ، ملا،غاړي او د بدن د نکرار ځایو درد پیدا کیږي د هغه مایوسي زیاتیږي او محنت یې کمیږی، خندا یی آلوزي او په گیلو او شکایاتو باندي اخته وي او سر ځنې ټکوي**

**قاضي ابو مسعود: چاچي یو واده کړیدي دهغه لپاره د خلږو په منځ کي فیصله کول جائز ندي یعني هغه قضاوت لایق ندي ځکه هغه هروخت په درد کي وي او د دردر په وخت کي فیصله کول جائز ندي**

**ابن خلدون: کله چي ما دتیرو قومو پرهلاکت سوچ او فکر وکي نو وه مي لیدل چي هغوي پر یوه واده باندي بسنه**

ketabton.com - The Digital Library

**کول**

**ابن میسار: دهغه چا عبادت ښه نسي کیدلاي کوم چاچي يو واده کړی وي**

**دعباسیانو خلیفه هارون الرسید: چي په بصره ځني خلږ سته چي يو واده يې کړيدي نو هارون رشید وویل چی هغه نارینه ندي نارینه هغه دي چي څو ودونه یی کړي وي**
**داځکه چي دی د فطرت او سنت دواړو خلاف روان دي**

**ابن یونس: يو چا پوښتنه ځني وکړل چپ یهودو او نصاراوو ولي د ودو په کولو کي کموالی راوستي يعني تر ډيره يو واده کوي**
**هغه جواب ورکړي: داځکه چي الله ج پر دوي باندي ذلت او غربت نازلوي**

**ابو معروف کرخی: دده څخه سوال وسو چي ته د هغو په بارک کښي څه وايې چي هغه ځانونه زاهدان بولي مگر د یوه واده ملاتړي دي**
**ابو معروف جواب ورکي چي دا زاهد ندي مجنون دي دی هیڅکله د ابوبکر صدیق، عمر فاروق، عثمان ذوالنورین او دحضرت علي رض عنهم تقوا ته نسي رسیدلاي**

**ابن فیاض: څخه یی سوال وکي چي ته دهغه چا په بارک کي څه وايې چاچي يو واده کړيدي**
**هغه جواب ورکړي چي دا مړی دي مازي ساه اخلي خوراک کوي او بديږي**

**د کرک والي ابن اسحاق: پر ټوله ښار باندي مالونه وويشل مگر يو هغه چاته يې هيڅي ورنه کړل کوم یوه چی يو واده کړي وو کله چي دده څخه پوښتنه وسول چي دوی ته دی ولي مال ورنکي نو ده ورته وویل چي الله ذهني نابالغو ته دمال ورکول منعه کړيدي ځکه چي دوي يې ناکي ضايع کوي**

**ابن عطاءالله: پر یوه واده والاوو تبصره ورکول ویل یی هغه چاچي يو واده کړيدي هغه د خپلو مشرانو او اصحابو سنت فریښی دي**
**الله په قرآن کریم کي فرمایلي دي ستاسو دوه ،دری،څلور ودونه وکړي او يو يې واده کول يې د هغه چا لپاره ویلی دی کوم څوک چي عدل نسي کولای**

ketabton.com - The Digital Library

**تقي الدين مزنی : چي کله دسمرقند آمیر سو نو دته خبر و رسیدي چی دلته ځني خلګ د یوه واده ملاتړ کوي تقي الدین وویل آیا هغه مسلمانان دي؟ داخبره په ټوله ښار کي نشر سول دراتلونکي میاشتي د رانوی کیدو دمخه دری زره ودونه وسول په ښار کي یوه پیغله هم نسول پاته.**

**ژباړونکي: سیداحمد سعادت ۱۴۰۳/۴/۲۱**

**...**

**په نیکر کي مسجد ته تلل**

**په کوچني والي کي ما یوه ورځ نیکر اغوستي وو مسجد ته د سبق لپاره وولاړیم، کله چي ملا صاحب په نیکر کي ولیدم نو راته په غوصه یې راته وویل خبیثه په نیکر کي مسجد ته څنګه راغلي، که په نیکر کي مسجد ته راتلي نو جهنم بدي ځای وي**

**زه د مسجد څخه کورته راغلم او ټوله کیسه مي مورته وکړل ، مور چي زما کیسه واوریدل ول زویه ملا ته به درد ورغلی وو چي داخبره یې درته وکړل کنې دجهنم لپاره خو ډیري خواری او محنت ته ضرورت دي**

**مثال په ډول: جهنم د ډېري غوندي زړه غواړي ،باید د بل حق وخوري، دجنهم لپاره باید قاتل او غل جوړ سي، باید په ټولنه کي فساد او ویره خپره کړي، باید د خدای ج مخلوق ازار کړي، پر نیکو انسانانو باندي باید د بمونو او باروتو باران وکړي، د مور دلاسه باید زوي واخلي، باید دخلکو څخه نفرت وکړي، دجهنم لپاره باید دخدای ج سره اړیکي پریکړي او دشیطان سره دوستي جوړه کړي نو بیا جهنم ته تلای سي.**

**ته خو دونده عاجزه یې چي په خپله اوبه لا نسي څیښلاي نو ته به دا دونده خواری او محنت سنګه وکړي، ته خو د میږی پر مرګ لا هفته ژاړي ، ستا زړه نسي ډېره کیدلای**

**آخر مور راته وویل زویه د ملا صاحب په خبرو فکر مه خرابوه کني ستا په زړه کي به یوازي د الله ج څخه بیره پیدا سي دالله ج محبت نه**

**اشفاق احمد**

**ژباړونکي : سیداحمد سعادت**

ketabton.com - The Digital Library

...

## عمومی معلومات

**د پښتو (ی) ګانې :**
**هغو ته چې زده کول يې غواړي:**
**لومړی: نرمه يا بې ټکو (ی)**
**دغه (ی) ته نرمه (يا) وايي ځيني کسان ورته بې ټکيو (يا) هم وايي دغه (يا) په حقيقت کې له دوو ږغونو څخه جوړه سوې ده چې يو خپلواک ږغ او بل نيمه خپلواک ږغ دی.**
**دغه (ی) د نارينه مفردو نومونو لپاره کارول کيږي لکه:**
**سړی، منګی، اولاد، زمری، نری، لالی، ختکی، کابلی، بريالی، هراتی ګلالی، ننګيالی، لوی، زلمی، منی، پسرلی، ننګرهاری، کندهاری او داسی نور...**

**دويم: څرګنده يا معروفه (ي)**
**دې ته څرګنده يا معروفه (ي) وايي دا يو خپلواک ږغ دی د نارينه جمع نومونو لپاره کارول کيږي لکه:**
**سړي، منګي، لرګي، بچي، احمدي، صمدي، زمري، ختګي، طبي، دوستي، خپلوي، نرسري، جنګي، نيالږي، لښتي، پردي، نظامي، عسکري، وطني، کفري، ځنګلي، حاجي، لازمي، باراني، جنګي، زلمي، جنګيالي، کلتوري، اجتماعي، ابادي، اسلامي، اجتماعي، اخلاقي، سمدستي ، کلتوري، قاچاقي، اقتصادي، منطقي، قوي، تهاجمي او داسې نور...**

**دريمه: اوږده (ې)**
**دې ته اوږده (يا) وايي. دا يو خپلواک ږغ دی زياااکا هغه مفرد ښځينه نومونه چې په زور پای ته رسيدلي وي کاريږي لکه:**
**شيدې، مستې، پاڼې، پلوسې، خورې، پستې، خوږې، وړانګې، ادې، ډيوې، حملې، کرې، نږدې، پردې، ترخې، کږې، سرې، داسې، مخکې، خاورې، فسلفې، لارې، چې، ستونزې، مناقسې، جګړې، مناظرې، خبرې، ورځې، شنبې، يکشنبې، غونډې، معدې، اغېزې، مېرمنې، وړاندې، ترانې او داسې نور...**

**څلورم: لکۍ لرونکې يا زورکۍ والا (يا) (ۍ)**
**دې ته لکۍ لرونکې يا زورکۍ والا (يا) وايي. دا هم له دوو ږغونو څخه جوړه سوې، يو يې خپلواک واول او بل يې**

ketabton.com - The Digital Library

**نیم واک واول. دا (ی) په زیاترو مفردو ښځینه نومونو کې راځي لکه:**
**هګی ، سپوږمی ، ډوډی ، انجلی ، ګلالی ، جلبی ، خولی ، زمری ، هیلی ، نتکی ، خورکی ، دیموکراسی ، کابلی ، هراتی ، نری ، توتکی ، سلړی ، الماری ، څوکی ، ابوظبی ، ودانی ، ژوندی ، لومړی ، ماښی ، زاری ، افغانی ، کرارستی ، څپلی ، پیړی ، نری ، ولسوالی ، تبی او داسې نور...**

**پنځم: همزه لرونکې (ئ)**
**دغه (ئ) د امر کولو په وخت کې کاریږي لکه:**
**دا کار مه کوئ ، راځئ ، مه کوئ ، ورځئ ، ګورئ ، وولاړیئ ، پدې لاره مه ځئ ، هڅه کوئ ، ویې ګورئ ، والوزئ ، وولاړیئ ، حساب ور کوئ ، حساب اخلئ ، حساب مه منئ ، اورئ ، راغئ او داسې نور...**
**...**

## پښتانه څوک دي

**پښتانه یو لوی قوم دی چي په جنوبي او مرکزي اسیا کي ژوند کوي . جمله سمیر یي پنځه څلوېښت میلیونه ته رسیږي چي له هغې جملې څخه یې ۱٦ میلیونه په افغانستان کي ژوند کوي . دافغانستان د نفوسو په پرتله یي سمېر له ۵۰ څخه تر ٦۰ سلنه پوري رسیږي . (دقیقه احصائیه مالومه نه ده ).**

**د پښتنو د استوګني سیمي:**
**د پښتنو زیات سمیر تقریباً ۲٦ میلیونه د پاکستان په خیبر پښتونخوا او بلوچستان کي ژوند کوي . د پښتنو کلتوري او ژبني شریکي سیمي »پښتونخوا« په۱۸۹۳کی د انګریز دمستعمرې د سیاست له مخي وویشل سوي چي دغه د وېش لیکی ته د »ډورند کرښه« وایي . یو لږ سمیر پښتانه په استرالیا ، افریقا او جنوبی امریکا کي ژوند کوي . په تیرو درې لسیزو کي د افغانستان د کورنی جګړو له امله زیات افغانان اروپا ، امریکا او استرالیا ته مهاجر سول . اوس په انګلستان کی۸۸۰۰۰کورنی ، په المان کي۱۰۰۰۰۰کورنی اوپه فرانسه کي۵۰۰۰۰کورنی ژوند کوي.**

**د پښتون نوم:**
**د افغان نوم نن ورځ د پښتون لپاره ډیر کم کارول کیږي . دا ځکه چي د افغانستان ټولواتباعو ته افغان ویل کیږي . له همدې کبله د افغان کلیمه د پښتون پر قوم دلالت نه کوي ، او هم پښتانه پخپله د قوم په اړه د افغان نوم نه خوښوي او غواړي چي پښتون وبلل سي . په هندوستان او د پاکستان د پنجاب په برخو کي پښتون ته پټان وایي**

ketabton.com - The Digital Library

**،چي دا نوم هم پښتانه نه خوښوي . د پښتون نوم د پکتیان له لغات څخه سرچینه اخلي چي په نني پکتیا او پکتیکا پوري تړاو ور کول کیږي . د پښتون نوم د لمړي ځل لپاره په اراکوزیا کي چي نن ورځ کندهار نومیږي منځ ته راغلی دی.**

**د پښتنو سر چینه:**

**د پښتنو سرچینه مالومه نده . داسي یو کتبي یا لیکل سوې سر چینه شتون نلري چي دهغه له مخي د پښتون سر چینه ثبوت سي . د پښتنو په اړه زیاتي پلټني سوي دي . داسي اټکل کیږي چي پښتانه له یفتلیانو څخه سر چینه اخلي . یفتلیانو په خپله زمانه کي د ایران ختیځ خواوي اود هندوستان لمړۍ نیمایي د افغانستان په ګډون تر ولکې لاندي راوستلي وه . د یوه روسي پلټونکي »ګانکوسکي« د پلټنو له مخي دابدالي قوم د »یفتالي« کلیمې څخه سرچینه اخلي.**

**کوم وخت چي یفتلیانو ته د ساسانیانو مشر خسرو په بخارا اوهندوکش کي ماته ورکړه**

**له دغه وخته څخه د یفتلیانو او همدا شان دپښتنو تاریخ ورک سوی دی . نو ځکه د پښتنو نوم په یفتلیانو پوری تړاو ور کول کیږی.**

**بعضی پښتانه ادعا کوي چي دوی داسرا ئیلو په هغه لسمه ختِه پوري تړاو نیسي کومه چي ورکه سوې ده . بارکزي ، اسماعیل خیل او یوسفزي خپل ختین نومونه په عبریاني ژبه کي (دیهودیانو ژبه) په بارک ، اسماعیل او یوسف پوري تړي . دپښتنو سرچینه د اسرائیلو په اړه په »مخزن افغاني« کي دقیق تشریح سوي دي.**

**د پښتنو کلتور:**

**د پښتنو زیاته برخه سني مذهبه دي او ټولنیز ژوند یي پر قومونو او پښتونولي ولاړی دی . پښتانه په عام ولس پوري ځان تړل نه غواړي او قومونو ته زیات اهمیت ورکوي . هر پښتون د خپل قوم پر اړخ وولاړی دی او نور قومونه پردي بولي . له همدې کبله د نولسمي پیړۍ تر پایه دراني او غلجي یو د بله دښمنان وه . ددوی پخلاینه د شلمي پیړۍ په پیل کي منځ ته راغله.**

**د پښتنو خویونه:**

**پښتانه لکه څنګه چي په نړۍ کي ځغولیي قوم دي ، په همدي ترتیب یې خویونه او رواجونه هم ځغولیي دي . دپښتنو خویونو،عاداتو او رواجونو ته پښتونولي ویل کیږي.**

**پښتونولي:**

ketabton.com - The Digital Library

**پښتونولي د پښتنو د خويونو ،عاداتو او رواجونو نه يوه مجموعه ده چي پښتانه زيات اهميت ورکوي . پښتونولي نه يواځي په پښتنو کي بلکه په ټوله نړۍ کي د پښتنو د سپيڅلو رواجونه په نامه شهرت لري . په پښتونولي کي دا لاندي رواجونه شامل دي:**

**بدل ( دهر بد کار په بدل کی جرمانه ورکول )**
**ميلمستيا (ميلمه پالنه که څه هم ميلمه لوی دښمن وی )**
**کورنۍ ( د ژوند په هر پړاو کي د کورنۍ او ښځي ساتل)**
**ننواتی ( پښتون بايد ددښمن ننواتي ومني اوهغه ته د ژوند په هر پړاو کي پنا ورکړي)**
**جرګه ( د پښتنو يوه ټولنه ده چي د يوې خاصي موخي لپاره راټوليږي )**
**غيرتمند ( هغه څوک دی چي زړه ور وي ،ښه خويونه ولري ، سخاوت او مېړانه ولري )**
**ننګ ( هغه افتخار ، غيرت او مېړاني ته ويل کيږي چي د کورنۍ سر په لوړ وي )**
**شرم ( څوک چي حيا ولري ،سپکو سپکرار نه ځان ژغوري او ښه اخلاق ثابت کړي )**
**ناموس (هغه څه دي چي خپله ميرمن له هرو ناخوالو نه وساتي او د هغې هيڅ سر ښندنه هيره نه کړي او دهغې په ساتنه کي ولاړ وي)**

**د پښتنو ژبه:**

**د پښتنو ژبي ته پښتو ويل کيږي . د ا ژبه دختيځ ايران د ژبونه يوه ژبه ده چي داوسني ايراني ژبي څخه فرف لري . دتاريخ په بهير کي په پښتوژبه کي زيات بدلونونه راغلي دي . څنګه چي پښتو يواځی د پښتنو ژبه ده او نور قومونه پدي ژبه خبري نه کوي نو ځکه دا ژبه په پښتنو پوري تړاو لري او دايران د ژبنی کلتور څخه پرې کړې جلا کيږي . که څه هم پښتو ژبه له تاريخي اړخ نه په ايراني ژبي پوري تړل کيږي خو زيات تړاو يي په هندوستاني او اردو ژبه کي ليدل کيږي . ددې ما نا داده چي پښتو ژبه زيات په هندوستاني ژبو پوري ارتباط نيسي عمومي ډول پر زياتو ښاخونو ويشل سوی.**

**...**

**جالبه او حيرانوونکې**

**هغه مرغان چي اور بلوي**

ketabton.com - The Digital Library

**۱ .دا کوم مرغان دا کار کوي؟**

**داسې باور سته چې د بازانو ډولونه، لکه تور باز(Black Kite) ، نسواري باز(Whistling Kite) ، او ځینې نور مرغان، په ځانګړې توګه په استرالیا کې، د دې کار لپاره مشهور دي.**

**۲ .ځنګه اور د یوه ځای څخه بل ځای ته وړي؟**

**دغه مرغان اور د لاندې مرحلو له لارې وړي:**

**د سوځېدلي شي انتقالول: کله چې دوی په ځنګله کې یو ځای اور پیداکړي ، ځینې وخت یې د لرګیو یا نباتاتو سوځیدلي ټوټې په خپله مشوکه یا پنجو کې نیسي او د یوه ځای څخه یې بل ځای ته وړي.**

**اور بل ځای ته وړل : دوی دغه سوځېدلي ټوټې د وچو بوټو یا وښو په یوه بله برخه کې غورځوي ترڅو هلته نوی اور بل سي.**

**۳ .ولې دوی دا کار کوي؟**

**د دې کار تر شا اساسي دلیل د ښکار کولو اسانتیا ده:**

**پدغه کار سره چې کله دوي د ځمکې پر سر اور بل کړی، نو حیوانات، حشرات، او ماران له خپلو پټنځایونو څخه راباسي.**

**نو دغه مرغان بیا پر دې حیواناتو حمله کوي او په اساني سره ښکار کوي.**

**۴ .علمي شواهد**

**د اور انتقالولو د دې کار په اړه ځینې علمي مشاهدې سوې دي. ځینې سیمه ایز خلک او څېړونکي ادعا کوي چې دا مرغان دا کار قصداً کوي، مګر د دې موضوع لا تر اوسه بشپړه علمي مطالعه روانه ده.**

**۵ .د طبیعت په اکوسیستم کې رول**

**که څه هم دا کار خطرناک ښکاري، خو دا د طبیعت برخه ده. په ځینو مواردو کې، دا مرغان د ځنګلونو طبیعي بیا رغونې کې مرسته کوي، ځکه چې اور د ځینو نباتاتو د ودې لپاره ګټور ګڼل کېږي.**

**دغه مرغه (چې په استرالیا کې د "Black Kite" یا "Whistling Kite" په نوم هم یادېږي) دا کار کوي:**

**د اسلام له نظره:**

**طائرحذرنامنه رسول الله ص و قال فیه اقتلوه وجدتموه حتی فی الحرم وهذا الطائر اکتشف العلماء مؤخران له سر کبیر.**

**په حدیث کې ذکر سوې "الحدأة" هم ضرر رسوونکی مرغه ګڼل سوی دی، ځکه دا مرغه چرګې خوري، زیان رسوي، او د فساد لامل ګرځي. رسول الله ﷺ د داسې مرغانو وژل مباح ګرځولي دي چې مستقیم ضرر رسوي. په استرالیا کې د دې مرغه چلند د حدیث د حکمت ښکاره نښه ده، ځکه دغه مرغه عملاً د چاپېریال لپاره لوی خطر**

ketabton.com - The Digital Library

دی، په ځانګړې ډول د ځنګلونو د سوځیدنې په موسمي اوروونو کې.

...

## پـیـریـان څـه ډول مـخـلـوقـات دي؟

پیریان (جنیات) لهٔ اور څخه جوړ سوي دي دِ انسانانو پهٔ ډول نر او ښځه، غم او خوشالي لري دِ شکل بدلولو قابلیت لري. پیریان دِ انسانانو پهٔ ډول پښې،لاسونهٔ، خولهٔ، پزه او سترګې لري. سترګې يې دِ الف پهٔ شان افقي دي، پښې يې لنډې دي، اور تهٔ ورتهٔ رنګ لري. دِ پیریانو دِ اوسیدو ځای دښتې، بیابانونهٔ، غرونهٔ، هوا او زړې ودانۍ دي. دِ دوی جسمونهٔ ډېر لطیف او شفاف دي چې مړه سي ژر ورک کیږي. پیریان ډېر ژر پهٔ غوسهٔ کیږي؛ پهٔ دوی کې ځینې دِ نرم مزاج والهٔ هم ستهٔ. دوی کولاي سي چې ۵۰۰ کلونو څخه تر ۱۰۰۰ کلونو پورې ژوند وکړي. هر پیری یو اولاد نړۍ تهٔ راوړي، دوی انسانانو تهٔ دِ ړندو خطاب کوي.
د پیریانو شتون په قران ثابت دی (سورت جن ۱۴ / اعراف ۲۷)

دِ پیریانو پهٔ نسل کې هم کافر پیریان ستهٔ هم مسلمان.
پیریان هم لکهٔ انسانان ځانتهٔ نظام لري، پاچا، وزیر، پوځ او قوانین لري؛ دِ پیریانو پهٔ پاچاهۍ کې هم تقوادار پیریان شتون لري چې ځانتهٔ حلال رزق پیدا کوي او هم سرکښه یا ظالم پیریان شتون لري چې انسانانو تهٔ پهٔ یوه نهٔ یوه بهانهٔ ځان ورګډوي مال يې غلا کوي، تکلیف او ضرر ورکوي.
هغهٔ پیریان چې غلا او ظلم کوي دِ هغوی لپاره خپلو تقوادارو او بزرګانو پیریانو زندانونهٔ جوړ کړي، کلهٔ چې پهٔ غلا یا ظلم ولیدل سي نو زندان تهٔ يې اچوي او سزا ورکوي.
دِ پیریانو زندانونهٔ دونده سخت دي که چېرې یو پیری ور واچول سي نو بېرتهٔ هېڅ نسي راوتلای، دِ زندانونو پیرادران يې ټول قوي او طاقتور پیریان وي.
دِ پیریانو دِ زندانونو دروازې ډېرې جالبې دي یعنې کوم کلف یا کیلي نلري بلکې دِ قران شریف پهٔ ځغولیو ایتونو خلاصیږي چې دا کار پهٔ دوی کې تر ټولو ایمانداره پیریان تر سره کوي. پهٔ پیریانو کې هم جادوګران ستهٔ یعنې دوی هم یو دِ بل پهٔ مقابل کې جادو کا روي، خو که چېرې کم جادوګر پیری ونیول سؤ نو سزا يې ډېر سختهٔ ده.
دِ دې ماسېوا پیریان لهٔ ځغولیو طلسماتو/طلسم څخه ګټهٔ اخلي، طلسم دِ پیریانو ځغولیي کوډونهٔ دي چې یوازې دوی پر دغهٔ کوډونو خبر دي یعنې که چېرې یو پیری پهٔ یوه دیوال کې ژوند کوي، نو خپل ځغولیی طلسم کاروي.
لکهٔ څهٔ ډول چې موږ دِ موبیل لپاره کوډ/فاسورډ کاروو همداسې دوی دِ اوسیدو لپاره خاص طلسمات کاروي. خو ځینې داسې طلسمات هم شتهٔ چې عادي پیریان نهٔ په پوهیږي بغیر لهٔ بزرګانو پیریانو څخه.

ketabton.com - The Digital Library

**دِ وخت پهٔ تېرېدو سره ځينې طلسمات انسانانو هم زده کړل/زده کوي. يعنې دوی دا طلسمات دِ کوډو/سحر لپاره کاروي چې دِ دوی سره ځينې ظالم او خبيث پيريان مرستهٔ کوي دغهٔ طلسمات پهٔ کتابونو کې نشتهٔ پهٔ سُرياني او عِبراني ژبو وي**

**(سُرياني عِبراني دِ پيريانو ژبې دي)**

**لهٔ دوی څخه زيات طلسمات شرکيه دي يعنې انسان مطلق اکبر شرق تهٔ اړوي او کافر کيږي يعنې کهٔ ستاسو لهٔ دوی څخه ځينې زده کړئ او بيا کوډې کوئ نو لهٔ دين څخه ووځئ!**

**پيريان اکثره دِ 5 څخه تر 22 کلونو پورې پېغلې او ځوانانو تهٔ زيات راځي او دِ دوی لهٔ زکرارلو خوند اخلي. دِ راتګ وجهٔ يې زياتهٔ خوشالي، زيات غم، زيات ډار، پهٔ زور خندل، پهٔ ناپامی کې دوی تهٔ زيان رسول...او ځينې نور عوامل دي.**

**دِ پيريانو واکمني پهٔ ځمکهٔ کې پهٔ لومړيو کې ډېره ښهٔ وه خو الله (ج) دِ دوی ځای انسانانو تهٔ ورکړي او لهٔ دوی څخه يې زيات غرق کړل الله(ج) دوی تهٔ دونده عزت ورکړی ؤ چې دِ اسماني خبرو دِ اوريدلو لپاره بهٔ اسمان تهٔ پورتهٔ کيدل خو کلهٔ چې محمد(ص) پيدا سؤ نو دوی اسمان تهٔ لهٔ ختلو منع کړل سول.**

**لهٔ دوی څخه تر ټولو بختور او ايمانداره پيری صيليبين ؤ چې پيغمبر (ص) تهٔ يې مخامخ دِ قرانکريم تلاوت پهٔ ښکلي ږغ کې وکړ.**

**پيرياتو تهٔ خدای اختيار ورکړی يعنې پهٔ هر شکل ځان بدلولی سي**

**انجينير محمدالله نوری صاحب.**

**...**

## د لنډو کيسو برخه

**اميرالمومنين حضرت عمر (رض) يو وخت د شام حمص ولايت ته سفر وکی خلک ورته را ټول سول، اميرالمومنين خلکو ته وويل چې د خپل ښار د فقراوو ليست راکړئ چې مرسته ورسره وکړم ، خلکو ليست ورکړي،اميرالمومنين لېست کتلو چې د سعيد بن عامر نوم په کښې کي دي اميرالمومنين و پوښتل دا سعيد بن عامر څوک دی؟ خلکو وويل زمونږ والي!**

**اميرالمومنين وپوښتل چې ولې هغه په تنخواه باندې څه کوي خلکو ورته وويل: چې هغه ټوله پر بيوزلو خلکو ويسي، دې خبرې سره د اميرالمومنين اوښکې تويسوي او زر ديناره يې د کور د لګښت لپاره ور واستول . والي حضرت سعيد بن عامر هغه پيسې هم پر بيوزلو وويشلې او وايي: چې د دنيا فتنه په کور کې نه ساتم**

ketabton.com - The Digital Library

بل وخت حضرت عمر رض د اسلامي لښکرو د ليدو لپاره د شام سرحداتو ته ځي، لښکر ته رسيدو سره د قوماندان خيمې ته رهنمايي کيږي، ستر صحابي د امت امين حضرت ابوعبيده بن جراح د پوځ قوماندان دي خو خيمې کې شتون نلري او د لښکريانو د چارو سمبالتيا لپاره له خيمې وتلی و، غرمه کيږي اميرالمومنين ته ويل کيږي چې د ډوډی وخت دی ډوډی به راوړو، اميرالمومنين ورته وايي هو رايې وړئ، سرتيري پوښتنه کوي د جنګياليو ډوډی که د قوماندان ډوډی؟ اميرالمومنين پوښتنه کوي آيا د دوی په ډوډی که هم فرق سته؟

سرتيری ورته وايي: هو!

اميرالمومنين فرمايي د سرتيري ډوډی راوړی، شيبه وروسته ښوروا غوښه او ډوډی راوړل کيږي، اميرالمومنين کاسې ته ګوري بيا وايي چې د قومندان ډوډی هم راوړئ! سرتيري ځي او دا ځل د شلومبو يا تروو يوه کاسه او وچي ډوډی د اميرالمومنين مخې ته ږدي.

اميرالمومنين ږغ کوي ستاسو قومندان همدا خوري؟

هغوی ورته وايي: هو!

د قومندان خوراک مو همدا دي، اميرالمومنين سخت تر تاثير لاندې راځي او په داسې حال کې چې اوښکې يې تويېږی وايي: خدای دې پرتا رحم وکړي ای ابوعبيده په رښتيا چې ته د دې امت امين يې.

...

د يوسف( ع ) کړاڼو چې کله يوسف( ع) څاه ته غور ځاوه

يوسف (ع) ورته وخندل يهودا ترې وپوښتل: ولي دې وخندل؟

دا ځای خو د خندا نه دی يوسف (ع) وويل: يو ورځ مې فکر کوي چې څنګه به ماته څوک زيان را ورسوي چې زه داسې قوي کړاڼه لرم؟

دا دي خدای (ج) همدغه کړاڼه پر ما مسلط کړل او ما څاه ته غور ځوي

نن پوه سوم چې بغير له الله (ج) په بل چا تکيه نه ده په کار.

...

بيخي جالبه کيسه ده وايي

يو سړی د يو باچا دربار ته راغلی

او د نوکری غوښتنه يې وکړ .

باچا ترې وپوښتل چې څه قابليت لرې؟

سړي ورته وويل چې سياست پوه يم .

ketabton.com - The Digital Library

**د باچا په دربار کې پخوا لا ډېر سیاست پوهان وه ، نو نوموړی بې د اسونو د طبیلې مسؤل وټاکه، ځکه د طبیلې پخوانی ساتونکی څو ورځې د مخه وفات سوی وو .**

**څو ورځې کرارسته باچا د نوموړي کس څخه د خپلې خوښې آس باره کې پوښتنه وکړه چې څنګه آس دی..؟**

**سړي ورته اوویل: نسلي (اصلي) نه دی .**
**باچا حیران سو ، د ځنګلونو مسؤل یې راوغوښتیي او پوښتنه بې ځینی وکړه..**
**د ځنګلونو مسؤل ورته اوویل چې آس نسلي دی خو د زېږون په وخت بې مور مړه سوه، نو روزنه بې له غواګانو سره سوې او د غوا شیدې ورکړل سوي .**

**باچا دغه سړی راوغوښتی او ورڅخه بې وپوښتل، چې ته څنګه پوه سوې دا آس اصلي نه دی؟**
**سړي ورته وویل: دا آس چې کله واښه خوري نو د غواګانو په ډول ټیټ سر واښه خوري، مګر اصلي اسونه واښه په خوله کې نیسي او په جګه غاړه واښه خوري .**

**باچا ددې کس له پوهې متآثره سو او ددې کس کور ته یې په تحفه کې غنم، وریژې، غوړي او د مرغانو بهترینه غوښه ور ولېږله. او هم یې د ملکې په محل کې په یو خاص موقف تعین کړ .**
**څو ورځې کرارسته باچا له دې سړي څخه د خپلې ملکې په اړه رایه وغوښته..**

**سړي ورته اوویل چې خوی خصلت بې د ملکې دی خو شهزادګی نه ده .**
**د باچا ترپښو لاندې اور بل سو ، چې کله یې حالت ښه سو نو خپله خواښې یې را وغوښته..**
**خواښې بې چې راغله نو باچا ورته ټول جریان بیان کړ .**
**خواښې یې ورته اوویل چې زما د لور د زېږون په وخت ستا پلار زما د لور غوښتنه ستا لپاره کړې وه، خو زما لور ٦ میاشتې کرارسته وفات سوه، نو موږ ددې لپاره چې شاهي کورنۍ سره نزدې و اوسو، د بل چا لور مو فرزندي لویه کړه او تاته مو در واده کړه.**

**باچا فوراً دا سړی خپل دربار ته را وغوښتی او ځیني ویې پوښتل چې ته څنګه وپوهېدې چې دا شهزادګۍ نده؟؟**

**سړي ورته وویل چې ددې ملکې چلن له خادمانو سره له جاهلانو هم بدتر دی .**
**حال دا چې اصلي شهزادګۍ مهربانه وي.**

ketabton.com - The Digital Library

باچا ددې سړي په عاقلانه جوابونو خوشاله سو او ددې سړي کور ته په غټه پیمانه خوراکي توکي ، اوزې او پسونه په انعام کې ور ولېږل او ورسره يې نوموړی کس په خپل دربار کې مشاور مقرر کړ .

ورځې تېرېدې..
یو ورځ باچا دا سړی ځان ته و غوښتي او د خپل ځان باره کې يې ځيني پوښتنه وکړه.
سړي ورته وويل: باچا سلامت که زما د سر سلامتۍ وعده راسره کوې نو درته وايم.
باچا ورسره وعده وکړه چې نه دې وژنم..

سړي ورته وويل: نه خو ته باچا يې او نه دې خوی خصلت د باچاهانو دی.

باچا ته ډېر درد ورغلی ، خو څنګه يې چې وعده کړې وه ، نو بخښنه يې ورته وکړه.

باچا سيده د خپلې مور خواته ورغلي او د خپل ځان په اړه يې پوښتنه وکړه..
مور يې ورته وويل چې: زويه مور اولاد نه درلود ، نو ته مو له یو شپون څخه را نيولی وې او و مو پاللې.

باچا بيا دا سړی خپل ځان ته راوغوښتی او په حيرانۍ يې ځيني وپوښتل چې ته څنګه پوه سوې؟

سړي ورته وويل: باچاهان چې کله انعامونه ورکوي نو سره زر ، ملغلرې او جواهرات ورکوي ..
او ته بزي ، پسونه او خوراکي توکي په انعام کې ورکوې.
"دا د پاچا زادګانو خصلت نسي کيدای ، بلکه يواځې د شپنو او د هغوی د زامنو کيدای سي".

نو ريښتيا هم ، عادتونه نسلونه ښايي .
ملګرو! خپل اخلاق ، خويونه او عادتونه مو بهتره کړئ ، چې له همدې څخه ستاسې اصليت څرګنديږي.
موږ  بايد يو چاته احترام او درناوی داخلاقو له مخې وکړو  نه دکوم هدف او مقصد لپاره

...

دری ملګري وه
1،علم   2 ،دولت   3 ،عزت

**د دوی د جدا کیدو وخت راغلی وو . دوی یو او بل ته سره وویل که چیری موږ بیرته سره پیدا کول نو څنګه به سره پیدا کوو.**

**علم . وویل چي زه په مکتب مسجد او علمی ځایونو کی پیداکیږم.**
**دولت . وویل چي زه په بانکونو او تجارتی ځایونو کی پیداکیږم.**
**عزت خاموشه وو دوی ورته وویل ته چیری پیدا کیږی د عزت تر سترګو اوښکی راغلی او وویل که زه وولاړیم بیا نه پیدا کیږم**
**...**

**ښه خبره که د بد سړي له خولی هم راوځي عمل په کوه!!**
**ځکه سره زر د بدرنګې ښځې پر غاړه هم قیمت نه بایلي.**
**...**

**غوره لیکنه ده**

**د چین د ګوانګزو ښار د یوه بانک د د غلا پرمهال غلو ټولو حاضرو کسانو ته په لوړ آواز وویل:**

**ښور مه خورئ! پیسې خو په دولت پوري اړه لري خو ستاسې ژوند په تاسې اړه لري"!**

**ددې خبرې په اورېدو سره ټول غلي سول او پر مځکه پرېوتل.**

**دې ته وايي ذهن بدلوونکی نظر.**

**کله چ بیا یوه ښځه په جنسي غریزې پاروونکي انداز پر مېز پرېوتله، غله وربانديې چغه کړه:**
**"لطفاً یوځه باادبه اوسه! دلته غلا ترسره کیږي، نه جنسي تېری"!**

**دې ته وايي مسلکي اوسېدل. یوازې پر هغه څه تمرکز پکار دی د خسي لپاره چی روزل سوي یو.**

**کله چي غلو د بانک تر چور کرارسته کورته ورسېدل، کشر غله و مشر  غله ته چي  یوازې یې تر پنځم صنفه مکتب ویلي وو وویل:**

**مشره کراره! راځه پېسې حساب کړو چې څو مو ترلاسه کړي دي"!**

**مشر غله په درد ورته وویل:**
**ته ډېر احمق یې. دا ډېرې زیاتې پېسې دي. سمېرل به یې ساعتونه وخت ونیسي. ماښام ته به په تلویزیون کې خبرونه ووایي چې څونده مو غلا کړي دي".**

**دې ته تجربه وایي. نن سبا تجربه تر علم زیاته مهمه ده.**

**کله چې غله د بانکه ولاړه د بانک منېجر و سوپروایزر ته وویل چې ژر ترژره دې پولیس راوغواړي. لیکن سوپروایزر ورته وویل:**
**راځه چې ۱۵ میلیونه ډالره د خپلو ځانو لپاره هم له بانکه وباسو او هغو ٦۵ میلیونه ته یې وراضافه کړو چې مخکې مو د بانکه پټې ایستلې وې".**

**دې ته وایي د موقع څخه استفاده. او یو ناخوښه حالت په خپله ګټه تامول.**

**سوپروایزر بیا وویل:**
**که هره میاشت دا ډول غلا صورت ونیسي نو څونده به ښه وي**

**دې ته وایي خستګي رفع کول. شخصي خوشحالي تر وظیفې ډېره مهمه ده.**

**راتلونکې ورځ په تلویزیون کې خبرونو وویل چې ۱۰۰ میلیونه ډالر د بانکه غلا سوي دي.**

**غلو چې پېسې هرڅه حساب کړې تر ۲۰ میلیونه نسوې اضافه. غلو ته ډېر درد ورغلي او داسې یې ویل:**
**"مورږ خپل ژوند په خطر کې واچوی او یوازې مو ۲۰$ میلیونه ترلاسه کړه ، خو د بانک منېجر په دونده آسانی سره ۸۰$ میلیونه ترلاسه کړې".**

**له دې څخه معلومیږي چې تر غله اوسېدلو تعلیم یافته اوسېدل غوره دي.**

**د بانک منېجر د خوشحالیه باغ باغ وو ، ځکه کم چم چې یې کړی وو ، ددې غلا له کبله پټ پاته سو.**

ketabton.com - The Digital Library

دې ته وايي د فرصت د لاسه نه ورکول او د ګټې ترلاسه کولو لپاره خطر منل!

## د عبرت ډکه کيسه

په (۱۹۱۷) کې، انګريزي جنرال ستينلي موډ د عراق يوې سيمې ته ته ولاړي ، هلته د شپون سره مخ سو.
جنرال د خپل ژباړن ځخه وغوښتل چې شپانه ته ووايه :
که چيري ته خپل د رمې سپی ووژني،
جنرال صاحب به تاته يو سټرلينګی پونډ درکړي.
په هغه وخت کې په يو پونډ نيمه رمه کېدله، شپون په ځغستا سو، سپی يې راوستي، د جنرال په پښو کي يې ذبح کړی.
جنرال موډ ورته وويل: زه بل پونډ درکوم که چيري تاسو يې اوس د پوستکي ځخه وګاړی ، شپانه پونډ واخيست او د سپي ځخه يې پوستکی هم وکړی.
موډ ورته وويل:
زه به درېيم پونډ هم درکوم که چيري دي ټوټې ټوټې کړې، سمدستي شپون هغسي وکړل، جنرال هغه ته هغه درېيم پونډ ورکړي او بيا ځيني روان سو.
شپون په جنرال او ملګرو پسې ور روان سو، ږغ يې پر وکي: يو پونډ بل راکړه چې اوس يې در ته وخورم.
جنرال جواب ورکړي : يا ، بل نه درکوم ما يوازې غوښتل چې ستاسو په طبيعت او نفسياتو پوه سم، تا خپل د ژوند ګران ملګری په درې پونډه ووژي، بيا دې پوستکی ځيني وکړي، ټوټې ټوټې دې کړي، او په ځلورم پونډ يې خوړلو ته آماده يې.
زه دلته همداسې خلکو ته اړتيا لرم، بيا يې خپلو سرتيرو ته مخ واړوي او ورته يې وويل: تر څو چې دلته دا ډول ذهنيتونه شتون ولري له هيڅ شی ځخه مه بيريږي ، او خلاصي تنی ګرځئ
اسدالله صميم
...

## د حضرت مهدي مور

ketabton.com - The Digital Library

په ۱۹۷۰ میلادي کال کي چي هغه مهال په اندونیزیا کي د صدر سوهارتو حکومت وو
اندونېزیایي یوه ښځه چي ، زهره فونا ، ، نومیده د حضرت مهدي د مور دعوه وکړه . ویل یي چې د هغي په رحم کي موجود ماشوم حضرت مهدي دي..
او دا ځکه چې کله به دغي ښځي خیټي ته نږدي چا غوږ ونیوه له هغه ځایه به د قران کریم تلاوت او آذان اوریدل کیده
دا خبر په ټوله اندونیزیا کي لکه د ځنګل د اور په شان خپره سوه..
کله چي دا خبر حکومتي چارواکو ته ورسید د اندونېزیا مرستیال جمهور رئیس آدم مالک ، ، زهره فونا ، ، خپل کور ته دعوت کړه او ملاقات دوران کی چې کله آدم مالک د هغي خیټي ته غوږ ونیوي آذان او تلاوت یي واریدي نو هغه هم تایید او تصدیق کړه....
د هغه کړارسته د اندونېزیا د مذهبي چارو وزیر محمد ډیچلن هم آذان واوریدي او خپله خپره سوي وینا کي وویل څرنګه چې امام شافعي دري کاله د خپل مور رحم کي موجود وو او امکان یي درلود نو امام مهدی څرنګه نسي کولای چې د مور د رحم څخه آذان وکړي؟
لدې کرارسته د اندونېزیا حکومتي چارواکو او خلکو قطارونه د زهره فونا د ملاقات لپاره هره ورځ معمول جوړ سو..
خپله ریس جمهور سوهارتو او میرمن یي هم د زهره فونا سره ملاقات وکړي ...
خلکو زهره فونا ته د حضرت مریم ثاني لقب ورکړ او د هغي شهرت په ټوله اسلامي نړي کي خپور سو... او د هر هیواد علماوو د تصدیق لپاره هغې ته دعوتونه ور ولیږل چي له دغو هیوادونو ملایانو او خلکو کي پاکستان هم وو زهره فونا هم دعوت قبول کړ او پاکستان ته ولاړل ...
پاکستان کي هغه مهال د صدر یحیي خان فوځي حکومت وو او پایتخت هم هغه مهال کراچي ښار وو..
کله چي زهره فونا کراچي ته راورسېده دروند استقبال یي وسو..
مولانا احترام الحق تهانوي او مولانا شفیع اوکاړوي د هغي د خیټي څخه آذان او تلاوت واورید او بیا تایید کړه چې واقعا دا آواز له خیټي څخه دي او د حضرت امام مهدی تصدیق یي هم وکړ ...
دغه علماوو تحقیقات شاید یواځې د آواز اوریدني پوري وو ، هغه مهال د راډیو او ټلویزیون هم موجود وه او علماوو پیژنده لیکن ټیپ رکارډر دونده عام نه وو یواځې د ځینو اشرافو او معتبرو خلکو کور کي به موجود وو..
او دا تحقیق نه یواځې د پاکستان علماوو سره نه وو بلکې اندونېزیا علماء هم ځیني قاصر ول...
په کراچي ښار کي د مختلفو مسلکونو تر پنځه لکو خلکو د زهرا فونا د امامت پر اقتدا د جمعې د لمانځه سعادت هم حاصل کړي...
د ټولو څخه حیرانوونکې او له خندا صحنه خو دا وه چې دغي ښځي د کعبې لوري ته مخ کړ او د لوډسپیکر مایک یي د نس وخواته برابر کړي او د علماوو او مشایخو په سمول په لکونو خلکو په امام مهدی پسې د جمعي لمونځ وکړي...

ketabton.com - The Digital Library

**او عملاً ټولو د سورت الحجرات دغه مبارک آیات له پامه وغورځاوه چې مسلمانان يي د هر خبر په اړه د باور د مخه په تحقيق مکلف کړي دي**
**بلاخره د کراچي ښار يو سمبر مسلمانو ډاکټرانو مخالفت وکړي او زهره فونا د تالاسي او ملاقات غوښتنه وکړه.**
**ليکن زهره فونا مسلسل د ملاقات او تالاسي څخه انکار کاوه مگر يوه ورځ د ډاوو ميډيکل کالج ډاکټران بريالى سول او د تلاشۍ کرارسته يي د هغي د پښو تر منځ يو پټ ټيپ رکارډر پيدا کړي...**
**هغه د پاکستان څخه په تيښته بريالي او اندونيزيا ته ولاړه هلته ونيول سوه او په زندان کي واچول سوه ، هغي اقرار وکړ چې دا هر څه يي د پيسو او شهرت لپاره کول...**
**ابو محمد خاموش.**
**...**

**مه غوسه کيږه!**

**يوه ورځ د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله کوچنی زوی راووت او له نکرار ماشومانو سره يې لوبې کولې، بل ماشوم د هغه سر ور مات کړ، خلکو دا ماشوم راونيوی (چې د عمر د زوی سر يط ور مات کړي دي) او عمر رحمه الله ته يې راوستي، کله چې عمر د هغه چغې او نارې وارېدې راووتي، دهغه ماشوم مور هم ولاړه وه،ويې ويل:دا يو يتيم هلک دی،عمر بن عبدالعزيز ورته وويل : لږه صبر وکه! بيا يې ځيني  پوښتنه وکړه : ايا ستا ماشوم ته د دولت لخوا ( مياشتنۍ روپۍ) ورکول کيږي؟ هغې وويل:يا!عمر رح (خپلو کسانو) ته وويل: دا ماشوم د يتيمانو په ليست کې وليکئ ( چې مياشتنی معاش ورته ورکړو) د عمر رح ښځې فاطمې وويل: دا دي ولي معاف کړي ، ستا د زوی سر يې در مات کړی دی! بله ورځ به دې د بل زوی سر هم در مات کړي!! هغه ورته وويل: (الله تعالی دي  تاته هدايت وکړي !) دا يتيم دی ااو تاسې خوږمن کړی دی.**
**عمر ابن عبدالعزيز رح لپاره تعجب دی چې په څومره قوي صبر ، استقامت، نرمي او غوره صفاتو يې ځان ښکلی کړی و!**
**کله يې چې د خپل زوی له سر نه د وينو دارې وليدې، هيڅ غوسه نه سو ، نه هم راوپاريده، بلکې ډېر ښه چلند او انصاف يې وکړي او دالله تعالی په دې وينا يې عمل وکړ،چې فرمايي:**
**( وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ )**
**افغان صاحب.**
**...**

**د پيغلې او ځوان قيصه**

ketabton.com - The Digital Library

**يخه شپه ،شپه پخه وه چی د دروازي ټک ټک سو**

**ځوان : څوک یی ؟**

**پیغله اانجلۍ : زه یم ، یوه مسافره یم ، چی ملګرو پریښی یم ، لاره را څخه ورکه ده ، دشپی دتیرولو ځای می نسته که نن شپه د تریدو لپاره ځای راکړئ ؟!**

**ځوان : هله ژر سه راننوزه چی د بهر څخه کوم تکلیف درته ونه رسیږي.**

**اانجلۍ کوټی ته په بیره ورننوتل...**

**هلک ورته سمعه بله کړه اوخپل کټ یې ورته پریښوي، ورته وی ویل: په کټ کی ته بیده سه...**

**زه به دکوټی په هغه بل کونج کی بیده سم ،ځوان کتاب راواخیست ، هلته دکوټی په یوه کونج کی یی د خوب اراده وکړه...**

**تنکي ځوان سره کتاب په لاس کي وو په مطالعه یی ځان بوخت کړي خو ،شیطان یی په مسلسل ډول لمځوی چی د پیغلی**

**دا ځوانی!**

**دا حسن!**

**دا توره شپه!**

**دا یوازی کوټه!**

**د پیغلی اانجلۍ دزړه څخه هم یو الله تعالی خبر دی ، چي پر زړه به یی څه تیریږي ؟!**

**پیغلی ډیره په بیره سره ځان په کمپل کی و پیچي یوازی یی سترګی د باندي پریښودی چی دځوان دحرکاتو څارنه وکړي**

**الله مه کړه هسی نه چی دبدو اراده ونه کړی او عزت ته یی صدمه ونه رسیږی.**

**دځوان نا اشنا حرکات اوغریب اوعجیب تعامل:**

**ځوان تر لږ وخت څخه کرارسته یوه ګوته سمعی ته ونیسي دیو څو دقیقو په نیولو یی ګوته وسوزی ،لږ وخت کرارسته بیا بله ګوته سمعی ته ونیسي ، ان تردی چی پنځه سره ګوتی یي تر سهاره وسوزولی**

**پیغله اانجلۍ فکر کوي چی د کوم پیري سره یی شپه سویده او کیدای سی چی دګوتو په سوزولو کوم خپل زانګړی عبادت ترسره کوي**

**له دی بیري مسافره پیغله تر سهاره بیده نه سوه!**

**ترسهاره نه ځوان بیده سو او نه هم مسافره پیغله...**

**ځوان خپلی ګوتی سوزوي او مسافره پیغله یی په حیرانتیا ننداره کوي**

**چی سهار سو ځوان زخمی زخمی لاس دململ په ټوکره وتړل ، او د پیغلی څخه یی پوښتنه وکړه چی کور دی**

ketabton.com - The Digital Library

**چیری دی ؟**

**تر پوره ادرس کرارسته یی پیغله خپل کورته ورسوله.**

**ځوان ځیني بیرته راغلي...**

**پیغله چی کله کورته روغه ، رمټه اوباعزته ورسیده دالله شکر یی ادا کړی او دځوان تعامل ته د حیرت په**

**ډول دسوچونو په دریابونو کی لاهو سوه . پیغلی خپله کیسه کټ مټ خپل مور او پلارته وکړه خو مور او پلار یی نه منل ؟!**

**بس سم دستي دواړو اراده وکړه چی دخبری حقیقت ځانته معلوم کړي پلار یی دځوان کور ته دتللو تکل وکړ او د یو لیری مسافر په بڼه یی ځان جوړ کړی او د ځوان میلمه سو.**

**ځوان یي ولیدی چی لاس یی لاتړلی دی ،د سوزدلی لاس ټپونه یی لا نه دی ښه سوی ،شپه تیره سوه د ځوان څخه یی سهار دلاس دسوزیدلو دسبب پوښتنه وکړه ؟**

**په جواب کی ورته ځوان کټ مټ خپله کیسه وکړه ،چی یوه شپه داسی یوه پیغله یي میلمنه وه...**

**شیطان به راته دګناه وسوسه اچوله خو مابه ژر ژر ګوته دسمعی اور ته ونیوله او دجهنم اور به می زانته را په یادوي.**

**په دی مقصد چی شیطان رابندی زکرارر نه سی ، تر سهاره می ګوتی ټولی سوزولی وی ،په دی طریقه الله تعالی زه دګناه څخه وساتلم الحمدلله.**

**دپیغلی پلار ورته دخپل کور دورتللو دعوت ورکړي ځوان دعوت قبول کړي خو ځوان پدي نه وو خبر چی سپینږیری مسافر څوک دی ؟**

**کله چی یی کورته ورغلي نو دروغبړ څخه کرارسته یی ورته دخپلی لور دنکاح پیشنهاد وکړي ،ځوان قبول کي دځوان چی اوله شپه سوه پیغله یی وپیژندل چی داخو هغه دګلابو ګل دی ، چی د حسن له امله یی ترسهاره شیطان خوب ته نه پریښودم**

**دا خو هغه پیغله ده چی دمینی اور یی راته د یوه طرفه دننه زړه سوزولی و ، او د بله طرفه یي راته نازک لاسونه سوزولي وه .**

**ځوان هلک دخوشحالۍ سعادت اومزو ژوند شروع کړی.**

**....**

**مېرمنې له وهل خوړلو وروسته خاوند ته وویل**

**ځم او دا ستا شکایت کوم**

**خاوند وویل، څه فکر کوې زه تاته اجازه درکوم چې له کوره بهر وولاړیه ســـې؟**

ketabton.com - The Digital Library

مېرمنې وويل، فکر کوې د دروازو او کلکينانو په تړلو زما د شکايت مخه نيولای ســـــې؟
خاوند په مسخرو وويل، نو ته به چشی وکړې
مېرمنې وويل، اړيکه نيسم
خاوند وويل، ټليفونونه دي زما سره دي، اوس دي چې هر څه زړه غواړي ويې کړه
له دې سره مېرمن تشناب ته ننوته او دروازه يې په ځان پسې وتړله
*خاوند په دې فکـــــر، چې مېرمن يې شايد د تشناب له کلکين څخه *د تېښتې اراده لري، له کوره بهر د تشناب کلکين ته په تمه ســــــو
سېبه کرارسته چې ډاډه ســــــو مېرمن يې د تېښتې اراده نه لري، بېرته کور ته د ننه ســــــو. گوري مېرمن يې اودس کړی او د جاينماز (يعنی مسله) پر لور روانه ده*.
خاوند ته يې وويل، اوس ستا څخه هغه ذات ته شکايت کوم، چې ما يې پر نوم قسم اخستی دی او ستا پر نامه ناسته يم، هغه ذات چې ستا هيڅ راز ، محدوديتونه ما له هغه ستر ذات سره له اړيکي نســــي راگرځولای
خاوند د مېرمنې د دې خبرې سره په فکرونو کې مېرمنې ته ځير دی، گوري چې هغې سجده د معمول خلاف ډېره اوږده کړه او له سلام گرځولو سره يې لاسونه لپه کړل، غوښتل يې دعا وکړي، چې خاوند يې مخې ته کشينستی
خاوند وويل، تر دونده اوږدې سجدې کرارسته ضروری ده، چې په دعا کې هم زما شکايت وکړې*.
مېرمنې وويل، زما په حق کې له خيانت سره سره فکر کوې زه به له دعا څخه منصرفه ســــــم؟
خاوند وويل، په هغه ذات چې تا يې پر وړاندې دونده اوږده سجده وکړه، قسم کوم چې پر تا لاس پورته کول زما په واک کې نه بلکه غير اختياري ول، مېرمنې وويل، په همدې دليل مې لوی رب ﷻ ته ستا په حق کې دعا او د هغه شيطان پر ضد شکايت وکړی، چې زموږ په منځ کې يې جنگ ته لاره هواره کړه، ستا په زړه کې يې د وهلو وسوسه پيدا کړه، زه دونده جاهله هم نه يم چې د خپلې نړۍ ورانولو لپاره د ښېرا لاسونه لپه کړم
خاوند د خپلې هوښيارې او ځيرکې مېرمنې له عاطفې مالامال فکر ته سترگې را ډنډ ســـــــوې، د هغې لاسونه يې مچ کړل او وعده يې وکړه، چې نور به يې لاسونه يوازې او يوازې له خپلې مېرمنې څخه د دفاع او هغې ته دعا له پاره پورته کيږي

خدایﷻ دې ټولو هغو خويندو ته چې ودونه ندی کړی نيـــک اعمال او ايمانداره خاوندانپه نصيـــب کـــــړي

...

دپلار او زوي ښکلي کيسه

ketabton.com - The Digital Library

**یوه ورځ یو پلار د خپل زوی په اوږه باندی لاس کښیښوي  او ورته یی وویل**
**زویه زه به قوی یم او که به ته قوی یی ؟**
**زوی یی ورته وویل چی زه قوی یم**
**پلار یی چی د ۴۵ کلونو په شا او خوا کی ؤ بیا یی د زوی څخه پوښتنه وکړه چی**
**زویه زه به قوی یم او که به ته قوی یی ؟**
**زوی یی ورته بیا وویل چی پلاره زه قوی یم**
**پلار یی د ځایه ولاړ سو او یو څو قدمه مخته ولاړی او له خوابدتیا نه یی یو څو اوښکی تر سترګو توی سوی**
**او د دریم وار لپاره یی د زوی څخه پوښتنه وکړه چی**
**زویه زه به قوی یم او که به ته قوی یی ؟**
**زوی یی ورته وویل چی پلاره ته قوی یی**
**پلار یی ورته وویل زما نا راحتی چی دی ولیده نو ځکه دی وویل چی ته قوی یی ؟؟؟**
**زوی یی ورته وویل یا**
**هغه دوه ۲ واري می چی درته وویل ، چی زه قوی یم علت یی دا ؤ چی**
**ستا لاسونه زما په اوږو باندی پراته ؤه، ملا می د غره په شان کلکه ، مضبوطه او ټینګه وه**
**خو کله چی دی لاس زما د اوږو څخه پورته کړی او روان سوی ، ومی لیدل چی**
**بی له تا ځخه زه هـــــیـــــــخ هـــــم نـــــــه یم**
**پلار یعنی ټول ژوند**
**...**

**االنجلیې ګناهکاره خلک سنګساره وي**

**زړه کې يې سل رقم خبرې تللي راتللي**
**خلکو ته يې کتل**
**د چا لمن له کاڼو ډکه وه د چا یوازې دوه درې کاڼي په لاسونو کې وه، چاته درد ورغلي  وو او ځينو پسې خندل،**
**د لاوډسپيکر ږغ يې ټول فکرونه بدل کړه،**
**ملا صاحب د الله اکبر په نارې د خلکو توجو ځان ته راواړوله بیا يې وویل :**
**زموږ او ستاسو په کلې نن د خدای ج لوی احسان دي**
**چې د الله ج او د هغه نبي ص  آمر پر ځای کو او دا منځ کې ناسته فاحشه ښځه سنګساره وو، ستاسو د هر کاڼي په**
**بدل کې به الله پاک ستاسو ته نیکۍ درکړي، الله ﷻ موږ نارینو ته آمر کړئ چې بد لمنې او زناکاره ښځې**

ketabton.com - The Digital Library

**سنګساري کړئ، دې خبرې سره ناسته ښځه د ګڼو خلکو منځ کې په خندا سوه د ملا صاحب توجه يې ځان ته را واړوله ملا په ډېر بده لهجه وويل: ای د ټول کلي ښځې ( فاحشې ) ولې دې وخندل؟**

**ښځې وويل : ستاسو  پخپلو خبرو کې د راغلو خلکو ته د نارينو خطاب وکي خو ماته په ټولو حاضرينو کي يو هم نارينه  نه ترسترګو کيږي، خلکو حيران يو بل ته وکتل درد او خروش يې دوه براره سو د نکرار کاڼو په راټولو اخته سول،د ښځې په تکرار سترګو کې سپينو اوښکو ځلا وکړه ويې ويل : دا مخامخا ولاړ کس چې تر ټولو لويه ډبره يې په لاس کې ده اوله زنا راسره همده  وکړه، ښځې کيسه وکړه وی ويل زه ددوي د کور دروازي ته ودريدم او  ورته ومي ويل زه څوک نلرم د خدای ج د رضا  په خاطر د نن شپې لپاره ځای راکړه، د هغه ئې کور ودان  ځای يې راکي خو ملا آذان سره زما له غيږي څخه ولاړ سو  او راته يې وويل هله ځه ولاړه سه چې د کلي خلک دې زما د کور څخه  د وتلو په وخت کې ونه ويني، دا ملک صاحب چې نن سور و شين  کيږي کورته  ئې ورغلې وم غوښتل مې د کور نوکره يې سم دا څنګ ته چې ځوان  زوی ئې ولاړ دي او لمنه يې چې دکاڼو ډکه ده همده يوې خوني ته بوتلم او راته ئې وويل چې دغه خونه پاکه کړه ، زه چې دننه سوم دروازه يې راپسې بنده کړه پر سر يې د ټوپک شپيلۍ کښيښنو وله او راته ئې وويل که ژوند غواړې خوله دې بنده ساته**

**بيا يې مخ د ملا  و خواته ور واړوي  ورته ئې وويل :**

**ملا صاحب مسجد ته هم درغلې وم درته ومې وويل څوک نلرم، مسجد به پاکوم فرشونه به يې مبنځم  دمسجد شاوخوا به  جارو کوم د جمعې د ورځې فقر ماته راکوه همدا تا راته وويل چې ورکه سه مسجد د ښځو ځای نه دئ بيا يې د ملا څنګ ته چي کوم کسان ولاړ وه هغوي ته ئې وکتل او بيا په خندا سوه ملا ته يې وويل: ملا صاحب دغو دو نفرو چې زه يې له بازوګانو نيولې وم دلته يې د سنګسارۍ لپاره راوستم يو بل ته يې ويل: څنګه ښه شايسته او نازک شی دی، څخته نرم بازوګان لري، پخپل کلي کې راڅخه وژغورل سوه، کشکی باران وورېږي مشر به ووايې سبا يې سنګساره وو زموږ شپه به ورسره نن ښه تيره سي....**

**اوس ته ووايه ملاصاحب: په دا راغلو خلکو کې کوم يو ئې نارينه دي ؟**

**دملا په لاس کې نيول سوی ډبره  ځيني ولويده بيا يې وويل:**

**بيا څو ګامه مخ ته راغلي او په لاډسپيکر کي وويل راغلو مسلمانانو وړنو ايا په ستاسو کي يو څوک سته چي له دې ښځې سره نکاح وتړي؟**

**ټول خلک سو ګامه شاته سول چا د هو جواب ورنکړی، ملا صاحب د ښځې و مخ ته په ګونډو کښی نستي او وي ويل: هو ته رښتيا وايې دلته په دوي کي نارينه نسته.هيڅ ښځه فاحشه نه وی بلکی دغه ټولنه او خلک يی فاحشا کړي**

**...**

ketabton.com - The Digital Library

## په تار د رواجونو

**د شنــو وښــو دروند پلنډه يې له سره کښته کړه، غټ اســويلی يــې وايستی، په مخ را لويدلی تور وريــښتان يې په پوړني د ننه کړه .**
**د تــېز لمر له امــله يــې خولو په مخ لارې جوړې کړې وې.**
**کرارسته څو ګامونه مخکی ولاړی، غوا ته يې چې کوچني ګبلګی يي څټه، اخــور کې تازه واښه ور واچول.**
**غوا اخور ته نيږدې سوه، د کلا په دروازه يو بوډا سړی را ننوت، اانجلۍ ژر د غوجلې د دېوال سايی ته پټه سوه.**
**بوډا د کوټو ته جوړې چوترې ته رسېدو کې په ډډ ږغ وويل:**
**جانداده مبارک دی سه! يو جګ ځوان له کوټې راووتی، خندل يې، په نا باوري يې وويل:کاکا ټوکې خو به نه کوې؟څنګه راضي سول؟**
**بوډا په ږيره لاس تېر کړي،دا مې ناکه نه ده سپينه کړې!**
**بيا يې لاســونه سر ته پورته کړل، په ژېړه لونګۍ کې يې سمله جګه ودروله،په خندا يې وويل، داسې کيسې دې کاکا ته اسانه دي.**
**شرط مــې ورسره ومنــلــو.**
**هــغــوی را څخه ستا خور خپل زوی ته وغوښته او ما ومنله.اانجلۍ نېژدې وه چــې له خــولې يــې چــغې ووځي، پښې په ريږديدو سوی ، د غوجلې په دېوال ور چپه سوه.**
**يوه ښځه له پخلنځي را ووته، تر شا يې يو دولس کلن ماشوم هم ور پسې وو.**
**ښځې په زوره سپين ږيري سړي ته چيغه کړه، زه مې خپله لور يو نشه يي ته نه ورکوم.**
**رب دې ستا سره.... ،ځوان ښځې ته مــخ کړی، په تندي کې يې ګونځې پيدا سوې، په خشکه (غوسه)يې خبره ور بنده کړه، مورې! ته زما خوشحالي نه غواړې؟**
**په عمر پخه ښځه په ژړا کې ببرته پخلنځي ته ننوته...**
**چوپتيا وه، ليرې د غولي په يو کونج کې چرګې د خپلــو کوچنيو چورګوړو سره د ونې لاندې سايی ته يوځه خوړل.**
**ښه شيبه کرارسته ماشوم د دېوال خــوا ته ګامــونه واخېستل، مخــې ته يــې د يوبنيادم سايه جوړه سوه، لوړ يې وکتل، اانجلۍ وه، په خوشحالۍ يې وويل، لالا ته يې ښځه وکړه.اانجلۍ لکه يــو بې روحه تابوت، چپه ولاړه وه.**
**له غــتــو سترګــو يې کــوچنۍ اوښکې وڅڅېدې، په کرار انداز يې په ژړا کې وويل:**

**لالا مــې خــپل ارمــــان پــوره کــړ!**
**زه يې په تار د رواجو تړلې يمه!**
**پای**

**...**

ketabton.com - The Digital Library

**د قاضي ښځې سره زنا!**

**یو محصل د «قضاء» څانګه کې درس ویلي ، یوه ورځ کور ته راغلی چې، ګوري ښځې سره یې یو کس په بدلمنۍ (زنا) اخته دی...**

**هغوی چې کله قاضي ولیدي؛ نو داسې و بیریدل لکه؛ دآسمانه څخه چې تندر پر رالوېدلی وي...**

**قاضي، سړي ته وویل: جامې دې واغونده...**

**سړي ورته وویل: په الله قسم چې دې ښځې زه پرځان ګرم کړم!**

**قاضي ورته وویل: جامې دې واغونده، الله دې په تا پرده واچوي!**

**نور یې له کوره وویستي، حال دا چې زړه کې یې د غوسې اور بلیده ؛ خو الله تعالی ته یې صبر وکړ...**

**سړی چې کله بهر ولاړی؛ نو یوه خندا یې وکړه، چې نن خو بچ سو، یا او په هغه تقواداره قاضي پورې یې خندل...**

**قاضي جواب کې «حسبي الله ونعم الوکیل» وویل، او زړه یې له درده سم تنور و؛ څکه انسان غواړي چې، مړ سي خو داسې تماشه ونه ویني .**

**بېرته ښځې ته راغلي ، او ورته یې وویل:جامې او اسباب دې سره راټول کړه چې، د پلار کره دې بوځم.**

**ښځې یې ژړا شروع کړه چې، ما وبخښه، شیطان دوکه کړم، او بس ډیرې کیسې یې وکړلې...**

**قاضي چپ کښیناستي، ترڅو چې ښځه چپ سوله...**

**درې (۳) طلاقه یې ورکړل او بیا یې ورته وویل:**

**الله تعالی دې پر تا پرده واچوي، حسبی الله ونعم الوکیل...**

**له خپل کور څخه ۳۰۰ کیلو متره واټن مزل وروسته یې د خسر کور ته ورسوله.**

**هلته له رسولو څخه وروسته یې ورته وویل:**

**الله دې په تا پرده واچوي، له هغه الله څخه و بیریږه چې، تا ویني او بیا هم له پراخه دروازو څخه روزي درکوي ...**

**ښځې ورته وویل:**

**ریښتیا هم زه د ستا په څیر میړه لایقه نه وم، نور یې په چغو شروع وکړه او خپل مخ ته یې چکې ونیولې.... سړي بیا هم هغه خبره ورته وکړله او نور ولاړی.**

**قاضي وایي:**

**کلونه تیر سول، تر دې چې د پوهنتون څخه فارغه سوم؛ خو نور مې خپل وطن ته تللو لپاره هیڅ طبیعت نه جوړیدي، سره له دې چې زیات کلونه تیر سول؛ خو د هغه سړي له سپکاوي ډکه خندا مې نه هیریدله...**

**بل وخت قاضي بل واده وکړي، اولادونه یې پیدا سول، او له فراغت وروسته محکمه کې قاضي مقرر سو.**

ketabton.com - The Digital Library

**نوي ښځه يې ډېره ښه ښځه وه، د قاضي لپاره يې دونده کوښښ وکړي چې، بې حده ډېر...**
**قاضي وايي چې، الله پاک بدل کې داسې ښځه راکړله چې، هيڅکله مې يې سوچ نسو کولای، په پوره معنا لويه ښځه وه.**
**قاضي د کار تر څنګ په سبقونو کې مخته ولاړی، او اسلامي قضاء کې يې دوکتورا واخيستله.**
**نتيجه کې جده کې د سترې محکمې قاضي سو.**
**قاضي وايي: هر لمانځه کې به مې الله ته سوال کوه چې، هغه پيښه مې له مغزو وباسي؛ خو بس چې هر کله به مې کوم کس په خندا وليدي؛ نو هغه زناکار به راياد سو؛ خو اعوذ بالله العظيم من السيطان الرجيم به مې وويل...**
**قاضي کيسه کوي چې: يوه ورځ يوه دوسيه راغلله او ماته رامخته سوه، قضيه د قتل وه.**
**دلته نو زما د هغې دعا «حسبی الله ونعم الوکيل» نتيجه وه.**
**دا مجرم همغه کس وه چې، زما کور کې مې پر زنا ليدلی و، اوس يې يو کس وژلی و، او په ځنځيرونو تړلی يې راوستی.**
**کله چې يې زما مخې ته راوستي؛ نو سړي کيسه شروع کړه چې شيخه! زه الله ته پنا وړم او بيا تاته.**
**قاضي ورته وويل:**
**دلته يې څنګه راوستلی يې او څه ستونزه دې ده؟**
**سړي وويل:**
**خپلې ښځې سره مې ځای کښې بل سړی وليدي؛ نو مړ مې کړي.**
**قاضي وويل:**

**ولې دې داغسي نه ايله کوي او دا به دې ورته ويلي وای چې «الله دې درباندې پرده واچوي»؟**
**سړي وويل:**
**اې شيخه! آيا په داسې وخت کي ته خپل ځان کنټرولولای سي ؟**
**قاضي وويل:**
**هو، ځان کنټرولولای سم ، او بس يوازي به دونده ووايم چې، حسبي الله ونعم الوکيل..**
**سړی حيران سو او ويې ويل:**
**داسې خبره خو مې مخکې هم اوريدلې وه.**
**قاضي وويل:**
**هو، تا داخبره له ما هغه مهال واوريدل چې، کله دې زما کور کې زما ښځې سره خيانت وکړي او له کوره زما وتل دې غنيمت ګڼل.**
**بس زما ښځې پسې وې تر دې چې، زنا ته دې تياره کړې وه.**

ketabton.com - The Digital Library

**آیا تاته په یاد دي چې، ما پورې دې خندل او ما درته وویل چې، الله دې ستا پرده وکړي. تر دې چې راځخه پناه سوې او له غوصې مې سینه کې اور بل و؟ هو، الله تعالی تاته وخت درکړي؛ خو ته په ګناه کې نور هم غرق سوي تر دې چې، الله درځخه د قصاص اراده وکړه.**

**په لوی الله مې دې قسم وي، زه پوهیږم چې تر هغه چې ته ژوندی یې زما به دغه حالت هیر نه سي.**

**قاضي بیا لږ ساعت چپ سو، چپ و.**

**بیا یې سړي ته وویل:**

**که دي د مقتول وارثان درته بخښنه وکړي؛ نو زه هیڅ نسم کولای. زه اوس دونده کولای سم چې، د الله پاک د شریعت حکم درباندې جاري کړم.**

**سړي وویل:**

**په دې پوهیږم؛ خو له تا څخه یو شی غواړم.**

**قاضي وویل: څه غواړې؟**

**سړي وویل:**

**دا غواړم چې راته بخښنه وکړې او د رحمت دعا راته وکړې. هو، ما د شیطان ومنله، او دا حالت زما له جزا ډیر کم دی.**

**الله ښه پوهیږي چې، تاته دې ښځې څه وویل سم وه، همدا زه وم چې په مختلفو لارو چارو مې ستا ښځه بې لارې کړله.**

**هره لاره چې به ناکامه سوه؛ نو بله شیطاني لاره به مې ونیوله، دا ریښتیا دي.**

**کاش تا هغه وخت زه وژلی واي او ما مې پخپله ښځه په هغه حالت نه وای لیدلې...**

**قاضي وویل:**

**الله تعالی دې تاته دنیا او آخرت کې بخښنه وکړي!**

**له دې وجې مې د مقتول کورنۍ ته وویل چې، کوښښ وکړئ دا سړی په دیت ورکولو له قصاصه وژغورئ؛ خو د الله تعالی حکمت له هر څه پورته دی، الله له سړي څخه د انتقام اخیستلو اراده کړې وه.**

**ګرانوورونو!**

**له دې کیسې څخه ډېر عبرت اخیستلای سو، هوښیاران وایي: د بل دروازه مه وهه په نوک، ستا دا به ووهل سي په سوک؛ نو هر څوک چې د بل پرده څیرې کړي، الله به یې خامخا پرده څیرې کوي.**

**امام شافعي رحمه الله ویلي:**

**زنا پور ده! نن ته دا پور اخلې، سبا به یې ستا مور، خور، لور یا ښځه دغه پور ورکوي کوي.**

**په هر ګناهګار الله تعالی اول پرده اچوي چې، کیدای سي سړی توبه وباسي او بیا ګناه ونه کړي؛ خو دریم ځل یې رسوا کوي. او که په رسوایی هم سم نه سو؛ نو بیا یې د پورتني سړي په څیر هلاکوي.**

**که په چا ظلم وسو او دا دعاء یې وویله «حسبي الله ونعم الوکیل» نو د مظلوم شکایت به د الله تعالی په وړاندې**

ketabton.com - The Digital Library

**ورسيږي، او ظالم به خامخا جزاويني ، الله تعالی ظالم ته وخت ورکوي چې، توبه وکاږي تر دې پورې چې، کله يې بيا راونيسي؛ نو نه يې پريږدي.**

**انسان بايد تل د بل مسلمان پرده وساتي، که چا د يوه مسلمان پرده وکړه الله تعالی به دده پرده وکړي، لکه څنګه چې، رسول الله ﷺ فرمايلي:**

**او چا چې، د کوم مسلمان (د عيبونو يا ستر) پرده پوښي وکړه؛ نو الله تعالی به په دُنيا او آخرت کې دده (د عيبونو يا ستر) پرده پوښي وکړي. (رواه مسلم(**

**الله تعالی دې ددې واقعې په ټولو پندونو د عمل کولو توفيق راکړي، او الله پاک دې هيڅ مسلمان ته داسې مشکل نه پېښوي**

**...**

## هغه ليک چې سخت يې وژړولم

**شپاړس کاله مخکې مې د پلار سره خوشکه وکړه ماپښين مهال و مور دواړو يو بل ته تيزي حبري وکړې ، زه ځوان وم کني دا مسله دونده جدي نه وه چې خوا مې په بده سوې واى بس ناکې احساسات مې پر عقل غالبه وه نه مې غوښتل چې د پلار له جوابه پاتې سم ؛ پلار مې هم زما په ډول جدي،انديښمن ،سودايي و او زړه يې ډېر نازک و له زينو په تراټ راغلی او ښه کلکه چپلاخه يې پر دا مخ کش کړم په هزارګي ژبه راته له غوسې سور سين واوښتي په رپږدېدلي لهجه يې راته وويل چې( د تمام آغيل يک باچي نيه که د مقابل آته خو مثل تو ورى ايستاد سونه) يعنې په کلي کې ستا په ډول سپين سترګی مې نه دی ليدلی چې خپل پلار سره ژبه چلوي او دپلار پر وړاندې ودرېږي.**

**همدې چپلاخې ،همدې خوابدی او همدې جنګ زما پر مخ د برخليک نوي لاره خلاصه کړه نور مې هېڅ ونه وېل ، د شپې ناوخته لاندې خونې يعنې زيرخانې ته کښته د پلار صدرى مې پر ديواله راځړېدلی وه د پلار جيبونو ته مې لاس ورننه ايستې دقيق مې حافظه کې نه دي پاتې چې څومره نغدې پيسې وې خو دا مې ياد دي چې دهمدې ورځې په سهار يې پسه خرڅ کړی و دپلار له جيبونو مې هرڅه را واخيستل د ملا د اذان د مخه تر کور را ووتم همداسې روان وم ، کور را څخه سوکه سوکه ليرې کېدی بيا کرارکرار د کلی څخه پناه کېدم له کوره ليرې سوم ،د کورنی هم فناه سوم بالاخره د ښاره هم ووتم په هغو لارو مې سترګې ښخې سوې چې کلونه وړاندې مې پلار پرې تللی د ايران زاهدان،تبريز او اصفهان ته ورسېدم نه پوهېږم چې زما له تېښتې وروسته به مې پر کورنی کمې ورځې راغلي وي.**

**په دې هم نه يم خبر چې د کور کلي پر وړاندې به مې کورنی څومره سپکه سوې وي ؟په دې هم خبر نه يم چې**

ketabton.com - The Digital Library

پلار به راپسې څومره ځایونه کتلي وي ؟څومره ناکراره شپې به یې له اندېښنو رنې تېرې کړې وي ؟خدای خبر چې مور به راپسې څومره د زوره زړه خوړلی وي ؟خو ددې تېښتې د نفسګیره داستان زور یوازې ما حس کولای سو.

احساساتي ځوان وم او تجربه مې ډېره نه وه د همدې نه باور او سرتمبګی له مخې مې مسیر نه و معلوم بس ځان سره مې منلې وه چې (ځم چې هرځای ته ولاړم ) څلورکسیزه کورنۍ مې درلوده ؛ دې کورنۍ کې زه وم ،مور مې وه، پلار مې و او یوه لس کلنه خور مې وه چې مرجان نومېده.

د ژوند د زړه تنګون په سختو لارو کې مې ټول هېر کړل خو کله کله به مې د مور خبره سترګو ته ودرېده چې راته به یې ویل :زویه د پلار پر وړاندې دې ږغ مه پورته کوه .

تر ټولو زیات په مور پسې خفه او خوابدی وم.

له دې کسمشکونو پینځه کاله تیر سول داچې له ټولو خفه وم ددې سترې کلونو په اوږدو کې مې دخپل د کورنۍ هېڅ غړې سره هېڅ ډول اړیکه نه درلودله په یوه ګوښه ځای کې یوه کارخونه کې مې د غالۍ اوبدلو کار پېل کړ دځان ،وطن او کورنۍ په هکله مې چاسره بحث نه کاوه نه مې کورنۍ ته د ډاډ لپاره کوم لیک ولېږه ان له خپلو قومیانو مې ځان پټوي . هلته چا نه پېژندم؛ څوک نه پوهېدل چې زه څوک او له کوم ځایه راغلی یم. ښایي کورنۍ مې هم منلې وي چې زه نور ژوندی نه یم ؛ ښایي د دوی زړونو کې زما لپاره کوم ځای نه و پاتې ځکه دوی هم څوک نه و پوښتلي چې محمد چېرې او څنګه دی ؟

بیا به مې هم ځانته ویل: یا، یا داسې نه ده زه د مور نازولی زوی وم ، په پلار هم ګران وم ځکه زه یې یوازنی نارینه اولاد وم زمونږ ټولنه کې د زوی لرل د بقا او پایښت په مانا ده ځکه چې څوک زوی نه لري دهغه مال میراث وي. خور راته د یو نهال امید درلود چې سختو ورځو کې د دې نیالګي سایې ته به پناه راوړي .زما د تېښتې پېښه یو تصادف و چې ما یې اټکل نه و کړی. ددې ذهني کسمکسونو سربیره مې ځان هماغسې په ضد نېولی و.

نه مې غوښتل له کورنۍ سره کومه اړیکه ولرم او نه هم ددې لېوال وم چې څوک مې احوال وپوښتي.

پینځه کلونه مې په یوازیتوب کې تیر کړل، نه پوهېږم چې ما مې پلار ته ولې دونده زجر ورکړ نه پوهېږم ما له هغه د څه سي غچ او انتقام اخیستل غوښتل؟ او ولې مې زړه د کینې له اوره داسې ورته پړسیدلی و ؟

په دې کلونو کې مې یوه ورځ زړه ښه نه کړ چې یوازې همدونده وایم چې پلاره ژوندی یم ؛ موری زه دلته یم او زه ښه یم. بس هم دغه ویلو ته مې خوله نه جوړېده ؛ څومره معصومانه ضد نیولی وم چې مې خپل پلار ته دا ډول زجر ورکړ. یو وخت د اروپا لارې اسانه سوې د کډوالو د یوې څپې سېل په اروپا ورمات سو چې زه هم ددې کډوالو یوه برخه وم ددې لوی سفر موزې مې کلکې پښو ته واچولې له یو اوږده مزل وروسته د اروپا په دروازو ور ننوتم ایټالیا ته ولاړم او هلته راته د هغه ځای تابعیت راکړل سو. د یو انسان په توګه مې درناوی وسو. نوې لارې او نوې ارزوګانې مخ ته راغلې، نوي خلک مې ژوند ته راغلل؛ په دې رنګین ښار کې مې هغه له خټو د جوړ کور رنګین رنګ ونه لید، د مور ،پلار او خور هجر راته ژوند خورا بې رنګه او پیکه کړی و. څه وخت له همدې رنګین ژونده ستړی سوم د مور ،پلار او خور یاد زما په هوساینو سیوری غوړولی و ، نه پوهېدم چې هغوی به چېرته وي مرجان به اوس ځوانه وي هغه به څنګه وي ؟کورنۍ به مې ښه وي کنه ؟همدې اندیښنو په مخه کړم اوس مې د هغه عقدې

ketabton.com - The Digital Library

اور سوړ سوی و نور مې له کورنۍ او خپل قومه کرکه نه کیده.

هرڅه مې هېر کړي وه دا هېرول هلته شوني سول چې زه یوې بلې ټولنې ته ننوتم او په یوې بلې ژبې ږغېدل مې شروع کړل او بیا کله چې د یو کال بېلتون پر جریان کې دې څوک دیوې شېبې لپاره په زړه را ونه ګرځي نو طبعاً دوی ستا لپاره مړه دي ؛ یوه ورځ چا وپوښتلم چې افغانستان کې دې کورنۍ شته؟ نو بې له ځنډه مې ووېل چې نه ؛ نه یې لرم. یوه شېبه مې سر ګرېوان ته کښته کړ ځان سره مې ووېل :هو وطن کې کور او داسې معصومه کورنۍ لرم چې ډېر بې باکه او احمقانه ډول مې یوازې پرېښودل. او بیا مې دوی هېر کړل هېڅ مې ددوی په حال فکر ونه کړ چې دوی به څنګه وي څه حال به یې وي ؟

بله ورځ کار ته ووتم ژوند همداسې تېرېدي  لکه سړی یوازې په دې دنیا کې خپل دځان لپاره فکر کوي د بل چا هېڅ اندېښنه ونه لري. همدې بې تفاوتۍ کې شپې او ورځې تیریدلې چې تېر کال زما د تېښتې او فامیل سره زما د اړیکو د له منځه تللو پینځلسم کال پوره سو ؛ یو سهار مې دخپل د خونې ځړېدلې پردې راپورته او تر کلکین مې د باندې کتل چې زه یې د تېر ژوند ،کور او فامیل خاطرو ته یوړم کتل مې چې ماشومان د باران تر شبنمي څاڅکو لاندې لوبې کوي مور او کورنۍ مې سترګو ته ودرېدل ددوی د یادونو دطوفان هجوم مې خونې او زما ژوند کې غوغا ګډه کړه. یوه ورځ د اسمان لمن وریځو پوښلې وه د باران پاسته څاڅکي را ورېدل او د ونو پاڼې ورته نڅېدې دباران همدې څاڅکو لاندې یوه کورنۍ چې مور ،پلار او اولادونه وو په لوبو اخته وو باران دڅو شېبو لپاره ذهنا خپل کلي ته یوړم او هلته یې خپل د ختین کور ددیواله ته یوه شېبه همدې تصور کې وم چې زه د خپل خړ کور خواته د باران څاڅکو ته ولاړ یم کله مې مور ته ږغ ور وکړم او کله خپلې خور مرجان ته نارې وهم او په دې سره مې ژړا ونیسي. دا له معجزې کمه نه وه چې له پینځلس کلونو وروسته مې دکورنۍ د مینې طوفان په زړه را ننوت ، زړه او ذهن مې کلي کې و خپلې کورنۍ پسې زړه تنګون سخت پسې را اخیستی وم؛ په هغه ورځ له کوره ونه وتم کار ته هم نه ولاړم ؛ ټوله ورځ مې وژړل او ښه په چیغو چیغو مې وژړل سر مې له دیوال سره وجنګوي او هرڅه راته څرخیدل د ژوندون ټولې خاطرې مې له سترګو تاوېدې د کلي ډېرو او لرګیو پسې خفه وم دکلي هغه ختین کورګی مې ذهن میخ و او پلار به مې همیشه دهمدې کورګوټي په زینه ناست و او ماته به یې خوشکې کولې بیا به مې مور را غبرګه کړه چې هلکه پلار سره دې خبرې مه اوړده وه .

زما ذهن سوال سوال و او همدې پوښتنو پسې را اخیستی وم چې وخت یې نه دی چې باید کورته ولاړ سم ؟ ایا ما بد نه دي کړي ؟ ایا شوني ده چې کورنۍ بد حال کې پرېږدم او بې چورته ژوند وکړم؟ددې پوښتنو په جواب زه هم نه پوهېدم په دوېمه ورځ ولاړم وطن ته د تګ لپاره مې ټکټ وکړی اوس همدې فکرو کې یم چې زما تګ منطقي دی ؟ کورنۍ پسې زړه تنګون مې تش احساسات دي که یا؟ د پرواز شېبې ډېرې سختې وې خو ما خپل نهایي تصمیم نیولی او اراده مې درلوده چې څومره ژر کېږي باید ولاړ سم او له پلار څخه مې د احساساتي چلند بخښنه وغواړم ، با وجود ددې چې ډېر بد انسان وم ، دونده عمر مې په ضد ،بې رخۍ او یوازېتوب کې تېر کړ له ټولو مې لاس اخیستی و ددې ټولو سربېره مې صبر ونه سو چې کابل ته ورسېدم شپه تر شپه مې ټکسي ترخپلې سیمې د شهرستان ولسوالۍ پورې کرایې کړه او له چلوونکي سره مې تر خپل کلي خبره وکړه او بیه مې ور سره خلاصه

ketabton.com - The Digital Library

کړه ؛ کړی شپه مو سترې مزل وکړی سبا ماپښین ورسېدو زموږ د کلي بڼه هغسې نه وه څنګه چې پينځه لس کاله مخکې زه ترې را وتلی وم ، ترې ولاړم او تری تم سوم او بیا مې هېڅ ترې خبر نه درلود.

د کلي بڼه بدله وه ، خلک په کښې بدل وه زلمیان اوس دپاخه عمر خاوندان سوي وه او د پاخه عمر خاوندانو د ژړښت په درشل ولاړ وه او دهغه وخت عمر خوړلي ټول په ابدي مرګ تللي وو ، کله چې موټر کلي ته رانژدي سو نو چلونکي ته مې ووېل: هغه څنډې خواته ولاړ سه ، هغه څو ونې چې درته ښکاري هغه څنډې ته ختین کور زموږ کور دی. زموږ د کور شاوخوا زاړه کورنه نړول سوي وه پرځای يې نوې ودانۍ ودانې وې چې له امله يې زموږ دکلي بڼه يوځه بدله برېښېدله خو يوازې زموږ د غربت جونګړه په خپل حال ولاړه وه بادونو او بارانونو خوړلي ديوالونه ، د کلکینانو اسماني رنګ او زما د ماشومتوب میل هماغه په پخواني قامت ولاړه و کله چې د موټره را کښته سوم خلکو لیدلم خو چا نه پېژندم ؛ څېره مې بدلون کړی و خو زما همزولی نسل تر ما پاخه ښکارېدل د وطن سختو ورځو يې پر څېرو ژور اغېز درلود.

دسختو حالاتو تراژېدۍ يې په څېرو کې له ورابه مجسمې وې .زما پوستکی لس کاله هوسا ژوندانه ځوان ساتلی و. په هر حال ما هم څوک نه پېژندل پیاده روان سوم چلوونکي ته مې وويل چې زما غوټې راپسې را واخله. هغه غوټو کې مې يو څه ډالۍ او سوغاتونه خپلې مور ،خپلې يوې خور مرجان ته را اخيستي وې او خپل پلار ته مې هم ځان سره ځيني سوغات راوړل دهغه قهر او غوسه مې هېره وه د کور په غولي چې را ننوتم يو ناتوانه او کمزوری سپين ږيری په برنډه کې ناست دی؛ وجود يې خپله سيکه بايللې غټې عينکي يې اينښې وې د ږغ اورېدو ګوشکي يې په غوږونو کې اينښې وې چې تارونه يې لاندې پراته وه.خواته يې ورغلم ؛ پام يې راته نه وو ښه نږدې سوم چې ګورم پلار مې دی آه څومره کمزوره سوی و...

ور وه مې ځغستل پر لاسونو يې پريوتم لاسونه مې ورته مچ کړل، غاړه مې ترې تاوه کړه ، زما چیغو اسمان کوڼ کړ فضا زما د چغو د اورېدو څخه ډېره ناتوانه وه پر مخ مې مچ کي په غېږ کې مې ټينګ ونيوه او په ژړا نيولي ږغ مې وويل: بابا محمد یم!

خو بابا مې هېڅ عکس العمل ونه ښوې ښايي ؛هغه نور د ليدلو او اورېدلو ځواک له لاسه ورکړی و خو زه يې هماغسې په غاړه کې پروت وم ژړا مې نه درېدله زه يې ځای ته نه یم راوستلی ، همداسې چپ او بې تفاوته ناست و. راسره ونه ږغيدی زما په راتګ نه خوښ و او نه خوابدی سو، همدې حال کې يوه ښځه دزينو څځه را کښته کيدله ما فکر وکړې ښايي مور مې وي خو زما اټکل ناسم وختي بلکې هغه سترې ستومانه او تازه له کاره را غلي وه ياده مېرمن مې خور وه چې لستوڼۍ يې راپورته کړي وه زاړه کالي يې اغوستي وه غربت يې څېره سوزلي وه چې ماته مخامخ سوه يوه ناترسه چيغه يې له خولې ووته او بېرته يې د زينو پر طرف وځغستل چې خواته يې ورغلم ومې نه پېژنده ښه ډېر ورته متوجې وم خو دا هماغه يوه او نازولی خور مې وه چې زما ناځوانيو د غربت د تناره لمبو ته پرېښې وه .مرجان خبرې نسواى کولاى ټول بدن يې لړزېدي ، دخپل د پوړني څوکه يې د غاښونو لاندې ټينګه نيولې وه او اوښکې يې همداسې بې ااختیاره د سترګو له کاسو ورېدې غېږه مې پر را وګرځول د مرجان چيغو مځکه او اسمان لړځول غوښتل يې دپينځلسو کلونو پر دردونو راته وژاړي ، غوښل يې د پينځلسو کلونو پر بې

ketabton.com - The Digital Library

**وسي او بې کسي راته وژاړي ، غوښتل يې د پينځلسو کلونو انتظار او ناهيلو درد راته وايي ، غوښتل يې چې زما د بې رخيو او ناځوانيو حال راته ووايي خو ژړا نيولې مرۍ يې نه پرېښوده يوازې يې دونده ووېل د بابا سترګو درپسې ديد پرېښودي ، غوبرونه يې زموږ ساندو کاڼه کړل ، تېرکال مور هم مړه سوه مور مو نېستۍ ، ناامېدۍ او غربت مړه کړه بيا يې چيغو فضا ولړوزوله زما ذهن کې دقيامت جرس ږغيده د خور چيغو مې زما ذهن کې انګازې کولې هغه پر حقه وه.**

**مرجان په يوازې ځان ډېر درانه غمونه ګالل هغې نفقه ګټله د مور له خوږو تر درمله يې هرڅه برابرول د کوڼ او نابينا پلار پالنه يې کوله د خپل د ورک ورورد وير بار يې پر زړه بار کړی و ، مرجان د کور اخرنۍ اميد وه چې مځکي يې کرلي د خلکو فصلونه يې ريبل کورنۍ ته يې يوه ګوله ډوډۍ برابروله . ددې ټولو تراژيديو سايه يې پر څهري غوړېدلی وه د هغې چاودې او سوزيدلي مخ هرڅه ويل د هغې له پرې سويو ګوتو او تڼاکو لاسونو دردونه څڅېدل.**

**زه راغلم خو هرڅه هغسې نه و؛ زه ډېر ناوخته راغلم.....**

**...**

ketabton.com - The Digital Library

## ماخذونه

**قرآنكريم**
**ترمذي شريف  ص ۳۸۵۰**
**صحيح البخاري ص ۵۰۶۰**
**صحيح المسلم ص ۲۸۳۲**
**هيله سكون**
**حقمل صاحب**
**فتحالباري ۲/۹۲**
**الاستيعاب في معرفة الاصحاب**
**كتاب البخلاء**
**شمس الحمن شمس**
**سيداحمد سعادت**
**سيرت و تاريخ امام ابوحنيفه ص ۱۲۵**
**انجينر محمدالله نوري**
**اسدالله صميم**
**ابو محمد خاموش**

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*